# د افغانستان دبحران سیاسی حل

دکتور فاروق أعظم

دافغانستان د مطالعاتو د مرکز مشر

او

د لندن په پوهنتون کې د اوبو د کشالو د څېړونکې ډلې غړی

مئ ۲۰۰۹

لندن

www.hewad.com

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست


| موضوع | مخ |
| --- | --- |
| سریزه | ۳ |
| د افغانستان امنیتي وضعه | ۶ |
| ملي فوج او ملي پولیس | ۱۷ |
| د دولت مشروعیت | ۱۹ |
| د دولت په لوړه سطحه کې رشوت او اداري فساد | ۲۸ |
| په افغانستان کې د مخدره موادو تولید او تجارت | ۳۳ |
| په افغانستان کې د بهرنیو مرستو مؤثریت | ۳۸ |
| د افغانانو د اقتصادي حالت څرنګوالی | ۴۲ |
| ایا د خارجیانو حضور په افغانستان کې افغانانو ته ګټور دی؟ | ۵۲ |
| د امریکا نوی جمهور رئیس باید د افغانستان په باب څه وکړي؟ | ۶۴ |
| د افغانستان د جمهوري ریاست لپاره به څوک مناسب وي؟ | ۶۷ |
| څه باید وسي چې افغانستان د رواني فاجعې څخه خلاص سي؟ | ۶۸ |
| د پای خبري | ۶۹ |
| د افغانستان د بحران سیاسي حل | ۷۷ |


www.hewad.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

إن الله لا يغير ما بقوم حتى يغيروا ما بأنفسهم (صدق الله العظيم)

والتكن منكم أمة يدعون إلى الخير يأمرون بالمعروف وينهون عن المنكر واولئک هم المهتدون (صدق الله العظيم)

ما امریکا ته په رسمي دعوت د ۲۰ مئی څخه تر ۹ جون ۲۰۰۸ سفر وکړ. په واشنګتن او نیویارک کې مې مختلف امریکائي مقامات ولیدل. په واشنګتن، ویرجینیا، لاس انجلس، سانفرانسسکو، شیکاګو، میشیګن او نیویارک کې مې تر زرو ډیرو افغانانو سره خبری وکړې. هغوی ټولو زما څخه د افغانستان د بحران او د دغه کړکیچ د حل په باب پوښتنې وکړې. افغانانو غوښتل پوه سي چې ما د افغانستان په باب امریکایانو ته څه ویلي دي او د افغانستان په باب د امریکایانو نظر څه وو؟ ما افغانانو ته خپل د مذاکراتو لنډ معلومات وړاندې او سؤالونو ته مې ئې جوابونه ورکړل چې مختصر راپور یې وطنوالو ته پر خپل وخت د کتاب په شکل وړاندې سویدی*.

د دې لنډ راپور د وړاندې کولو موخه داوه چې وطنوال پوه سي چې ما امریکایانو ته چې اوس یې افغانستان په لاس کې دی زموږ د ګران وطن اوضاع څنګه تشریح کړیده؟ ما هغوی ته یوازې د افغانستان په ارتباط پیښې مشکلات ندي ویلي او یوازې مې انتقادونه ندي کړي بلکه د حل بارز نکات مې هم ورښوولي دي.

---

* د افغانستان د کړکیچ د حل لار، اګست 2008، د دانش مؤسسې چاپ، پېښور - پاکستان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



راسئ دلته دهغه راپور یوه برخه رانقل کړو. کتاب د سؤال او جواب په شکل لیکل سوی دی. که دیو سؤال جواب ډیر اوږد درته معلوم سو د هغه علت دادی چې ما ددغه جواب یوه برخه په یوه مجلس کې ویلې ده او نورې برخې یې په نورو مجلسو کې، دلته مې د کار د اسانئ لپاره دعین یا مشابه سؤال ټول جوابونه چې په مختلفو مجالسو کې مې ورکړي یا تشریح کړیدي تر یوه جواب لاندې راوستیدي. پدې جوابونو کې د اسې نکات سته چې زما ندي او ما له نورو مې اقتباس کړی او دخپل استدلال دتقویې لپاره مې راوړیدي. ځینې معلومات او په تیره بیا د کتاب پایځوړ مې وروسته ددې کتاب د لیکلو په وختکې ورزیات کړیدي.

ددې لیکنې اصلي هدف دا وو چې هرڅوک و افغانستان ته ورپېښ مشکلات تشریح او څیړي خو دحل لار یې نلري او یائې نه وائي. دلته ما دمشکلاتو ترتشریح او دمرض ترتشخیص وروسته دحل لار او دواء هم وړاندې کړیده چې کیدای سي پرهغه غور وسي، اصلاح سي او بیا دکار خلک پیدا او پر ولاړ سي. کار باید له یوځایه پیل سي او ما لدغه ځایه پیل کړ*.

---

* دامریکا ترسفر وروسته مې افغانستان، پاکستان، سعودي عربستان او دوه واره اروپائي هیوادونو (ناروې، سویدن، دنمارک، جرمني، هالیند، بلجیم او فرانس) ته دافغانستان دبحران دسیاسي حل دپیدا کیدو په منظور تیر یوکال سفرونه وکړه. په زرو افغانان او غیر افغانان مې دمتخاصمو ډلو دمشرانو په شمول ولیدل. ددی سفرونو جریان ددې کتاب په پای کې راغلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعاء کوم چې الله پاک عزوجل زما دا وړوکی تلاش پخپل دربار کې قبول او هغو کسانو ته چې د افغانستان لپاره په سیاسي حل پسې ګرځي دا نسخه او فارمول ګټور او د مخلصو افغانانو د راټولېدو لپاره یو منبر او پلتفورم وګرځوي.

په پای کې زه د وطن د دوه دردمنو ځوانانو، ښاغلیو حفیظ الدین پیرزاده او مقبول احمد ننګ، ډېره مننه کوم چې هم یې زما د سفرونو په وخت کې زما خدمتونه وکړه او هم یې د دغه کتاب په ترتیب او چاپ کې مرسته کړیده.

امین وماذلک علی الله بعزیز.

دکتور فاروق أعظم

www.Tewad.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی سؤال چې هرچا کاوه هغه دا وو چې د افغانستان امنيتي وضع څنګه ګورئ؟

جواب: ترشپږ کاله ډير وسوه* چې نړيواله ټولنه ونه توانيده چې د افغانانو د باور او ملاتړ پربنسټ داسې افغان ملي فوج جوړ کړي او تر اوسه هم امريکايان او ناټو پخپل سر ببله دې چې پر افغان فوج اعتماد وکړي او حتی هغه خبر کړي د مخالفينو پخلاف نظامي عمليات او بمبارد کوي. حتی د مخالفينو په باره کې د معلوماتو په راټولولو کې هم پر افغان اردو او پوليسو اعتماد نکوي او خپل ځانته استخباراتي لارې لري. په دغسې عملياتو، بمباريو او نيونو کې اکثره عام ولس ته تاوان رسيدلی دی، لارويان وژل سويدي، ودونه او جنازې بمبارد سويدي، ښځې او ماشومان مړه سويدي، بيګناه خلک بنديان سويدي، زوريدلي دي، مړه سويدی، مالي تاوانونه ور رسيدلي دي، بيعزته سويدي او مهاجرت ته اړ سوي دي.

دا ټول هغو کړنو ته ورته دي چې روسانو د خپل اشغال په وختکې د مجاهدينو د ځپلو په منظور کول. څرنګه چې هغه تاکتيک کارورنکړ او ټول ملت يې د روسانو پخلاف راوپاراوه، د امريکايانو او ناټو او سنۍ پاليسي به هم بريالۍ نسي. دا ځکه چې دا د خلکو د زړنو د لاسته راوړو لار نده بلکه مخالفين نور هم تقويه کوي. دا امنيت د خرابۍ يو مهم عامل هم دادی.

---

* هغه وخت د امريکا لخوا دافغانستان د اشغال شپږنيم کاله تير سويوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالبانو ته د القاعده په سترګه او ټولو پښتنو ته د طالبانو په نظر کتل د نړیوالې ټولنې بله لویه غلطي او د امنیت دخرابۍ عامل دی*. نه ټول طالبان القاعده دي او نه هم ټول پښتانه طالبان دي. همدا راز، د طالبانو او القاعده د هدفونو او ستراتیجۍ ترمنځ هم ډېر توپیر دی. طالبان د خپل هیواد لپاره جنګیږي او د غرب سره خاصه دښمني نلري خو القاعده په عربي نړۍ کې د امریکایانو و کمبلې ټولیدو ته متعهد دي او افغانستان د خپلو اهدافو د ویشتلو لپاره دیو سنګر په ډول استعمالوي. همدا راز، ټول پښتانه طالبان بلل او د هغو په تور ټول پښتانه ټکول، ځورول او د هیواد له سیاسي صحنې لیرې ساتل د نړیوالې ټولنې بله لویه غلطي ده.

په یو هیواد کې حتمي نده چې ټول فوج، پولیس، د دولت مامورین او ټول ولس دې د هغه هیواد د مشر د فکر او پالیسیو ملګري وي؛ ځینې مجبوریتونه او حالات وي چې خلک مجبوروي چې د دولت سره کار وکړي. کله چې د طالبانو حکومت په نومبر ۲۰۰۱ کې ړنګ سو د هغوی په زرهاو عسکر د هیواد په شمال کې ونوې ادارې ته ځانونه هغه وخت تسلیم کړل چې اطمینان ورکړه سو چې دوی به د طالبانو د خدمت په تور نه زورول کیږي. دوی غوښته چې د نوي حکومت سره کار وکړي او یا پخپلو کوروکې ارام کښیني او خپل شخصي کاروبار ته مخه کړي خو د هغوی سره داسې معامله وسوه لکه هټلر چې د یهودو سره وکړه**.

* د بون په کنفرانس کې د امریکا خاص استازی (جیمز ډابنز) پخپل کتاب (تر طالبانو وروسته، ص ۷۷) کې لیکي: "په بون کې زموږ لویه غلطي داوه چې موږ پښتانه طالبان او طالبان مو القاعده ګڼل او د پښتنو ژبې سهم هلته دومره لږ وو چې د کنفرانس په پرانستلو کې په پښتو یوه وینا هم نه وه چې د پښتو د نیمګړي تمثیل شک یې ډېر اوه".
Jams Dobbins, After the Taliban: Nation building in Afghanistan. Potamac Books Inc. Washington DC. 2008, P 77.

** جان کیمپنر پخپل کتاب (د بلیر جنګونه، ص ۱۳۹) لیکي: "بوش القاعده شورویان او جک سترا (د انګلیستان د وخت خارجه وزیر) هغوی نازیان ګڼل". (د امریکایانو په نظر ټول طالبان القاعده وه).

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه زرو طالبـان د نړیـوالې ټـولنې پـه مـخ کې ونیـول سـول، بنـدیان سـول، پـه قلعـۀ جنګي کې مـړه سـول، پـه کـانتینرونو کې سوري سوري سـول او د لیلی پـه دښت کې لاس تړلـي ژونـدي ښـخ سـول. د امریکـا د پخـواني وزیرجنـګ (ډونالـډ رمزفیلـډ) زړه لایـخ سـوی نـه وو او امـر یـې وکـړ چې وئـې سـوځوئ. د هیـواد پـه پاتـه برخـوکي پـه زرو نـور طالبـان خپلـو کلیـو تـه لاړل چې عـادي ژونـد خپـل کـړي او هغـو مثبتـو تغییراتـو تـه هیلـه مـن وه چې غـرب یـې مسلسـلې وعـدې ورکـولې. مګـر دوی هرځـای تعقیـب سـول، ونیـول سـول او د طالـب او القاعـده پـه نـوم مـړه سـول. یـو طالـب قومانـدان د غزنـي پـه شـلګر ولسـوالۍ کې د طالبـانو د حکومـت ترسـقوط وروسـته خپـل کورتـه ولاړ چې عـادي ژونـد وکـړي. امریکایـانو هغـه کلـی بمبـارډ او خلـک یـې پکښـې مـړه کـړل. وروسـته دانتقـام لپـاره ټـول کلـی یـاغي سـو او اوس شـلګر پـه سیمه کې د طالبـانو د مـلا تیـر دی. یـو اسـترالیائي ژورنالسـت چې د بـي بـي سـي لپـاره یـې کـار کـاوه یـو فلـم خپـور کـړ چې پکښـې ښئي چې امریکـائي عسـکرو پـه ارزګـان کې سـپین ږیـري بې عفتـه کړیـدي. د کلـي ځوانـانو هـوډ وکـړ چې خپلـي کـډې پاکسـتان تـه بیـایي او لـه امریکایـانو څخـه د غـچ اخیسـتو لپـاره بیرتـه سـیمې تـه سـتنیـږي. د طالبـانو خارجـه وزیـر (مولـوي وکیـل احمـد متوکـل) پخپلـه خوښـه امریکایـانو تـه تسـلیم سـو خـو هغـوی بنـدي کـړ او ترځـو کالـه بنـد او شـکنجې وروسـته اوس هـم پـه کابـل کې پـه خپـل کـور کې تـر نظـارت لانـدي دی. مولـوي عبدالسـلام ضـعیف پـه پاکسـتان کې د طالبـانو سـفیر وو، هغـه یـې د ټولـو نړیوالـو قوانینـو او نورمونـو پخـلاف ونیـوی، او پنځـه کالـه یـې د کنـدهار، بګـرام او ګوانتانـامو پـه زنـدانونو کې بنـدي او شـکنجه کـړ. مـلا خاکسـار (د طالبـانو د رژیـم د کورنیـو چـارو وزیـر) ځـان امریکایـانو تـه تسـلیم کـړ او د کابـل د حکومـت سـره یـې عمـلا همکـاري پیـل کـړه خـو مـړ کـړه سـو. پـدې ډول امریکـائي او ائتلافـي قـواوو قصـدا او یـا پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نا پوهۍ کې طالبان او پښتانه کونج ته تخته کړل او بیله مقاومته یې بله لار ورته پرینښوول. د امنیت د خرابېدو لوی عامل دا هم دی.

همدا راز، د هیواد د شمال څخه تقریبا دوه نیم لکه پښتانه د قومي تصفیې تر پروګرام لاندې چې فیلمونه یې موجود دي د طالب او القاعده په تور د نړیوالې ټولنې په حضور کې مړه سول، بې حرمته سول، لوټ سول او د خپلو کورونو څخه وشړل سول. هیڅ‌ا د دغو قتل عامونو (جنوسایډ) او دسته جمعي تعذیب (کولیکتیو ټورچر) مخ ونه نیو. سربېره پر دې، بي بي سي او امریکا ږغ رادیو ګانو څو واره راپورونه خپاره کړي دي چې یو شمیر اوزبک او تاجیک کورنۍ د سرحد له ها غاړې راوستل سوي او د شړل سویو پښتنو پر مځکو او جایدادونو باندې میشته سویدي. تراوسه د دغو لکونو شړل سویو سرګردانه پښتنو پوښتنه چا ونکړه. هغوئ تقریباً دا اوه کاله کیږي چې د کندهار د ژړۍ په سوزانه دښت، د پاکستان په چمن، د سرانان په کمپ او د کوئټې د ښار په شاوخوا کمپونو کې د دربدرۍ ژوند تیروي. بین المللي ټولنه نه یوازې د دوی زار حالت ته توجه ونکړه بلکه هیڅ اراده نلري چې دوی خپلو کورونو ته پریږدي. (د تخار په خواجه بهاءالدین کې یو کال کیږي چې خپلو کورونو ته ستنې سوې کورنۍ کلابند دي او ځائي زورواکان ئې خپلو کورونو ته نه پریږدي. حکومت او نړیواله ټولنه د زورواکانو پخلاف هیڅ قانوني عمل نکوي).

په کابل کې د ملګرو ملتو د مؤسسې د نمایندګۍ مرستیال (کریس) وویل چې اوس هم د ۲۰۰۰ په حدود کې مسلح غیرمسؤل ګروپونه په افغانستان کې فعالیت لري چې اکثره یې په تروریستي اعمالو، د مخدره موادو په قاچاق او په سازماني جنایاتو کې لاس لري. هغه وویل چې لږترلږه ۲۸ تنه د دولت مهم مامورین او د افغانستان د پارلمان غړي پیژندل سوي دي چې د دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



غیرمسؤلو مسلحو ګروپونو سره اړیکي لري. (کریس) خصوصي امنیتي شرکتونه هم متهم کړل چې دغو ګروپو سره ټینګې اړیکې لري. د ملګرو ملتو د مؤسسې د بشر د حقوقو اداره پخپل کلنی راپور کې وایي چې امریکا په افغانستان کې د ځینو هغو جنګسالارانو حمایت کوي چې د بشر د حقوقو په رابطه ډیر خراب سوابق لري. راپور د جنرال دوستم، عطامحمد نور او محمد محقق نومان اخلی چې په منظم او سستماتیک ډول په شمال کې پښتانه ځوروي، مالونه یې ورچوروي او پر حقوقو یې تیری کوي. (بي بي سي: ۱۴ جنوري ۲۰۰۳).

د شمال دغو شړل سویو او زوربډلو پښتنوته امریکایانو او نړیوالو بیله مقاوته بله څه لار پرې ایښې ده؟ اوس د شمال څخه د همدغو شړل سویو کورنیو ځوانان په کندهار، زابل، ارزګان او هیلمند کې د طالبانو د جنګی قوت د ملا تیر جوړوي.

افغانستان یو واحد او نه تجزیه کیدونکی هیواد دی چې د تاریخ په اوږدو کې مختلفو اقوامو پکښې یو د بل سره د ورونو پشان ژوند کړیدی. په شمال کې د تاجیکو، ازبکو او ترکمنو په منځکې پښتانه اوسي او د پښتنو په سیمو کې بیا د سوو کلونو راهیسې اقلیتونه میشته دي. د کندهار د ښار په زړه کې په زرو کورنۍ شیعه ګان اوسي او د ښار اکثره کسبونه، په دولتی ادارو کې ماموریتونه او شاوخوا شنه باغونه ددوی دي؛ چا ترخه خبره هم نده ورته کړې؛ احترام یې کیږي، او د ظاهرشاه په وختکې کندهاریانو خپل وکیل (اکبري) له همدغه شیعه ګانو څخه وټاکئ. همدا راز په هیلمند کې هزاره، تاجیک، ازبک او ترکمن ناقلین او په ګرش او لښکرګاه کې شیعه ګان سته چې چا ندي ازار کړي. دا ډول تاجیک، عرب او نور قومونه د غزني، پکتیا، پکتیکا، کنر، لغمان او ننګرهار په مرکزونو کې اوسي چې بیله کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهدید او فشاره د پښتنو په منځکې دورونو پشان په عزت ژوند کوي. خو دهیواد په شمال کې ځینو زورواکانو د بهرني استعمار او فرصت طلبو ګاوندیانو په مرسته نه یوازې هلته د پښتنو په ضرر د سیمې د موګرافیکه څهره او ایتنو پولیتیکل انډول بدل کړ بلکه په تیرو اتلس کلونو کې یې دهیواد دلویو ښارونو ، خصوصاً د کابل د ښار ډموګرافیکه څهره هم د خپلو قومي ناوړه اهدافو په ګټه واړول. دوی د پردیو په مرسته له یوې خوا پښتانه نه پریږدي چې دهیواد په شمال کې خپلو کوروته ولاړ سي او له بلې خوا یې د کابل ښار چې عمداً د پښتنو سیمه ده پخپلو قومیانو ډک کړ. د غه حالت ټول هیواد قومي ناارامۍ ته او خصوصاً پایتخت یې دیو ایتنوپولیتیکل بحران سره مخ کړیدی.

په ۱۹۷۲ م کې کله چې د داؤد خان په مقابل کې په کنړ، پنجشیر، لغمان او پکتیا کې یو شمیر مسلمان ځوانانو (اخوانیانو) بغاوت وکړ. د سیمو خلکو دهغوی ډیری ونیول او دولت ته یې تسلیم کړل او ځینې نور ورځخه وتښتیدل. دا ځکه هغه وخت خلکو حکومت خپل بالله او د هغو کسانو پخلاف ودریدل چې د غه مشروع دولت یې ناکراره کاوه. هغه وخت د اسلام شعارونو خلک نسوای جذبولای که څه هم اسلام افغانانو ته ترهرڅه ګران او عزیز دی. داؤد خان پښتون وو پداسې حال کې چې ډیرو غیرپښتنو د غه باغي ځوانان ونیول. خو فقط دري کاله وروسته، کله چې په کابل کې د شوروي په مرسته یو ګوډاګی حکومت پر قدرت راغی همهغه قوم په هماغو باغیانو پسې ولاړ. همداسې، په جنوري ۲۰۰۲ م کې په کندهار کې یوه سړي پر یو بهرني عسکر حمله وکړه. خلکو په تش لاس هغه ونیو او دولت ته یې تسلیم کړ. خلکو نارې وهلې چې موږ سوله غواړو، نړیوالو ته دې موقع ورکول سي چې افغانستان اباد کړي. خو نن هماغه خلک مایوس سویدي او د کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحکومت او ناټو په مقابل کې دطالبانو حمایت کوي. ښاغلی حامد کرزی له هماغو خپلو خلکو پخپل پلرني ښار کې په تیښته له مرګه ځان خلاص کړ.اوس ولس دحکومت سره نور دامنیت په ټینګولو کې مرسته نکوي.

نړیوالې ټولنې افغانانو ته په بون کې یو داسې ضیق البنیاده حکومت جوړ کړ چې د افغانستان په تاریخ کې یې ساری نسته. موږ په تاریخ کې ډیر خراب حکومتونه درلودلیدي خو داسې خراب حکومت لکه په بون کې چې نړیوالو افغانانو ته جوړ کړندی تیر سوی. نړیوالو مشهورغله، د نشئي موادو قاچاقبران، زورواکان، فاسد تکنوکراتان او د بشري حقوقو پایمالونکي چې د کرزي په خبره په نورو هیوادو کې یې د بیوسئ شپې تیرولې اوباید د بشرضد جنایاتو په تور په نړیواله محکمه کې محاکمه سوي وای په حکومت کې راټول کړل. افغانستان ئې هغو قوماندانانو او سیاسي دلالانو ته ،چې خارجیانو ته یې د عسکرو پحیث خدمت کړی وو اویائې بهرنیو استخباراتو ته کار کاوه، د غنیمت د مال په ډول وویشئ.

امریکایانو پښتانه چې د هیواد اکثریت، سخت جنګي قوم او ددې هیواد له پیدا ښته یې قدرت په لاس کې وو له قدرته محروم کړل. امریکایانو ټول پښتانه طالبان او القاعده وګڼل او د تروریستانو پشان یې ورسره معامله وکړه او کوښښ یې وکړ چې د هیواد په سطح د پښتنو شمیر کم وښئي او ورپسې یې سیاسي رول ورکم کړي. روسانو هم د خپل اشغال په وختکې د پښتنو د ځپلو په منظور څو ځلې احصائیه اعلان او هر واري به یې پښتانه کم ښوول پداسې حال کې چې په ټول افغانستان او خصوصاً د پښتنو په سیمو کې جنګ وو او د احصائیې د اخیستلو مجال نه وو. (په ۱۹۸۲ کې یې پښتانه له ۶۷٪ څخه و **۵۵**٪ ته راټیټ وښوول، په ۱۹۸۲ کې یې **۵۱**٪ او په ۱۹۸۸ کې یې ۴۸٪ وبلل). د هغوی هدف دا وو چې پښتانه له اکثریته و لوی ګروپ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راټيټ کړي او پدې ډول يې په فوج، پوليس، دولتي ادارو او سياسي مجال کې ونډه ورکمه کړې. دبون کانفرانس په همدې مورد کې د روس پر پله روان او نور هم ټکنئ سو او پښتانه يې نور هم لړ وګڼل (۳۸٪). نن همدا کار ناټو کوي او پښتنو ته دژوند په هرمجال کې (شوری، فوج، پوليس، سياسي ګډون، ... ) ۳۸٪ ګوري. دغه سبب دی چې ډېر پښتانه په کابل کې اوسنی نظام خپل نه بولي او دبرياليتوب لپاره ئې قربانۍ ته حاضر ندي.

د طالبانو تر سقوط وروسته په کابل کې ټول پښتانه دولتي مامورين دطالبانو په تور تهديد او له کاره وايستل سول او ځای يې په غيرپښتنو ډک سو. څو محدود پښتانه که چيرې ليدل کيدل هغوی د استاد سياف ترسيوري لاندې ناست وه او يا هغه کسان وه چې د جهاد په دوران کې يې جمعيت ته ډير زغستلي وه. سره لدې چې اوس حالات څه بدل سويدي خو اوس هم د فوج افسران (دمعتبرو انګليسي او امريکائي منابعو په قول) ۷۰٪ تاجيک دي او دملي امنيت په چاروکې خو د پښتنو سهم ډير کم دی. په ملکي ادارو کې هم همدا حال دی. څه تغييرات راغليدي، وزيران او ځينې عالي رتبه مامورين پښتانه مقرر سويدي خو اوس هم تعادل ته ډيره لار پاته ده. يو پارلماني راپور ښئي چې په ۲۰۰۷ م کې د رئيس جمهور په شمول د هغه په دفتر کې يوازې ۸ ٪ مامورين پښتانه وه. دغه سبب دی چې دکابل په ښارکې چې په پښتني سيمه کې واقع او شاوخوا يې اکثره پښتانه دي څوک د رئيس جمهور او وزيرانو په شمول د پښتو ويلو جرئت نلري. داسې يو حالت چې خپله دهيواد اکثريت وګړي ځان بېګانه وبولي امن نسي تأمينولای.

پر حکومت دعدم اعتماد يو بل عامل دادی چې په تيرو ديرشو کلو کې په عام ډول او په تيرو اتلس کلو کې په خاص ډول اکثره خارجي تعليمي بورسونه غيرپښتنو ته ورکول سويدي. ددغه غيرعادلانه توزيع په نتيجه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زرو غیرپښتانه تعلیمیافته هرکال هیوادته راستینیږي او د مملکت چارې په لاس کې اخلي. پدې ډول پښتانه نور هم له دولتي اورګانو څخه ورځ په ورځ په نسبي ډول کمیږي او حکومت غیرملي او انحصاري شکل اخلي. پدغسې ظالمانه، غیرعادلانه او نامتوازنو شرایطو کې په دولت کې موجود بېوا که پښتانه نورنو دولتي اداره خپله نه بولي او دزړه له کومې همکاري نه ورسره کوي بلکه ناامنۍ ته لار پرانیزي.

لکه څرنګه چې د طالبانو پخلاف امریکایانو شمال ائتلاف د خپلو عسکرو په حیث استعمال کړ، داسې شمال ائتلاف هم امریکایان د طالبانو، حزب اسلامي او نورو مخالفینو د ټکولو په منظور استعمال کړل. امریکایانو حکمتیار ته د شمال ائتلاف په وجه په بون کې دعوت ورنکړ سره لدې چې حکمتیار د رباني صدرأعظم او د طالبانو مخالف او ورسره جنګیدلی وو. ایرانیانو هم موقع ورنکړه سره لدې چې هغه د طالبانو د حکومت په ټوله دوره کې په ایران کې دهغوی سره وو بلکه په عوض کې یې د بون کنفرانس ته دهغه زوم (همایون جریر پنجشیری) وباله او بل زوم ئې چې پښتون وو (داکترغیرت بهیر) وربندي کړ. ددې ټولو سره حکمتیار بیا هم څو کاله انتظار ویوست خو چا موقع ورنکړه پداسې حال کې چې د جهاد نور ټول مشران اوس په کابل کې ناست او په حکومت کې شریک دي. حکمتیار ځان مجبور احساس کړ او دادی اوس د امریکایانو پخلاف جنګیږي. څرنګه چې امریکایانو ټول پښتانه طالبان ګڼل او اعتماد یې نه پر کاوه، تر ډیره وخته یې ترجمانان یوازې د شمال ائتلاف غیرپښتانه استخدامول. راپورونه وائي چې لدغو ترجمانانو څخه ځینو د امریکایانو او پښتنو ترمنځ داوبو دخړولو کوښښ کاوه او ځینو بیا دژبې دنه پوهېدو په وجه عام ولس ته ډیر ضرر ورساوه؛ کلي بمبارډ او بېګناه خلک مړه، بندیان او وځورول سول تردې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرزي يې پر حال وژړل (۲ مئ ۲۰۰۷ ) او وېويل چې زما څه په وس ندي پوره او امريکايان زما په خوله نکوي. په او سلوکې د ناروی د دفاع د وزارت يو مامور ماته وويل چې يوه پنجشيري ترجمان هغه ته په هرات کې ويلي وه چې "زه په کندهار کې د امريکايانو سره ترجمان وم. يو کندهاری سړی مو د په سپين بولدک کې د طالب په تور ونيو او پوښتنه مو ځينې وکړه چې طالب يې؟ هغه وويل: يا". ترجمان امريکايانو ته وويل چې دی وائي، هو. په انګليسی کی (هو ) ته (يا ) وائی. امريکايانو چې فکر وکړ چې سړی زمونږ په مخکې وويل چې هو؛ نو هغه يې بندی کړ. ترجمان ۱۲ مياشتی وروسته دا قصه د ناروی د دفاع وزارت دغه مامور ته په هرات کي کړی وه. مامور ورته ويلی وه چې دا خو تا سرچپه ترجمه کړيده. دا موضوع افشاء سوه او هغه کندهاری سړی ۱۲ مياشتی وروسته د ناروی د فوج په وساطت له بنده خوشی سو. د ناروې د دفاع وزارت دغه مامور ما (د کتاب ليکونکی) ته وويل چې د پنجشيری ترجمان په ترجمه کي اراده بده نه وه خو پښتو يې نه وه زده او دا يې نه ويل چې ترجمانی نسی کولای دا ځکه ډير معاش يې اخيست او متأسفانه د امريکايانو هم يوازی پر همدی خلکو تکيه وه. د غسې د مورميرې سلوک، بدبينی پيدا کول او بيځايه ځورول سوله او امنيت نسي راوستلای.

کرزي ته د جمهوري رياست په انتخاباتو کې اکثره پښتنو کوم چې اوس د ناټو تر اور لاندې دي رايه ورکړه. پارلماني انتخابات د امن په فضاء کې ترسره سول پدې هيله چې څه مثبت انکشاف به رامنځته سي خو هغسې ونسوه. وخت ثابته کړه چې افغانانو ته نه منتخب جمهور رئيس او نه منتخب پارلمان څه ګټه ورسول. ملت پر حکومت باور بايلود نو ځکه کرزي خپل تسلط او کنترول د نړيوالو د بيدريغه ملاتړ سره سره په هيواد کې خپور او ټينګ نکړای سوای او اوس يې د هيواد ډيره برخه له کنتروله بهر ده. د هيواد

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنوبي، شرقي او غربي سيمې دناټو دقواؤ سره جنګونو نا ارامه کړيدي او په شمال کې خلک د زورواکانو زور، ناروا او ظلم ځوروي.

دموکراسۍ او د غربي نړۍ زر او زور ټولو د افغانانو په ژوند کې څه مثبت بدلون رانوستلای سوای بلکه برعکس د زورواکانو، د بشري حقوقو د پايمالونکو او مخدره موادو د قاچاقبرانو په لاس کې ابزار سول چې هيواد استقرار او امن ته نه پريږدي.

برني روبن (دبون په کنفرانس کې دملګرو ملتو د مؤسسې د پلاوي غړي او اوس د امريکا د جمهور رئيس -اوباما- امنيتي مشاور) وائي: د اضطراري لوئې جرګې په وختکې (دبون ترکنفرانس شپږ مياشتي وروسته) دکابل بازارونه او کوڅې چې بايد د ايساف په لاس کې واى؛ د بون دقرارداد پخلاف اوس هم د مليشو په لاس کې وه. دامريکا پخواني دفاع وزير(ډونالډ رمزفيلډ) ددې پرځاى چې دغه مليشې ديو سوله ايز ملي سياست دجوړښت لپاره تنظيم کړي، هغه يې د تروروستانو د تعقيب په هيله تقويه کول. ايساف چې دبون دکنفرانس او ملل متحد لخوا په کابل کې دامن مسؤل وو دمليشو پخلاف نه بلکه موازي عمل کاوه. ايساف چې موخه يې دداخلي جنګونو مخنيوى او ددولت عام امن ساتل وه مګر مليشې يې له ظلم او چپاول څخه نه منع کولې. رمزفيلډ نه پريښوول چې ايساف تر کابل هاخوا ولايتونو ته ولاړ سي؛ پدې يې نوموړو مليشوته وخت ورکړ چې دهيواد پرخلکو، دارائيي او ګمرکاتو کنترول پيدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوهم سؤال د ملي فوج او پولیس وو:

جواب: څرنګه چې د کابل حکومت له متضادو شخصیتونو، متضادو عقائدو او ود متضادو ګټو له خاوندانو څخه جوړ دی او ټول په یوه ملي مفکوره او هدف ندي راټول، همدا سې ملي فوج او پولس یې هم پر همدغو پولو ویشلي دي او ملي هدف نلري. لکه څرنګه چې حکومت د ولس باور او ملاتړ نلري همدا سې ملي فوج او پولیس د خلکو حمایت نلري بلکه تر ډیره حده د خارجیانو، جنګسالارانو او اقلیتونو په خدمت کې دي. په ۹ مئ ۲۰۰۸ یو نړیوال معتبر راپور وائي چې اوس هم د افغانستان فوج ملي تشخص نلري او ۷۰٪ افسران یې د یو اقلیت قوم دي. همدا سبب دی چې د یوې سیمې فوج په بله سیمه کې بریالی ندی او حتی ځائي فوج او پولیس همکاري نه ورسره کوي. که څه هم امریکایانو د فوج او جرمنیانو د پولیسو په تربیه او تجهیز کې څه کار کړیدی خو مطلوبه نتیجه یې نده ورکړې. په ۲۰۰۷ م کې، په پښتني سیموکې د فوج ۴۰ ٪ تښتیدلي وو او اوس دا رقم تر دغه هم ډیر وو دا ځکه چې فوجیان خصوصاً پولیس فکر کوي چې په دغو سیمو کې د دولت سره همکاري کمه ده او ددوی تلفات ډیر دي. دغه عامل هم امنیت کمزوره کړیدی.

دکابل حکومت شکایت کوي چې فوج او پولیس تر اوسه نه سمه تربیه لري او نه وسایل. موږ دافغان فوج او پولیسو قوت او مؤثریت دامریکا رږغ رادیو (۱۸ جون ۲۰۰۸ ) لدغه راپورڅخه معلوم ولای سو چې وائي دامریکا په کانګرس کې د ملي امنیت او بهرنیو چارو د کمېټې مشر (جان ټرني) د پنتاګون دراپور له مخې وویل چې په افغانستان کې د پولیسو ۴۳۳ یونټه دي چې هیڅ یو ئې هم پوره عملیاتوته تیار ندی؛ خو یوازې ۳ یونټه ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخـــارجي فـــوج پـــه حمايـــت عمليـــاتو تـــه زړه ښـــه کـــولای ســـي. د امريکـــا دبهرنيو چـارو پـه وزارت کـې دافغانســتان دمخـدراتو دکنتـرول مشـر (تـامس شـوئچ) نيويـارک ټـايمز تـه پـه ۲۷ جـولاي ۲۰۰۸ م کـې وويـل چـې پنتـاګون او کابـل بـاټې ولـي چـې باکفايتـه افغـان اردو او ملـي پـوليس لـري خـو حقيقـت داسـې نـه دی. ملـي اردو دجنـګ قابليـت نلـري او دخـلاء دډکيـدو لپـاره پـوليس جنـګ تـه لېـږل کيـږي؛ هغـوی هـم دغـه کارتـه تيـار نـدي. کلـه چـې واسـتول سـي چـې پريـوه خطرناکـه سـيمه ددولـت کنتـرول قـائم کـړي ډيـر تلفـات ورکـوي. پـه کابـل کـې د تيرکـال د ثـور د اتمـې د جشـن پـه واقعـه کـې خلکـو وليـدل چـې افغـان فـوج او پـوليس څـومره د ډاډ وړ دي. خلکـو وليـدل چـې عسـکرو يـو او بـل تـه ويـل چـې بګريـز (تښـته) او جنرالانـو پـر خپلـو مـډالونو لاسـونه نيـولي ځغسـتل او رئـيس جمهور او وزيران يې خطر ته پرميدان پريښوول.

افغـان فـوج دا شـکايت هـم کـوي چـې نـاټو دوی د جنـګ لـومړۍ کرښـې تـه بيـائي او خپلـه شـاته وي او پـدې ډول يـې د خپـل سـپر پـه توګـه اسـتعمالوي. کـه څـه هـم ماتـه پـه يـوه ليـک کـې دانګليسـتان دنظـامي قـواؤ وزيـر دغـه شـکايت بيځـايـه بللـی خـو پـه هيلمنـد کـې افغـان عسـکر اوس هـم همـدا ګيلـه لـري. سـربيره پردغـه، فـوج او پـوليس د لـږ معـاش او هغـه هـم پـر وخـت د نـه رسـيدو څخـه خـو واره د راديـو او تلويزيـون لـه لارې شـکايت کـړيـدی او وائـي چـې ځکـه لـوئې لارې نيسي، خلک او موټران شکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دريم سؤال د دولت د مشروعيت وو.

د مشروعيت سؤال يوه امريکائي مطرح کړ او وېويل چې په افغانستان کې د نړيوالو په مرسته د جمهوري رياست او پارلمان لپاره انتخابات وسول او اوس هغه هيواد يو منتخب رئيس جمهور او منتخب پارلمان لري مګر د تشويش ځاى دادى چې خلک ولې د خپلو منتخبو مشرانو ملاتړ نکوي؟

جواب: افغانانو د منتخب او يا غير منتخبو مشرانو سره دلچسپي نه درلوده. دغه انتخابات په افغانستان کې نړيوالو قوتونو غوښتل چې خپل کنبينولي رژيم ته مشروعيت ورکړي. افغانانو ته دا مهمه نه وه چې کرزى منتخب وو او که نه وو بلکه امنيت، سم حکومت او د هيواد بيا اباديده يې غوښته کوم چې نړيوالو مکرره وعده ورسره کړيوه. ولس ويل ښه، موږ به انتخابات هم په ارامه فضاء کې وکړو خو تاسې به ايا هغه څه وکړئ چې زموږ سره مو بيا بيا وعدې کړيدي؟ نتيجه دا سوه چې انتخابات وسوه مګر د خلکو سره وعدې ترسره نسوې. خلکو بيرته له حکومته خپل اعتماد د عدم همکارۍ په شکل واخيست.

دمشروعيت په باره کې ما ورته وويل چې يو دولت هغه وخت مشروع دى چې پرهغه سيمه پوره کنترول ولري پر کومه چې د تسلط ادعاء کوي. د امريکا د ملي استخباراتو د ادارې تازه راپور وائي چې د کابل حکومت يوازې د هيواد پر ۳۰ ٪ کنترول لري. ناظرين دا عدد هم مبالغه ګڼي او وائي څرنګه چې امريکا د کابل د حکومت حامي ده نو دا راپورئې د هغه په ګټه ليکلى دى. په حقيقت کې د حکومت کنترول تر دغه ډېر کم دى. د جمهور رئيس سلاکار او د شکاياتو د اوريدو د ادارې مشر ښاغلي اسد الله وفاء په لومړى مارچ ۲۰۰۹ خبرنګارانو ته وويل چې د کندهار دولايت په ۱۷ ولسواليو کې دولت يوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر ۳ ولسوالیو کنترول لري او بس. هغه دا هم وویل چې پولیسو پر لویو لارو غیرقانوني پاټکونه اچولي، مسافر او موټران شکوي. دغسې کم او داغي تسلط د دولت مشروعیت ترجدي سؤال لاندې راولي.

د دې لپاره چې یو دولت خپل مشروعیت ته قانوني بڼه ورکړي پکار ده چې د خلکو اعتماد ، قیادت ته احترام او د هیواد قوانینو ته د هغوی اطاعت جلب کړي. په دولتي دستګاه کې د بشري حقوقو د پایمالونکو او قاچاقبرانو قوت، د زورواکانو قدرت او د رشوت او اداري فساد غوړیدنه، د افغان دولت تولې هغه هلې ځلې چې د دغسې ملي اعتماد او درناوي لپاره یې کوي خنثی کړیدي. زورواکان او قاچاقبران نه یوازې په دولت کې لوئې رتبې او قوي لاسونه لري بلکه شخصي ملېشې هم لري. هغوی د قانون د جوړېدو او د قانون د تطبیق کېدو په دواړو ارګانونو کې په قوت ناست دي او نه پرېږدي چې دولت امنیت تأمین کړي او د خلکو د ژوند بڼه کولو ته توجه وکړي. دغه نارسائي چې په نتیجه کې ئې خلک پر دولت اعتماد بایلي دافغانستان دولت د عدم مشروعیت د جدي خطر سره مخ کړیدی. د افغانستان دولت دخپل مشروعیت او یا دموکراسۍ ادعا ترهغو نسې کولای ترڅو هغه مشهور جنایتکاران چې په نړیواله محکمه کې باید محاکمه سویوای ازاد ګرځي، بریتونه تاووي، قدرت لري او خلک تهدیدوي.

یو دولت هغه وخت د مشروعیت ادعا کولای سي چې د خلکو معنوي ارزښتونو ته وفادار وي او ولس مطمئن وي چې دولت د دغو ارزشونو د ساتلو او غوړېدلو لپاره کار کوي. مشروعیت یوازې پدې لاسته نه راځي چې دولت پر سیمه مسلط وي او یا په دولت کې یو شمیر ماهر او تکنوکرات کسان راټول سویوي بلکه خلک باید پدې قانع سي چې دا کسان د دوی دارزښتونو او غوښتنو درک لري او دهغو د تطبیق لپاره په اخلاص کار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرخارجیانو ډېره تکیه، د حکومت واګې ناروا ، غلو ، رشوتخورو ، ظالمو او بېدینو ته په لاس ورکول د افغان دولت د مشروعیت معنوي اړخ سخت تخریب کړېدی. بدون شک یو غیرمشروع حکومت کولای سي تریو څه وخته د بهرنیانو په نظامي زور او مالي مرسته وچلیږي، پر ځینو سیمو کنترول ولري او یو لږ وډېر کار هم وکړي خو د خلکو درناوی او د هغو په نظر د حکومت کولو مستحق او سیدل بیا بله خبره ده.

د مشروعیت بل مهم عنصر ددولت لخوا د خلکو د سر، مال او عزت ساتل او د هیواد دقوانینو تطبیقول دي. خلک باید پدې معتقد وي چې یوازې دولت هغه مناسب قوت دی چې د حکومت کولو وړ او ددوی د اطاعت او همکارۍ په عوض کې ددوی سر، مال، عزت او ناموس ساتلای سي. افغان موجوده دولت په هیڅ وجه ددې قابل ندی چې د خلکو امنیت وساتي او حتی ددولت په داخل کې پرزورواکانو قانون تطبیق کړي.

یو دولت دخپل مشروعیت د تثبیت لپاره باید د قوې د استعمال یوازینۍ مرجع وي. دولت نه یوازې باید خلک قانع کړي چې که کوم تصمیم نیسي هغه سم او د خلکو په ګټه دی بلکه دا هم باید ثابت کړي چې د خپل هرتصمیم دعملي کولو توان لري او خلک د قوانینو په اطاعت مجبورولای سي او که ضرورت پېښ سي پدې لارکې مؤثره قوه استعمالوي. افغان اوسنی دولت د ارادې او د قوې د استعمال دغه انحصار نلري بلکه په هیواد کې ډېر نور قوتونه سته چې پر خلکو مسلط دي او د خپلو غوښتنو د تعمیل په لارکې د قوې د استعمال توان لري. دغه حالت ددولت مشروعیت ته لویه صدمه رسولېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داعتبار وړ يو حکومت دداسې همفکره خلکو مجموعه ده چې د خپل هيواد لپاره ګډ اهداف او مشترکه ستراتيجي لري. ددې لپاره چې خپل تصاميم عملي کړي يو حکومت په ادارو کې کار پوهه، صادق او ددولت اهدافو ته وفادار کسان استخداموي. په افغانستان کې داوسني حکومت غړي ګډ اهداف او مشترکه ستراتيژي نلري بلکه د متضادو عقائدو او خاصو منافعو څښتنان ددنيا له هرځايه راوستل سويدي. حکومت پوه او صادق کارکوونکي هم ډير کم لري. څرنګه چې افغان دولت معين اهداف نلري چې پرهغه ئې غړي راټول وي نو ځکه نامعلومو او متشتتو اهدافو ته وفاداري بې مورده توقع ده. دغه سبب دی چې هر وزارت په حقيقت کې د يو زورواک پوسته، د يو تنظيم اډه او د يو قوم مسافرخانه ده. افغان دولت به ترهغو غير مؤثر او نامشروع وي ترڅو دا فاسد او نابکار عناصر په حکومت کې پر قدرت او دولت همداسې بېهدفه وي. که څه هم په موجوده حکومت کې ځينې ښه عناصر سته خو د هغو شمير کم او حالاتو ته مثبت بدلون نسي ورکولای. تاسې وګورئ چې د مخدره موادو د کښت، استعمال او قاچاق کار او دلويو لارو امنيت و مشهورو قاچاقبرانو ته سپارل سويدی. شخصي مليشو، د مخدره موادو له تجارته راولاړ اقتصادي توان، او دحکومت له مواقفو څخه سياسي استفاده، زورواکانو ته په مجموع کې تردولت ډير قوت ورکړيدی. دغه قوت، عام ولس او ددولت کوچني مامورين پخپل اطاعت مجبوروي او ددولت مشروعيت ته نه جبرانيدونکې صدمه رسوي. پدې ډول ددولت مشروعيت له دننه سخت تخريب کيږي. د يو ولايت د والي له دفتره تصادفاً اته ټنه ترياک راوايستل سوه. که څه هم هغه ددې پرځای چې مجازات سي ونازول سو خو هغه بيا هم ددغه تصادفي توهين په مقابل کې ناټو او حکومت ته پخپله سيمه کې لوی سردرد جوړ کړيدی او د دولت مشروعيت ته يې لويه ضربه ورکړيده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو دولت خپل مشروعیت هغه وخت په خلکو منلای سي چې د خلکو سره خپلې وعدې عملي او پرخپل ځان هغه قوانین اول پلی کړي کوم چې د خلکو څخه یې د تطبیق غوښتنه کوي. که د دولت متنفذ غړي هغو قوانینو او مقرراتو ته چې پخپله یې جوړ کړیدي درناوی ونکړي، که دوی ځانونه تر قوانینو لوړ وګڼي او څوک ئې د خیانت په جرم محکمې ته کش نکړای سي نو خلک به بدون شک د دا سې دولت مشروعیت تر جدي سؤال لاندې راولي. لوی څارنوال عبدالجبار ثابت په وار وار پارلمان او میډیا ته ویلي دي چې یوازې کمزوري کسان محکمه کیږي او هغوی چې زور لري ازاد ګرځي بیله دې چې زه یې د نوم اخیستلو جرئت وکړم. ثابت وویل چې ما ته هغه وخت ډیر مشکلات پیښ سول کله چې مې افشاء کړه چې د بلخ والي (عطاء محمد نور) یو جنګسالار دی، شخصي ملیشې لري، اساسي قانون ته احترام نلري او د جمهور رئیس امر نه مني. لوی څارنوال دا هم وویل چې د بلخ والي دا هم ورته ویلي وه چې دده بې مخکنۍ موافقې به د دولت هیڅ یو مامور پخپل ولایت کې پرې نږدي. عبدالجبار ثابت د هرات والي (حسین انوري) هم په ورته تورونو تورن کړ. دواړو والیانو لوی څارنوال د بلخ او هرات څخه منع کړ. رئیس جمهور هم د لوی څارنوال په قول دده حمایت ونکړ او پدې ډول د هغوی د غو اعمالو د دولت مشروعیت ته شدیده صدمه ورسول. مشهور جنګسالار او د افغانستان د فوج لوی درستیز (رشید دوستم) څوک چې شخصي ملیشې لري، د افغانستان په پارلمان کې د شبرغان نماینده (فیض الله ذکي) ته هدایت کړی وو چې په ولسي جرګه کې کوم وزیر ته رایه ورکړي. وروسته معلومه سوه چې نوموړي د دوستم د هدایت پخلاف خپله رأیه استعمال کړیوه. رشید دوستم هغه په شبرغان کې د زرو خلکو په مخ کې راچپه کړ او ترهغو ئې وواهه چې په وینو لژند او بیسده سو. ددې لپاره چې حکومت پدې واقعه کې مداخله ونکړای سي او دواقعې په راز څوک خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نسي، ښاغلی ذکي نژدې روغتون ته پرېنښودل سو بلکه رشيد دوستم هغه پخپل شخصي هليکوپتر کې ازبکستان ته ظاهراً د تداوئ لپاره واستاوه. هيڅ يو د پارلمان ددې وکيل پوښتنه ونکړای سوای. سربېره پردغه، نژدې دوې مياشتې دمخه رشيد دوستم خپل يو پخوانی مرستيال (اکبر بای) د شرابو په بوتل وويشت او پر کورئې چې په کابل کې جمهوري ارګ ته نژدې دی د راکټونو حمله وکړه. دوستم د لوی څارنوال دحکم باوجود چا بندي نکړای سوای. برعکس، کرزي اکبر بای وروغوښت چې ددوستم سره تر دعوې تېر سه. په دغسې شرايطو کې چې حاکمان پخپله قانون ترپښو لاندې کوي نور به يې واحترام ته څه وهڅوي؟ هلته چې قانون او مجريان يې مظلوم نسي حمايت کولای دولت څه مشروعيت لري؟

ددې لپاره چې خپل مشروعيت ثابت کړي، موجوده افغان دولت ته تقريبا غير ممکن ده چې د خپل مشروعيت دټولو داخلي دښمنانو سره په يو وخت وجنګيږي لکه جنګسالاري، مخدره مواد، رشوت، بهرنی مشکل او مسلح مخالفين. د افغان دولت اوسنی وضع هغه سخت ناروغ ته ورته ده چې د روغتون د شديد مراقبت په خونه کې بستر او د څو خطرناکه قوي ناروغيو په مقابل کې د ژوند او مرګ په کشمکش کې راګير وي. که د نوموړي څخه د روغتون وسائل، اکسيجن او شديد مراقبت ليرې سي ډېر ژر به مړ سي. همدا راز که د اوسني حکومت له ساتنې څخه اويا زره بهرني عسکر او د زرو مليونو ډالرو پيچکاری ليرې سي ډېر ژر به سقوط وکړي. دغسې يو ناروغ دولت به ولس پخپل صحت او مشروعيت څنګه قانع کړي؟

ناټو کلي بمباروي چې خلک د حکومت په اطاعت مجبور او په مشروعيت يې اعتراف وکړي. د زور بيځايه او بيموجبه استعمال د خلکو د قناعت مؤثره وسيله نده. زور يو منفور دولت په يوه مشروعه مؤسسه نسي بدلولای. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو حمایت باید د خلکو د زړونو د لاسته راوړلو له لارې حاصل سي نه د قوې په استعمال سره. یو شمیر د نړیوالو حقوقو ماهرین فکر کوي چې د تروریزم پرضد جګړه اوس د پښتنو دلوئې پرګنی سره په جنګ بدله سویده چې نه یوازې ددولت مشروعیت ئې تر جدي سؤال لاندې راوستی دی بلکه دعام وژني حقوقي سؤالونه یې راولاړ کړیدي.

دواشنګتن پست په قول (یکشنبه، ۱۸ نومبر ۲۰۰۷) ناټو، امریکا او دهغو افغاني ملګرو دطالبانو په نسبت افغان عوام ډېر وژلي دي. دناټو سرمنشي (جاپ دي هوپ شیفر) اخطار ورکړ چې دملکي خلکو زیاتیدونکې وژنه دخلکو په وړاندې دغربي قواؤ ملاتړ کوم چې ددوی په حمایت ورغلیدي کموي. د ملګروملتو دمؤسسې دسپتمبر ۲۰۰۷ راپوروائي چې هوائي بمباری په افغانستان کې دانتحاري حملو اصل باعث او مشوق دی چې ډیر بیګناه خلک وژني، ولس دکابل دحکومت په خلاف دروي او مخالفینو ته لویه تبلیغاتي ګټه رسوي. حامد کرزي په وار وار ویلي دي چې دتروریزم پخلاف مبارزه باید زموږ په کلیو کې نه بلکه په پاکستان کې دننه وسي خو امریکایان یې نه ورسره مني او پدې ډول ئې دده حکومت دمشروعیت دیو جدي سؤال سره مخ کړی دی.

دکال ۲۰۰۸ د جولای په اوائلو کې امریکایانو دنورستان په ولایت کې د عامې سورلۍ دوه موټران بمبارډ کړل چې په نتیجه کې ئې ۲۲ ملکي کسان مړه او ډیر نور زخمیان سول. خلکو احتجاج وکړ. امریکایانو ویل دا ټول تروریستان او اشرار وه. ځائي حکومت دخلکو دشکایت دفشار په سبب سیمې ته هیئت واستاوه چې دهغه په نتیجه کې د نورستان والي تمیم نورستاني په دغه واقعه کې د عامو خلکو، ښځو او ماشومانو د وژلو تائید وکړ. ددغو اظهاراتو په سبا تمیم نورستانی له دندې ګوښه کړه سو او امریکایانو خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره بيا تکرار کړه چې دا ټول تروروستان وه (اريانا تلويزيون- ۲ جولای ۲۰۰۸). پدغسې يو حالت کې به د والي څه حيثيت وي او د خلکو په نظر به حکومت څه مشروعيت ولري؟

د نورستان تر واقعې دوې ورځې وروسته امريکايانو د شينوارو په هسکه مينه کې د واده ورا بمبارد کړه چې په نتيجه کې يې ۴۸ تنه ښځې او ماشومان د ناوې او زوم په شمول شهيدان سول او ۳۴ زخميان يې د ننګرهار روغتونونو ته يوړل. امريکايانو اعلان وکړ چې دا ټول اشرار او تروروستان وه. د خلکو مظاهرو، جمهور رئيس کرزی مجبور کړ چې هغه کلي ته فاتحې او عذر ته ورسي په کوم کې چې دا غمناکه واقعه پيښه سوې وه او د غمځپلو سره غمرازي وکړي. خو امريکايانو خپل انکار ته دوام ورکړ چې دوی يوازی تروروستان بمبارد کړيدي. وروسته د کنړونو او نورستان شورى ګانو او د هسکې مېنې ولسوال خلکو او خبرنګارانو ته وويل چې امريکايان پخپلو دغو بيمسؤليته کړو پښتانه بغاوت ته هڅوي. دوی په سيمه کې د خپلو اهدافو د تحقق لپاره په افغانستان کې جنګ غواړي (اريانا تلويزيون ۸ جولای ۲۰۰۸). دغسې يو دولت به څه مشروعيت ولري چې د رئيس دولت خبره دده بهرنيي ملاتړي نه مني؛ هغه کسانو ته چې دی په عذر ورځي هغوی يې تروروستان بولي او که يو والي پرخپل ولس د پردو ناروا په روا تعبير نکړي په سبا ئې له دندې شړل کيږي؟

د هيواد په شمال کې چيرې چې د حکومت پخلاف علني جګړه نده روانه، خلک د زورواکو، د بشر د حقوقو د تيري کوونکو، د فاسدو حکومتي مامورينو او قاچاقبرانو څخه چې پر سيمه حکومت کوي او نړيوال ملاتړ هم لري سر ټکوي. پوليس پر لويو لارو خلک پدې بهانه شکوي چې معاش يې کم او هغه هم ډير وخت ندی ورکول سوی. د فساد سره د مبارزې د اداري

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشر عزت الله واصفي وائي چې "ترڅو د دولت لوړپوړي چارواکي قانون نه مراعاتوي اداري فساد به جرم ونه ګڼل سي. اصلاحات بايد له لوړه پيل سي. که لوړپوړي چارواکي په مليونو ډالره سوء استفاده کوي او څوک څه نسي ورته ويلای نو ته څنګه يو کوچني مامور ته ويلای سې چې ۴۰ ډالره مه اخله." دغسي يو حالت نه يوازې پر حکومت د خلکو اعتماد کموي بلکه په ټولنه کې نظم مختلوي او هيواد د بحران سره مخامخ کوي. پدې ډول د هيواد په جنوب، شرق او غرب کې خلک د امريکا او ناټو له بمبارۍ او د حکومت له اداري فساده په عذاب دي او په شمال کې ولس د فاسدو حکمرانانو او د غرب د ملګرو زورواکانو څخه په ژړا دی. دغه حالت د افغان دولت مشروعيت ته سخته صدمه رسولېده. ناټو بايد پدې پوه سي چې د نظامي قوې استعمال ولوکه کامياب هم وي يوه مؤقتي چاره ده. که د خلکو حمايت نه وي د قوې دغه استعمال او عمراني هلې ځلې به څه نتيجه ورنکړي. اداري فساد تر ټولو ډير د حکومت په ځان لوی افت او بلا ده چې عدم امنيت، بغاوت او د مخدره موادو مافيا تقويه کوي. اداري فساد هغه کسان هم ناراضه او بغاوت ته وهڅول چې په اول سر کې حکومت ته خوشبين وه.

حامد کرزي په ۲ مئ ۲۰۰۸ م د شپيګل المانی مجلې ته ويلي وه چې ما خپل په حکومت کې يو لوړپوړی چارواکی (رشيد دوستم) له دندې ګوښه کاوه خو يو بهرنی هيواد (ترکيه) چې په افغانستان کې فوجونه لري پر ودرېد او ايسته مې نکړای سوای. همداراز، د سنډې ټايمز په حواله (۲ سپتمبر ۲۰۰۸) ولسمشر کرزي د هلمند د پخواني والي شيرمحمد اخندزاده پر سر له بريتانيې سره شخړې کړې دي. ولسمشر وايي چې د انګليستان دوخت صدراعظم تونی بلېر ورته ويل چې که چيرته د هلمند والي شيرمحمد اخنزاده له خپلې دندې ليرې نکړې نو دی به خپل ټول عسکر له افغانستانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وباسي. د سنډې ټایمز ورځپاڼه له کرزي څخه په حواله لیکي چې شیرمحمد اخنزاده د انګریزانو د فشار له امله د ده له خوا ګوښه کړای شو که نه نو د هلمند لپاره یو مناسب والي وو. پروسږکال د افغانستان ولسي جرګې دوه وزیران (د بهرنیو چارو وزیر سپنتا رنګین دادفر او د مهاجرینو د چارو وزیر حاجي محمد اکبر ځاځئ) د بیکفایتۍ په تور سلب اعتماد کړل. له اوریدو جرمنیان پر دادفر ودریدل. دغه سبب دی چې هغه تراوسه خپلې دندې ته ادامه ورکوي او ځاځي چې بهرنی ملاتړ ئې نه درلود له وظیفې ګوښه سو. سږکال دوه نور وزیران (اسدالله خالد او صدیق چکری) د ولسي جرګې لخوا رد سول خو غیرقانوني خپلو دندو ته ادامه ورکوي او ولسي جرګه یې د پوښتلو توان نلري. د شپیګل مجلې دا ادعاء هم کړیوه چې د افغان حکومت اکثره وزیران بهرنیو استخباراتو ته کار کوي. دغسې یو فاسد او لاسپوڅی دولت به د خپلو خلکو په نظر څه مشروعیت ولري؟

## ځلرم سؤال چې هرچا کاوه هغه په دولت کې د رشوت او اداري فساد وو.

جواب: د بون په کنفرانس کې امریکا دافغانستان حکومتي مقامونه او څوکۍ زورواکانو او غربزده ګانو ته د خدمت په مقابل کې د غنیمت مال په ډول وویشل؛ هغوي پخپل وار ورسپارل سوي وزارتونه او اداري خپلې قومي پوستې، دتنظیمونو اډې او د سوء استفادې مغازې وګرځولې. هغوی وزارتونه، ولسي جرګه او مشرانو جرګه، ولایتي جرګې، په مرکز او ولایاتو کې دولتي اداري ټولې پخپلو خپلوانو، حزبي وتنظیمي ملګرو او وفادارانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیله دي چې د چا لیاقت، کفایت او اهلیت په نظر کې ونیسي ډکې کړې. که څه هم ځینې ښه خلک په کار وګومارل سول خو د هغوی شمیر ډېر کم او مؤثریت ئې ډېر لږ دی. همداراز، ځینې غربي هیوادونو لکه ایتالیا کوښښ کړیدی چې د افغانستان قضائي نظام اصلاح کړي خو تراوسه دا مهم ارګان له اداري فساد، د زورواکانو له اثر، د مسلکي قاضیانو له کمی او د قاضیانو د امنیت د نه تأمین سره مخ دی. نوځکه دا مهمه اداره اوس بېطرفه نده او عدالت نسي تأمینولای. د امنیت د لوی رئیس په قول عدلیه د دولت د نورو ارګانونو سره هماهنګه نده نوځکه امنیت لکه څنګه چې پکار دی نسي منځته راتلای. په پلازمېنه کابل او ټول هیواد کې د زورواکانو، د بشري حقوقو د پایمالونکو، رشوتخورو او اداري مفسدینو بیله کومې ویرې سرشاره ګرځیدل د دولت مشروعیت او دموکراسي دواړه سخت متضرر کړیدي.

ډیر وزیران، والیان او رئیسان علاوه پردې چې شخصي ملیشې لري إن جی أو ګانې او شخصي انتفاعي مؤسسې هم لري چې هغه پیسې چې له بهره د مرستې په نوم افغانستان ته راځي پخپلو جیبو کې واچوي. دوی په هرخارجي قرارداد کې خپله ونډه هم لري. یو وزیر یا مشاور تر ۲۰۰۰۰ ډالره په میاشت کې معاش لري چې د هغه وزارت یو سابقه داره مأمور ۲۰ ډالره نلري. دماليې وزير انوارالحق احدي اریانا تلویزیون ته وویل چې معاش یې په میاشت کې ۲۰۰۰۰ ډالره اویوه بهرنۍ اداري ئې ورکوي. دا وضع خپله اداري فساد پیدا او تقویه کوي. پخوانی داخله وزیر علي أحمد جلالي وائي چې ۴ وزیران او ۱۳ والیان مستقیماً د مخدره موادو په قاچاق او اداري فساد کې د کرزي د ورونو په شمول لاس لري. کله چې د کرزي څخه د جلالي ددغه ادعاء پوښتنه وسوه هغه په ډیر عصبانیت دغه ادعاء رد کړه او جلالي ئې په دروغو او فساد

(c) ketabton.com: The Digital Library



تورن کړ. په دولت کې د اداري فساد ښکاره او د شرم نمونه داده چې د فساد د مخنیوي د ادارې مشر ښاغلی عزت الله واصفي په عام محضر کې (اریاناتلویزیون ۱۷- اپریل ۲۰۰۸ ) لوی څارنوال ښاغلی عبدالجبار ثابت په رشوت او سوء استفاده متهم کړ. لوی څارنوال پخپل وار عزت الله واصفي په رشوت او اختلاس تورن کړ او ویویل چې زما سره کره اسناد دي چې کله چې واصفي په فراه کې والي وو سوء استفادې کړیدي. دواړو ادعاء وکړه چې موضوع به محکمې ته محول کوي. حکومت تردې حده شوړیدلی، اداري فساد تردې حده رسېدلی او قیادي جبن تردي حده مستولي دی چې د جمهور رئیس لومړي مرستیال ضیاء مسعود ادعاء وکړه چې ددولت لوړ پوړي چارواکي د مخدره موادو په قاچاق کې لاس لري. کله چې د رئیس جمهور څخه ددې ادعاء په باره کې په اوله د اکتوبر ۲۰۰۷ م پوښتنه وسوه هغه په ډیر طنزیه ډول وویل چې که جرئت لري نومان دې ئې واخلي. یعنې سته خو مګر د نومانو د اخیستلو جرئت په چا کې نسته. عبدالجبار ثابت ادعا وکړه چې وکرزي ته یې د شلو لوړپوړو قاچاقبرانو او رشوتخورو نومان ورکړه خو کرزی دی دهغوی له تعقیبه منع کړ. د لوړپوړو رشوتخورو، قاچاقبرانو او مفسدینو د نومانو د اخیستلو جرئت نه په وزیر، نه د رئیس جمهور په مرستیال او نه پخپله په رئیس جمهور کې سته. دامریکا خارجه وزیره (هیلری کلنتن) وائي افغانستان یو تاریاکي دولت دی چې کمظرفۍ او په لویه کچه اداری فساد فلج کړیدی. ځینې معتبر منابع وائي چې له څه وخته راهیسې امریکا ئي وسله دکابل دفوج او پولیس لخوا پر مخالفینو خرځیږي. دفساد دیو بل اړخ په باره کې دښار جوړولو وزیر انجنیر یوسف پښتون ادعاء وکړه چې "هیواد اوس د مځکو او مخدره موادو د مافیا په لاس کې دی". اداري فساد تردې حده اوس رسیدلی دی چې د کرزي ملاقاتونه خرځیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلي کرزي په ۱۳ نومبر ۲۰۰۷ م پرخپلو يوشمېر وزيرانو او د پارلمان پرغړو تور ولګاوه چې له خپلو دندو څخه سوء استفاده کوي، رشوت خوري او په اداري فساد اخته دي. ده وويل چې دا ناروغي اوس دومره پراخه سوې ده چې د هېواد د بيا ودانولو مخ يې نيوليدی. کرزی پداسې حال کې چې قهرېدلې معلوميده وويل چې "د عادي افغان ژوند ورځ په ورځ خرابيږي پداسې حال کې چې حکومتي مامورين يوازې پدې فکر کې دي چې څنګه خپله شخصي دارائي ډېره کړي. پدې نظام کې لوړپوړو چارواکو هرڅه پيدا کړل – پيسې، ډېرې پيسې. – خدای په پوهيږي چې ترحد ډېري يې ټولې کړې. زموږ د حکومت دلوړپوړو مامورينو په پيسو دنړۍ بانکونه ډک دي. لوکس قصرونه، نه يوازې په کابل کې بلکه دلته او هلته ټول زموږ د حکومت او د پارلمان دغړو دي؛ هريو ئې درې څلور کورونه په بيلو بيلو هېوادونو کې لري". د حيرانتيا او پريشانۍ خبره داده چې کرزی په هرڅه پوهيږي او اعتراف کوي خو د اصلاح لپاره يې هيڅ او يا ډېر کم څه کوي. د جمهور رئيس سلاکار اسدالله وفاء په لومړی مارچ ۲۰۰۹ کې وويل چې په کندهار کې د بيا ودانولو کار د دولت د مامورينو د اداري فساد په وجه وروسته پاته دی. دغسې يو حالت پر حکومت او پوليسو د خلکو اعتماد کم کړيدی چې نتيجتاً ئې امنيت ته لويه صدمه رسولې ده. دغه حالت، ولس پرحکومت ډېر بې باوره کړيدی او په ځان کې د تنفر او انزجار تومنه شاربي.

نړيوالې ټولنې او افغان حکومت له اولې ورځې خلکو ته وعدې ورکولې چې امنيت به تأمينوي، سم او مؤثر حکومت به راولي او د هيواد بيا رغونه به کوي. افغانانو دوی ته کافي وخت ورکړ او لازمه همکاري يې ورسره وکړه ترڅو دوی خپل تعهدات پرځای کړي خو متأسفانه تراوسه هيڅ يو له دغو تعهداتو عملي نسو. او حتی داسې هم ونسوه چې پر سمه او صحيح خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدمونه اینښوول سویوي څو دهغه په برکت هیواد ورځ په ورځ د ارامۍ او سوکالۍ خواته تللی وای. افغانانو د کرزي څخه د اداري فساد د ریښو ایستلو ډیره توقع نه درلوده داځکه اداري فساد په ډیرو هیوادو کې سته. خو دده څخه یې دا توقع وه چې د ابتدائي عدالت د تأمین په منظور د بدکارو، زورواکانو، قاچاقبرانو، د بشر دحقوقو دپایمالونکو، او سوء استفاده کونکو ملاتړ ونکړي او دهغو کسانو مخ ونیسي چې بهرنۍ مرستې پخپلو جیبونو کې اچوي او نه پریږدي چې خلکو ته ورسیږي. د حکومتدارۍ او عدالت ددغه بسیط عنصر کمزوري او په ډیرو ځایو کې نه موجودیت ددې سبب دی چې خلک د حکومت دفاع ونکړي او مخالفینو ته لار او حتی ځای ورکړي او یا حداقل بېتفاوت پاته سي. که ددولت وزیران او عالیرتبه مامورین شاهدي ورکوي چې دکابینې غړي، والیان او د رئیس جمهور کورنۍ او نژدې خپلوان په قاچاق او فساد کې اخته دي او بیا هم امریکا او نړیواله ټولنه یې بېدریغه مرسته کوي؛ که د رئیس جمهور مرستیال شاهدي ورکوي چې دده د حکومت لوړپوړي چارواکي مفسدین دي او دی یې دنیولو او حتی نوم اخیستلو توان نلري خو بیا هم ټوله غربي نړۍ دهمدې مفسدینو ترشا ولاړه ده افغانان به دداسې یوه بې کفایته حکومت او له داسې بهرني حمایت څخه د خیر څه توقع ولري؟

دکابل حکومت څخه به دچا د سم کار څه توقع وي چې مشر یې د شپیګل مجلې سره په یوه مرکه کې وائي (افغان رساله- مئ ۲۰۰۸، ص ۳) چې نړیوالې ټولنې ټول هغه غله او جنګسالاران چې له طالبانو تښتیدلي وه بیرته راوستل او په حکومت کې یې شامل کړل. کرزي وویل چې ډیر بهرني هیوادونه دجنګسالارانو سره تار لري او اوس هم هغوی ته پیسې ورکوي او ملاتړ یې کوي. همدا بهرنیان دهمدې جنګسالارانو او ټوپکیانو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعسکرو او پولیسو کار اخلي. کرزي وویل چې "دنړیوالې ټولنې ځینې غړي زمونږ دځینو فاسدو خلکو او مامورینو سره تړاو لري او دهغو څخه استفاده کوي. دمثال په توګه دبین المللي ټولنې یوه غړي هیواد دافغانستان په یوه برخه کې یو قوماندان ته دهغه دوفاداري په خاطر پیسې او مځکه ورکړېده.ایا زه (کولای سم) هغه محکمې ته راکش کړم؟"

دسترې محکمې دعالي شورئ غړي قاضي بهاءالدین بهاء اریانا تلویزیون ته په ۲ جولای ۲۰۰۸ م وویل چې د حکومت ډیر وزیران، دهغوی معینان او د دوائرو رئیسان د سترې محکمې لخوا په رشوت او اداري فساد محکوم سویدي خو څوک ئې نسي بندیان کولای. دغسې یو نظام به چې شریعت او قانون یوازې پرکمزوره تطبیق کیږي او زورواکان ترقانون لوړ او سرشاره ګرځي دخلکو اعتماد څنګه خپل کړي؟

د اوضاع ډیر څیړونکي پدې عقیده دي چې مخالفین نسې کولای ناټو په زور ماته کړي. خو بیله شکه اداري فساد، بیعدالتي او قاچاق به ئې حتمي ماتې ته ورټېله کوي او عمر به ئې ورلنډوي.

## پنځم سؤال د مخدره موادو د تولید وو.

دغربي نړۍ پالیسیو افغانستان په یوه تاریاکي هیواد بدل کړ څو دغرب په بازارو کې د مخدره موادو تقاضا ته جواب وویل سي. دامریکا خارجه وزیره افغانستان یو تاریاکي دولت بولي. په افغانستان کې د تریاکو تولید له ۱۸۰ ټنه په ۲۰۰۱ کې چې هغه هم د بدخشان په یوه محدوده ساحه کې کرل کېده و ۲۵۰۰ ټنه ته په ۲۰۰۷ کې ورسید. اوس تاریاک تقریبا ۴۰٪ د افغانستان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناخالصو ملي عوایدو (۳،۱بلیون ډالر) او د نړۍ د عرضې ۹۳٪ تشکیلوي. ددغو تریاکو بیه په امریکائي بازار کې ۴۳۰ بلیون ډالره ده چې افغانانو ته یې یوازې ۷،۰۰٪ (۳ بلیون ډالر) رسیږي. متباقي ۴۲۷ بلیون ډالره یې د اروپائي او امریکائي سوداګرو په جیبو کې لویږي. څېړونکي پدې عقیده دي چې مخدره مواد، د حکومت اداري فساد، د مخالفینو فعالیت، برمته نیول او په بیلو شکلونو د خلکو تهدید، ددولت په اداري دستګاه کې دزورواکانو نفوذ او جنایتونه دا ټول یوله بله ټینګې اړیکې سره لري. د مخدره موادو کاروبارکونکو ددولت په اداري، مالي او عدلي نظام، انکشافي پلانونو، حکومتدارۍ او اعمار مجدد کې کافي نفوذ کړیدی. د مخدره موادو په پیسو او دغرب په ملاتړ، زورواکان شخصي ملیشې ساتي او ددولت د قانون جوړولو او تطبیق کولو ارګانونو ته اوامر صادروي. په تیرو څو کالو کې د مخدره موادو دکښت او قاچاق د له منځه وړلو لپاره ټول پلانونه او فعالیتونه ناکام سویدي. د سینلس مؤسسه ادعاء کوي چې امریکا او نړیوال د مخدره موادو د کښت او قاچاق په مخنیوي کې ناکام دي. افغانانو ته کار او دعائدو کومه بله منبع نسته نو ځکه مجبور دي تریاک وکري. د بلخ والي عطاء محمد نور د اریانا تلویزیون سره په ۲ جولای ۲۰۰۸ م په یوه مرکه کې وویل چې نړیواله ټولنه او دکابل په حکومت کې مؤثرې حلقې په افغانستان کې د تریاک کښت تشویقوي.

د ۲۰۰۷ م کال د اپریل په سر کې زه (ددې کتاب لیکونکی) وطن ته تللی وم اوهلته مې ددې ټولو عناصرو ائتلاف خپله ولید. په کوئټه کې مدرسې خالي وې او ټول طالبان افغانستان ته د کوکنارو د نیښ وهلو لپاره تللي وه دا ځکه له قدیمه نیښ وهل دطالبانو کار دی. په افغانستان کې عسکرو او ددولت کم رتبه مامورینو هم دسهار لخوا تر رسمیاتو دمخه نیښ واهه دا ځکه معاشونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې کم وه او د تریاکو په کښت کې يې دیوې میاشتې په خوارۍ د ټول کال د دولت معاش برابرولای سوای. د طالبانو قوماندانانو خپل زکات ځینې اخیست. د دولت اکثره عالي رتبه مامورینو یا پخپلو ځمکو خاشخاش کرلي وه او که ئې ځمکه نه وه بیا د وظیفې ترڅنګ د تریاکو په تجارت مصروف وو. د داخلي او خارجي قاچاقبرانو خو پدا زندګي وه او حتی خارجي عسکر هم د دغه سخې بوټي څخه بې برخې نه وه. پدې ډول خاشخاشو خپل د کرم سایه پر ټولو غوړولې وه او دوست او دښمن يې په یو سنګرکی سره کښېنولی او یو وسیع ائتلاف ئې په جوړ کړی وو. که دولت یا ناټو د تریاکو دله منځه وړلو لپاره کومه عملي هڅه کړېوای نو ټولو به ئې په ګډه مقابله کړېوای چې دا د کابل دولت ته یو لوی ګواښ کیدای سوای چې نه کرزي غوښت، نه امریکایانو او نه ناټو. ازادۍ رادیو ته په ۱۲ نومبر ۲۰۰۷ م یو بزګر وویل چې ماته یو قوماندان چې په پارلمان کې دیو وکیل ملاتړ ورسره دی وویل چې که غواړې تاریاک دی مات نسي نو پیسه به راکوې. د کوکنارو د تولید د کنترول او هم په دولت کې د اداري فساد د مخنیوي لپاره نه یوازې د حکومت او د هغه د بهرني ملاتړو ترمنځ مشترکه ستراتیژي نسته بلکه کومه یوه چې سته هغه ددې دواړو ادامه او تقویه ده. د امریکا او ناټو په نظر اول باید طالبان مات سي او وروسته بیا تریاکو او اداري فساد ته توجه وسي خو زه وایم دا وروستۍ دواړه داسې لوئې بلاوې دي چې هم به افغانان وخوري او هم به اشغالګران. پخپله په افغان دولت کې هم د تریاکو د کښت د مخنیوي پر سر ګډ موقف نسته. یو شمیر مامورین وایي چې څرنګه چې په تیرو دیرشو کلونو کې جنګونو د بزګرانو داوبولګولو نظام خراب کړیدی، دغنمو او پنبې اصلاح سوی تخم نلري، کیمیاوي سره نه وررسیږي او په اسانه شرایطو د کښت لپاره پور نه ورپیدا کیږي نو ځکه بزګران مجبور دي چې تریاک وکري. دنیا باید مرسته وکړي چې د بزګرانو دغه مشروع غوښتنې ترسره سي. خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني بيا حتی د وزيرانو په سويه وائي چې نه، خاشخاش خلک له مجبوريت اوغريبۍ نه کري بلکه ډيرې پيسې جوړوي. همداراز، حامد کرزی دخاشخاشو پرکښت د هوا له لارې دزهرياتو دپاشلو شديد مخالف دی خو لومړی مرستيال يې بيا په شدت طرفدار دی.

دامريکا په خارجه وزارت کې دافغانستان لپاره دترياک دکنترول پخوانئ لوی مسؤل تامس شوئچ دنيويارک ټايمز سره په يوه مرکه کې (۲۷ جولای ۲۰۰۸) وئيلي دي چې په افغانستان کې دترياک دکښت دملاتړ په منظور دافغان دولت دلوړپوړو فاسدو چارواکو، ډارنو اروپائيانو، دپنتاګون تنګنظرو فوجيانو او طالبانو يو نامطلوب ائتلاف جوړ دی. او ترڅو دا ائتلاف وي دا بوټي به غوړيدلی پاته وي. ناټو او زموږ وزارت دفاع د کوکنارو پرضد د عملي اقدام مخالف دي؛ برتانويانو په هيلمند کې خلکو ته ويلي دي چې دوی په ترياکو غرض نلري. افغان حکومت وايي چې بزګران خاشخاش له غريبۍ کري خو ملل متحد بيا وايي چې نه دا کار له مستۍ کوي. پدې ډول دترياکو دکښت دمخنيوي لپاره هيڅ مشترکه ستراتيژي نسته. دامريکا ددفاع وزير رابرت ګيټس وکانګرس ته په ډسمبر ۲۰۰۷ م کې وويل چې موږ په افغانستان کې دکوکنارو د له منځه وړلو لپاره واضحه ستراتيژي نلرو. تامس شوئچ وائي چې که طالبان لدې کښته ګټه اخلي نو کرزی او دولت يې هم ډيره اخلي. دکرزي په حکومت کې بيساری اداري فساد ددې سبب سوی چې قاچاقبران په ازاده خپل کار وکړي او که احياناً ونيول سي رشوت ورکوي او خوشې کيږي. عبدالجبارثابت ماته ويليدي چې ما دشلو لوړپوړو چارواکو نومان چې د مخدراتو کاروبار کوي او په اداري فساد اخته دي کرزي ته ورکړل چې بايد تعقيب سي خو زه هغه لدې کاره منع

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړم. د سنډې ټايمز په حواله (۲ سپتمبر ۲۰۰۸) ديوه والي له کوره نهه ټنه تارياک راوايستل سول خو چا ترخه خبره هم ورته ونکړه.

خاشخاش د افغانستان په ځينو برخو کې لکه بدخشان، ننګرهار او هيلمند ترانقلاب پخوا هم کرل کيده خو البته په ډېره لږه پېمانه. مثلاً په **۱۹۷۵** م کې په هيلمند کې **۲۲** ټنه تارياک اخيستل سويوه او په **۲۰۰۷** م کي **۲۵۰۰** ټنه. پخوا بهرته د تارياکو د قاچاق يوازنۍ لار ايران وو چې زموږ د غربي سرحداتو څخه او يا د پاکستان له لارې ايران ته او له هغه ځايه يوروپ او امريکا ته تلل. د لومړي ځل لپاره و شمال ته د ترياک د قاچاق لار روسانو د افغانستان د اشغال په وختکی خلاصه کړه. کله چې روسانو پر افغانستان يرغل وکړ او پخلاف يې د افغانانو مقاومت شديد سو. نو د مقاومت د ځپلو، د خلکو د خپلولو او خپل ګوډاګي حکومت ته د وسيع حمايت د حاصلولو په منظور به دوی ترخپل کنترول لاندې سيمو کې د خاشخاش کرل نه منع کول. روسانو به خپلو وفادارو ملېشه قوماندانو ته د خاشخاش کرلو او عالي رتبه مامورينو ته د مخدراتو د قاچاق امتيازورکاوه. مجاهدينو هم د تارياک کرل نه منع کول دا ځکه دوی دولت نه وو او دا يې د ځان مکلفيت نه باله. له بلې خوا روسانو د دې لپاره چې خپل عسکر په افغانستان کې خوښ وساتي د نشئي موادو پر نه استعمال او د دوی لخوا ئې پر نه وړلو ټينګار نه کاوه. د روسيې د عسکرو به په افغانستان کې نشه او بې بندوباره ژوند وو او چې کله به يې وخت پوره سو او کورته به تلـه نو د ځان سره به يې څه مخدرات هم وړل. هغه به په د ننه روسيه کې ښه پيسه ورجوړه کړه او دوی او کورنۍ به يې خوښ سول. روسانو غوښته چې خپل عسکر لدغه لارې و افغانستان ته په تلو تشويق کړي. پدې ډول روسانو د خپلو عسکرو لخوا د مخدره موادو پر وړلو سترګې پټولې. روسي عسکر په عسکري الوتکو کې تلل او نه تلاشي کيدل او تقريبا په ازاده او اطمنان ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



داکاروبار کاوه. پدې ډول دافغانستان په تاریخ کې د تاریاکو دقاچاق لار وشمال ته روسانو خلاصه کړه او تراوسه دا لار ښه فعاله ده. له افغانستانه د روسانو دوتلو څخه تراوسه د افغانستان سره د تاجکستان پرسرحد لس زره روسي عسکر پراته دي او ډېر واره روسي عسکر حتی جنرالان یې دمخدره موادو په قاچاق تورن سویدی. همدا تور اوس افغانان پر امریکا او ناټو او دهغو پرعسکرو لګوي چې دروسانو پرپله روان دي. ملل متحد هم وایي چې له تاریاکه دهیروئینو دجوړولو فابریکې په افغانستان کې بهرنیان چلوي او ضروري کیمیاوي مواد یې له بهره ورته راځي خو مخ یې نه نیول کیږي (اریانا تلویزیون ۲۸ جولای ۲۰۰۸).

## شپږم سؤال په افغانستان کې د بهرنیو مرستو د مؤثریت وو.

د جرمني دبون په کنفرانس کې د غرب ظاهراً تلاش دا وو چې افغانستان داسې یوحالت ته راولي چې بیا د تروریزم د تربیې مرکز نه وي نوځکه یې د اساسي قانون، انتخاباتو او د قضاء داصلاح لپاره یو پروګرام تصویب کړ. او کابل ته یې نړیوال فوج د کابل دحکومت د ساتلو او ددغه پروګرام دعملي کولو لپاره واستاوه. په غیرنظامي برخه کې د بون دکنفرانس غوښتنه داوه چې افغانستان یو مستقر هیواد وي چې دګاونډیو سره په سوله کې ژوند وکړي، دخلکو نماینده حکومت ولري، مؤثر فوج ولري، ټول مهاجر بیرته خپل هیواد ته ستانه سي، هیواد بیا اباد او اقتصادي وده یې یقیني سي. داقرارداد د ملګروملتو دمؤسسې دامنیت شوری پخپل ۱۳۸۲ مه پریکړه کې هم تائید کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـه پـه ځیـر وکتـل سـي پسـله تقریبـاً اتـه کالـه نړیوالـو خپلـې کـړې وعـدې ډیـرې لـږې پـوره کړیـدي. تراوسـه تـر اتلس بلیـون ډالـره ډیـر افغانسـتان تـه د بیـا ابادیـدو لپـاره راغلیـدي. خـو ډیـر لـږ یـې خلکوتـه رسـیدلي او د هغـوی پـه روزمـره ژونـد کـې ئـې ډیـر کـم مثبـت تغییـر راوسـتی دی. البتـه ددیـرش کـالو خرابـۍ پـه ۷ کـالو کـې ټـول نسـي سـمیدای خـو د افغانـانو غوښـتنې ډیـرې سـاده، بسـیطې خـو واقعـي وې یعنـي د ژونـد د لومړنیـو ضـروریاتو درلـودل. حکومـت او نړیوالـو نـه یـوازې د افغانـانو سـره ددغـو بسـیطو غوښـتنو پـه پـوره کیـدو کـې مرسـته ونکـړه بلکـه ددغـو بسـیطو او لومړنیـو غوښـتنو دزیربنـاء د تـرمیم لپـاره یـې هـم ډیـر لـږ کـار وکـړ. کـه څـه هـم نړیوالـو پـه افغانسـتان کـې پـه ځینـو سـاحو کـې څـه سیاسـي بریـاوې درلودلیـدي لکـه دجمهـوري ریاسـت، ولسـي جرګـې، ولایتـي جرګـو انتخابـات، تعلـیم او تربیـه، مخـابرات، نشـرات، فـوج، پـولیس، قضـاء، روغتیـا او دکلیـو پراختیـا خـو غیـر مـؤثر او فاسـد حکومـت، ډیـره بیکـاري، پـه بهرنیـو مرسـتو لګولـو کـې تشـتت او فسـاد، د نـاټو پـر ښـه نیـت شـک او عـدم همږغـي دغـه بریـاوې خنثـی کړیـدي. حتـی بـاخبره منـابع پـدې عقیـده دي چـې امریکـا او انګلیسـتان ترجنـګ وروسـته افغانسـتان لپـاره هـیڅ سـتراتیجي نـه درلـوده. دانګلیسـتان صـدراعظم تـوني بلیـر پـر افغانسـتان پـر ۷- اکتـوبر ۲۰۰۱ دحملـې امـر وکـړ بیلـه دې چـې دخپلـې کـابینې لـه نـږدې وزیرانـو سـره مسـئله جـدي مطـرح کـړي (جـان کیمپنـر، ص ۱۲۹). دملګـرو ملتـو دمؤسسـې دمسـؤلینو پـه قـول پـه بـون کـې (لـه یـوې خـوا ) دملګرو ملتـو اداره بیوا کـه وه (اولـه بلـې خـوا امریکایـانو داسـې اسـتعمال کـړه چـې اصـولي کـردار یـې ادا نکـړای سـوای). شپږمیاشـتی وروسـته داضـطراري لـویې جرګـې پـه وختکـې یـې هـم ونکـړای سـوای چـې کابـل دبـون دفیصـلې مطـابق لـه شخصـي ملیشـو پـاک کـړي. دامریکـا دوخـت دجنـګ وزیـر (دونالـډ رمزفیلـډ ) دشـمال ائـتلاف پـه لاس دطالبـانو وژلوتـه دومـره اړم وو چـې نـه یـې غوښـتل دغـه ملیشـې مهـار او ددولـت پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي پروسه کې منسجم سي. ایساف پر دغو ملیشو واک نه درلود بلکه موازي یې کار ورسره کاوه. ایساف، دولت له سقوط او حملې ساتي خو د ملیشو دظلم، تجاوز او جنګي جرائمو مخ یې نه نیوی. رمزفیلډ پرې ټینګار کاوه چې ایساف خپل تسلط پرټول افغانستان خپور کړي بلکه اجازه یې ورکړه چې ملیشې ددولت پر امنیتي اورګانونو، دولتي دارائي ګانو او ګمرکاتو کنترول پیدا کړي. نړیوالې ټولنې هم بیله دې چې د افغان حکومت جوړولو، پلان او ترجیحاتو ته صبر وکړي دخپلو إن جي أو ګانو او قراردادیانو په لاسونو دزرو ملیونو ډالرو مصرفول په موهومي سنجش پیل کړل. په نتیجه کې نه یوازې عادي افغانان بلکه د ناټو د هیوادو مهم سیاسي و نظامي مقامات لکه د انګلیستان پخوانی اشډن، د امریکا جنرال جیمز جونز، اروپائي اتحادیه، سینلس او ډیر نور نړیوال کارپوه شخصیتونه او اداري په افغانستان کې د نړیوالو او د کابل د حکومت په کړو اجراأتو قانع ندي. حتی د افغانستان د جمهور رئیس لومړی مرستیال احمد ضیاء مسعود پخپل کلي پنجشیر کې وویل (۱۲ فبروري ۲۰۰۹) چې: "اوسنی حکومت ناکام او له درغلیو ډک دی، ممکن کرزی په راتلونکو انتخاباتو کې دځان په ګټه کار وکړي او د جوزا له لومړۍ نیټې وروسته باید لنډمهاله اداره واک په لاس کې واخلي."

افغانستان یو زراعتي هیواد او اقتصاد ئې پرهمدې سکتور ولاړ دی. د تقریباً ۸ کالو په موده کې نه داوبو یو ضروري بند جوړ سو او نه یوه مهمه ویاله او کانال پاک او یا ترمیم سو او نه یوه غټه کارخانه جوړه یا حتی ترمیم سوېده. یوازې یوڅو وړې پروژې د پیې ارتې لخوا ترلاس لاندې نیول سویدي چې د هغو هدف هم د پروژو ترنامه لاندې په طالبانو پسې کتل دي. افغاني بزګرانو ته ډیر کم د کرنې تخم او وسایل او حتی زراعتي او مالداري پور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکول سویدی چې دا خپله و خاشخاش کرلو ته موقع ورکول دي. څرنګه چې کرنې او مالدارۍ په افغانستان کې په تیرو ۳۰ کلونو کې سخته صدمه لیدلې ده د نړیوالې ټولنې څخه دا توقع وه او ورته ښه فرصت وو چې صنعت یې تقویه کړی وای. د ارزانه او خواریکښ کارګر شتون له یوې خوا او د افغانستان جغرافیائي موقعیت له بلې خوا چې د مرکزي اسیا ، جنوبي اسیا ، غربي اسیا او خلیج په منځکې پروت دی خارجي پانګوال ښه تشویقولای سوای. خو داکار ونسو. افغانستان د یو غرني هیواد په توګه چې ډېرې پاکې اوبه یې په هره دره کې سته او ډیرځایونه د برېښنا لوی او واړه بندونه جوړیدای سي او ترخپل ضرورت زیاته برېښنا بهرته صادرولای سي اوس د برېښنا له نعمته محروم دی او له بهره ئې واردوي. حتی همدا پسله اته کاله د زرو ملیونو ډالرو دراتوئیدو او د بهرنیانو د بیساري حضور سره سره د کابل د ښارد اوسیدونکو نیمائي برېښنا نلري. په لویه کچه بیکاري، د بیا ابادیدو د عملیې سوکه والی، د حکومت بېعدالتیو او د ناټو بمباریو خلک اړ کړیدي چې یا پاکستان یا ایران ته کډه وکړي او یا دځان دحمایت او امرار معیشت لپاره د زورواکانو او یا طالبانو سره یوځای سي. د بهرنیو مرستو دغسې عدم مؤثریت د دولت مشروعیت ته هم لویه صدمه رسولیده.

سینلس چې د امنیت او پالیسۍ په چارو کې پاریس میشته یوه نړیواله مشورتي اداره ده پخپل وروستي راپورکې لیکلي چې کابل او نړیوالې ټولنې د افغانستان د اعمار مجدد مکررې وعدې د افغانانو سره تر سره نکړې. ډېر افغانان خپل په ژوند کې څه مثبت بدلون نهویني بلکه ژوند یې ترپخوا خراب سویدی. خلک سؤال کوي چې بلیونونه ډالره چې په افغانستان کې مصرف سویدي چیرې تللي دي. له بده ایو هیوادو څخه افغانستان ته تللې مرستې غیرمنسجمې، غیر مؤثرې او ضائع سویدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان اوس د استدلال په یوه داسې دائره کې راګیر دی چې امریکا او ناټو وائي امنیت د کار او پرمختګ لپاره شرط دی. خو ډیر افغانان پدې عقیده دي چې کار، بیا ودانول او پرمختګ په افغانستان کې امنیت راوستلای سي. که عامو خلکو ته کار پیدا ، بیا ودانول پیل او انکشاف یقیني سي د خلکو اعتماد به پر حکومت اعاده او په ملاتړ به یې راووزي. ځوک به بیا خپل نازولی زوی یو فاسق او ظالم جنګسالار ته نه سپاري او دهغه د اقتدار او حرص لپاره به خپل اولاد نه قربانوي. دوی به نه یوازې بیا د مخالفینو سره مرسته ونکړي بلکه هغوی به پخپلو سیمو کې د حکومت ضد عملیاتو ته پرینږدي. چریکي جنګ بې د ولس له ملاتړه ممکن ندی؛ که ولس خپل سي چریکي جنګ به څنګه ادامه پیدا کړي او بریالی سي؟

## اووم سؤال د افغانانو د اقتصادي حالت د ځرنګوالی وو.

اصلي امنیت د خلکو د زړونو په لاسته راوړو کې دی. که څوک په افغانستان کې امینت، دموکراسي، پرمختګ او سوکالي غواړي نو باید په اقتصادي ساحه کې کامیاب کار وکړي. تجربې ښوولې ده چې په افغانستان کې زور او نظامي عملیات ندي بریالي سوي. دلته سکندر خپل سرزوره سر خوړلی دی، دانګریزانو پزه چې پرپاچاهي یې لمر نه ډوبیدی سولیدلې ده، سورلښکر چې د دنیا د تسخیر خوبونه یې لیدل شرمیدلی دی او داده امریکا ورپسې روانه ده. راسئ سرچپه ئې عملي کړو چې د ټولو پکښې خیر وي او هغه داچې سیاسي حل ته موقع ورکړو او دهیواد اقتصادي بیا رغونه وکړو او پدې ډول امنیت په ښکیلاک او زیبښاک کې نه بلکه د خلکو په رضائیت او اقتصادي سوکالۍ کې وپلټو. داځکه د افغانستان بحران تر ډیره حده سیاسي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سازماني او اقتصادي دی نه نظامي. تر یولک زیات داخلي او خارجي لښکرو چې د عصر په ټولو پرمخ تللو وسلو مجهز دي او بیله اټومه د هیڅ ډول تخریبي وسلې د استعمال څخه یې دریغ هم ندی کړی اتوکالو کې ونکړای سوه په افغانستان کې امن قائم کړي او ورځ په ورځ اوضاع شوړیږي دا ښئي چې د افغانستان بحران په زور نه بلکه په اقتصادي او سیاسي رغاوي حل کیدای سي.

سره لدې چې ډېر غربي ستراتیجستان ښائي موافق نه وي خو زموږ باور دادی چې په افغانستان کې بیکاري او بغاوت مستقیماً سره متناسب دي. که خلکو ته کار پیدا سي او ولس په یو ګوله موړ سي دا به د حکومت اعتبار ډیر او هغه ته به مشروعیت وروبخښي. خلکو ته کار پیدا کیده به د زورواکانو زور او به کړي او ډیر لږ خلک به وي چې د یو جنایتکار او جنګسالار توپک په غاړه کې واچوي او د ده لپاره خپل هیوادوال مړه کړي او یا ځان قربان کړي. څوک چې ډیر مجبور نه وي په اسانه نه حاضریږي چې ځان مړ، مور بوره او خپل اولاد یتیمان کړي. د کسب و کار موجودیت د غه مجبوریت له منځه وړي. د کابل حکومت او نړیوال ټولنه پدې کې ناکام سویدي چې عامو خلکو ته د کار زمینه مساعده کړي، مالي او پولي پاړسوب کښته، کرائې او نرخونه کنترول او د خوار او بډای ترمنځ د ژوند د سطح تفاوت کم کړي. همدا راز دوی بریالي نسول چې په اصطلاح د خارجي متخصصینو لښکر راکم او په زرو د چوړ اِن جي أو ګانې ترکنترول لاندې راولي. دوی ونه توانیدل چې د ملیاردونو ډالرو او د خارجي ماهرانو د یو لوی فوج په درلودلو سره بیا هم د خلکو پر ژوند یو مثبت اثر وکړي. دغه نامطلوب حالت، د بیکارانو یو لوی لښکر د دولت او خارجیانو څخه دخوابدو کسانو او مخالفینو سره یوځای کړیدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې لپاره چې د کابل حکومت ته مشروعیت او پراخ ملاتړ ترلاسه کړي، دحکومت بهرني ملاتړو په بهر کې افغان مهاجرین پخپلو غوړو وعدو وهڅول چې خپل وطن ته ستانه سي. د دغه نړیوال پراخ تشویق په اساس ملیونونه افغان مهاجرین له پاکستان، ایران او نورو هیوادو څخه افغانستان ته ستانه سول بیله دی چې نړیوالو په افغانستان کې د دوی د کور او کار غم خوړلی وي. تیرو دیرشو کلونو جنګونو او مهاجرت دهغوی کورونه پخپلو سیمو کې خراب، کښت و کروندې ویجاړې او کاروبار مختل کړیدی او دراستنیدو پروخت هم چا مرسته ورسره ونکړه نو له ناچاره یې لویو ښاروته دډالرو دباران او د کار دپیدا کیدو په هیله مخه کړه. په لویو ښارو، خصوصاً کابل کې، دنفوس دغه زیات تراکم او پراخې بیکارۍ دحکومت پر کمزورو اوږو یوبل درونه پېټی ور زیات کړ او ددولت اقتصادي، چاپېریال، ټولنیزې او سیاسي ستونزې یې نورې هم وردېرې او حادې کړې.

امریکایانو، دایران څخه په افغانستان او عراق کې دهمکارۍ په طمع دنفت وغاز دپایپلائن او تجارتي لارو د جوړولو هغه پروژه وځنډول کومه چې به له ترکمنستانه پاکستان ته دافغانستان له لارې تلل او دمرکزي اسیا انرژي ئې جنوبي اسیا او غربي نړۍ ته رسول. ایران تل ددغه پروژې مخالفت کړیدی او دنورو علتونو وځنګته پدغه سیمه کې دجنګ داور د بلیدو یو مهم عامل هم ایران دی. ایران غواړي دافغانستان په غرب او جنوب غرب کې دعدم امنیت له لارې دا پروژه عملي نسي او په عوض کې دایران په خاوره کې دغه لارې تیرې سي. دغه پروژه که عملي سي دکاله ۳۰۰ ملیونه ډالره دافغانستان دولت ته مالیه ورکوي، ترلس زره ډیرو افغانانو ته کار پیدا کوي، او په لارکې پرتو کلیو او ښاروته ډېر ارزانه برېښنا او غاز ورکوي. دا پروژه دجنوبي اسیا او مرکزي اسیا ترمنځ تجارت تقویه کوي او په افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



عموماً او غربي سيموکې خصوصاً يو ډير اقتصادي تحول راولي؛ ترانسپورت تقويه کيږي او دلارې په اوږدو کې ورکشاپونه، رستورانونه، هوټلونه، بازارونه او نورمرستندويه اقتصادي فعاليتونه رامنځته کيږي. مهمه سياسي ګټه به ئې دا وي لکه اوس چې افغانستان ګاونډيانو ته اړ دی ددې پروژې په عملي کېدو سره به ګاونډيان هم افغانستان ته اړ سي؛ افغانستان به ورته مهم سي او ددغه هيواد ثبات او استقرار به پخپله ګټه وبولي. همداراز، څرنګه چې افغانستان يوغرنی هيواد او ډيری اوبه او دبرېښنا دتوليد ډير امکانات لري توقع وه چې امريکا او نړيواله ټولنه به مرسته وکړي چې داوبو بندونه جوړ سي. ددغو بندونو څخه دويالو پذريعه لامزروع مځکې او دښتونه اوبه سي او خلک به دترياک پرځای نور مشروع کښتونه ولري. خو دا مهمې پروژې چې سروې ګانې يې دثور ترکودتا دمخه د داؤدخان په وختکې تکميل سوې وې تېر اته کاله دپيسو، متخصصينو او نړيوال حضور سره سره جوړې نسوې او افغانستان ددې پرځای چې برېښنا ئې صادره کړېوای اوس له بهره برېښنا واردوي. او ددې علت دادی چې په دغه مورد کې سياسي اراده نسته. امريکايان دپښتنو په سيمو کې چې ايران او پاکستان ته څرمه دي جنګ ته ضرورت لري څو له يوې خوا ايران خوښ وساتي چې دپايپلائن پروژه پاته سوه، دوهم دخپلو اوږدمهاليو اهدافو لپاره پر پاکستان فشار ډېر کړي او دريم په سيمه کې خپل حضور توجيه کړي. برعکس، امريکايان ددې لپاره چې په مرکزي اسيا کې خپلې منګلې مضبوطې ښخې کړي په شمال دافغانستان کې و امن ته ضرورت لري. همداراز، امريکا ددې لپاره چې دافغانستان شمالي ګاونډي هيوادونه خوښ وساتي ترڅو په نوموړو هيوادو کې په اسانۍ کار وکړي نو په افغانستان کې هغوی ته سياسي، فرهنګي، او تجارتي امتيازات ورکوي او دافغانستان شمالي برخې دهغوی د نفوذ په ساحه کې قبلوي. امريکا او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړیوال بانکونه کوښښ کوي چې د افغانستان په عوض کې د قرغزستان په شمول زموږ په شمالي ګاونډي هیوادونو کې داوبو بندونه او بریښناکوټونه جوړ کړي او د هغو څخه تولید سوې بریښنا د افغانستان له لارې و پاکستان ته انتقال کړي. په لار کې به پرموږ هم بریښنا خرڅوي او پدې ډول به زموږ منابع او ظرفیتونه راکد پاتیږي.

ناټو او د کابل د حکومت اقتصادي ماهرینو د غربي نړۍ د اقتصادي نظام په راکاپي کولو سره په افغانستان کې د ازاد بازار اقتصاد پلی کړ، دولتي سکتورونو ته یې نه یوازې توجه ونکړه بلکه هغه یې پر جنګسالارانو او متنفذو اشخاصو وپلورل. لکه دیو سیاسي نظام وارديدل چې خراب عواقب لري داسې د اقتصادي نظام کاپي او بېفکره پلی کول هم نامطوب نتائج منځته راوړي. ناټو او د کابل حکومت ډیر معدود داسې اقتصادپوهان لري چې دافغانستان دټولنیز او کلتوري جوړښت سره بلد دي څو توانیدلیوای چې غربي اقتصادي تجربې یې د خپل هیواد د شرایطو سره سازګارې کړیوای. ددوی ډیرئ په غرب کې لوی او تربیه سویدي او یوازې په دا پوهیږي چې څنګه هغه څه چې یې په غرب کې لیدلي دي کاپي او په افغانستان کې پلی کړي. دوی ددې توان نلري چې په بهر کې لاسته راوړې پوهه دافغانستان د شرایطو سره منطبق کړي. ماته یو افغان ځوان معلوم دی چې امریکا کې پیدا او ۱۲ کاله ښوونځی یې هلته په تکلیف ویلې دی. پخوا یې افغانستان هیڅ نه وو لیدلی خو اوس دا څو کاله په افغانستان کې دیو ډیر مهم وزارت مشاور دی او په ډالرو ډېر لوړ معاش اخلي. د نظام او سړیو داډول واردات به څه نتیجه ورکړي؟ په غرب کې دازاد بازار اقتصادي نظام لکه څنګه چې ادم سمیت او جان کینز ویلي وه اوس نسته او غربي دولتونه خپلو بزګرانو ته سبسیډي (توپیري مرستې) ورکوي او دبانکونو او نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقتصادي سکتورونو د استقرار او ودې په منظور مداخلې کوي خو په افغانستان کې بیا هغه ازاد بازار غواړي کوم چې خپله یې نلري. دوی غواړي افغانستان بې ورا و دیوال وي چې هرڅه څوک ورته راوړي او یا ئې ځینې وباسي مخ یې څوک ونه نیسي. په افغانستان کې د ازاد بازار د اقتصاد ودې ته ضرورت دی خو دې مرحلې ته تر رسیدو دمخه د دولت فرض دي چې د یوه باثبات اقتصادي نظام او دوامداره متوازنې اقتصادي ودې لپاره ځینې سکتورونه پخپل لاس کې ولري، ځینې نور تر خپل نظر لاندې وساتي او ځینې خلکو ته وسپاري. دا د دولت وظیفه ده چې یو اقتصادي پلان جوړ کړي چې کوم اقتصادي فعالیتونه به دولت کوي او کوم به شخصي تشبثاتو ته پریږدي. حکومت باید ځینې اقتصادي سکتورونه او شخصي تشبثات د خارجي بازارونو له تهاجمه وساتي.

د مخدره موادو پر بهرنۍ مافیا سربیره، بهرنیو مشاورینو، متخصصینو، إن جي أو ګانو او قراردادیانو هم چې د هغوی مسلکي پوهه، د پروژو مؤلدیت او مفدیت او روڼ حساب ورکول ترجدي شک او پوښتنې لاندې دي د افغانستان پر اقتصاد یرغل کړیدی. لکه څنګه چې د ناټو عسکر ازادانه هرڅوک نیولای سي، بندي کولای سي، وژلای او بمبارد کولای سي همداراز د خارجي مشاورینو، متخصصینو، إن جي أو ګانو او قراردادیانو لښکر ازادي لري چې د افغانستان د اقتصاد هره برخه چې وغواړي ګوډه، فلج او یا مړه کړي. لکه فاحشې ښځې او د عیسائیت مبلغین چې په زرو د حکومت له اجازې او خبر پرته افغانستان ته ځي او راځي او په ډاډه زړه خپل کار کوي، دا ډول خارجي مشاورین او إن جي أو ګانې هم د حکومت له علم او چوکاټه بهر چیرې چې یې زړه غواړي او ګټه یې ایجابوي فعالیت کوي. بې مالکه ملک په لاس ورغلی دی. په افغانستان کې تقریباً ۲۲۰۰ إن جي أو ګانې کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي او له خارجي مرسته کونکو هيوادو څخه مالي مرستې اخلي. ددوی کارونو چندانې ملموسه نتيجه نده ورکړې او نه څوک سر پسې ګرځوي، پداسې حال کې چې همدا مرسته کونکي پخپلو هيوادو کې د خپلو خلکو سره د يوه يوه پول (سينټ ، پينس) حساب کوي. د افغانستان د ماليې وزير انوارالحق احدي داريانا تلويزيون سره په يوه مرکه کې چې په ۵ مئ ۲۰۰۸ م خپره سوه شکايت وکړ چې "مرسته کونکي هيوادونه دوه پر درې برخه مرستې خپل مربوط إن جي أو ګانو ته رأساً ورکوي او موږ نه په خبريږو او نه پوهيږو چې څومره او چېرې مصرف سويدي؟ موږ نه پوهيږو څونه کار سويدی او څونه نور پکار دی او چيرې په کار دی؟ په حقيقت کې دوی خپلې مرستې په يو اوبل شکل بيرته وړي. همداراز، ددوی کار ډير قيمتي او بيله روڼې حسابدهی دی. مثلاً دوی يو کيلومتر سرک په يو مليون ډالره جوړوي هغه هم سم نه. پداسې حال کې چې موږ تردغه ښه کار ددوی د مصرف په دريمه کولای سو". دا قابل فهم ده چې د افغان حکومت د اقتصادي ادارو کاري ظرفيت په اول سر کې کم وو او بهرنۍ مرستې ته ئې ضرورت درلود خو تر اته کلو وروسته د بهبود توقع وه او دا غيرقابل قبول ده چې اوس هم خارجي مرستې د حکومت تر چوکات بهر د خارجيانو په لاس مصرف کيږي. پداسې حال کې چې د بهرنيو مرستو مصرف د دواړو اړخونو ترمنځ باهمي همکاري غواړي. دغه استثماري يرغل د افغان دولت اقتصادي ادارې سختې کمزورې کړيدي. په إن جي أو ګانو کې او چتو معاشونو د دولتي ادارو څخه د پوهو او مسلکي کسانو فرار ته لار هواره کړيده او دولت يې د فني پرسونل په قلت او د کاري ظرفيت په مزيد کموالي مواجه کړيدی. لکه څنګه چې به خارجي فوجونو ته په افغانستان کې تل ضرورت وي، اشغالګرانو اقتصادي فضاء داسې راوستلېده چې همداسې به د کابل حکومت خارجي ماهرانو ته تل اړ وي. نتيجه به ئې داوي چې ښاغلی احدي (د انګلستان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



فاینننشلټایمز په نقل قول) اعتراف کوي چې مورږ د نړیوال پولي سازمان هغه غوښتنه پوره نکړای سوای چې ویلي یې وه چې افغانستان به د خپلې بودجې ۸٪ د داخلي عوایدو څخه پوره کوي. تاسې وګورئ، د کابل د حکومت کاري ظرفیت تردې حده کمزوری دی چې تر ۱۵ ملیونه ډالره په ډېر مصرف او درې کاله مسلسل کار یې د داسې انکشافي پلان خاکه جوړه نکړای سوای چې نړیوال بانک او نورو مرسته کونکو ته د منلو وړ وي. د احدي په قول نړیوال پولي سازمان د کابل د غه پلان د بیا غور لپاره مسترد کړ. که د کابل حکومت د غربي نړۍ عمیل او لاسپوڅی نه وای د دغه بیا غور موقع ئې هم نه ورکول.

دکابل د برېښنا رئیس انجنیر محمد سرورصدیقي اریانا تلویزیون ته په ۲ جولای ۲۰۰۸ م وویل چې "د کابل د ښار یوازي په سلو کې ۲۵ کورونه نوبتي برېښنا لري." پسله اته کاله حکومت د زرو ملیونو ډالرو په مصرف یوازې د کابل هغو سیموته برېښنا تهیه کړېده او هغه هم نوبتي چې هلته خارجیان او د حکومت غټان پراته دي.

افغانستان یو زراعتي هیواد او اقتصاد یې هم تر اتیا په سلو کې پر همدغه سکتور ولاړ دی. خو د اکسفام په قول دغه مهم سکتور تراوسه د ۱۲۰۰۰ ملیونو ډالرو څخه فقط ۴۰۰ ملیونه ډالره ترلاسه کړیدي. دا چې ددې مبلغ څخه به څونه بزګرته رسیدلي وي معلومه نده خو دا یقیني ده چې ډېر به کم وي. یوازې امریکا په افغانستان کې سل ملیونه ډالره د ورځې نظامي مصرف لري (واشنګتن پست - ۲۸ جولای ۲۰۰۸). دوی وایي چې مورږ د ورځې ۷ ملیونه ډالره ملکي مصارف لرو چې ډیره برخه یې هغو ولایاتو ته ځي چې دوی عسکر پکښې لري او اکثره د پي ار ټي له لاری لګیږي. په بشري مرستو کې د مرسته کوونکو ترمنځ مفاهمه او تنظیم نسته او ډیر لیدل سویدي چې پر یوه پروژه څو ځایه پیسه اخیستل سوې او څو ځایه خرڅه سویده او پیسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضائع سویدي. اکسفام ادعاء کوي چې مرسته کوونکي پدې کې ناکام سویدي چې لومړی پخپل منځکې او بیا دحکومت سره خپل کارونه همږغي کړي. مرسته کوونکې مؤسسې او هیوادونه یې پدې کې پاته راغلیدي چې د خپلو پیسو دمصرف په ځای، مؤثریت او د مرستو د لګولو په ستراتیجۍ پسې وګرځي. په بهرنیو مرستندویه مؤسساتو کې ډیر فساد موجود دی. ددې لپاره چې قرارداد ونه پخپلو شرائطو ژر ترلاسه، خپل اداري فساد پټ او مالیه په بډه ووهي خارجي إن جي أو ګانې کوښښ کوي چې په کابل کې یو کمزور، رشوتخور او په اداري فساد کې ډوب حکومت موجود وي. پدې ډول د کابل دحکومت په اداري فساد او کمزورۍ کې د بهرنیو مرستندویانو لوی لاس دی.

دهغه هیواد اقتصاد چې تربهرنی اشغال لاندې وي د اشغالګر قوت لخوا داسې تنظیمیږي چې پرخپلو پښو ونه دریږي او تل یې پرنورو تکیه او د مرستې لاس یې نوروته اوږد وي. افریقا چې دنړۍ په ټولو قارو کې دطبیعي زیرمو په لحاظ غني ده او په سوو کاله دغربي نړۍ ترتسلط لاندې او سیږي او په سوو زره ملیونه ډالره یې دمرستې په نوم پکې مصرف کړیدي، تراوسه یې نه خلک په وچه ډوډۍ ماړه سوه او نه ډموکراسي پکښې راغله بلکه دا مرستې ددوی په ځان ماران دي چې تر ډیره حده ددوی دبې اتفاق کولو او پخپلو منځوکې دقوم، ژبې، سمت، مذهب او نژاد په نوم دجنګولو لپاره استعمال سوي ترڅو استعمارګرته په ډاډه زړه ترډیره وخته هلته دپاته کیدو فرصت وي. ددغو هیوادونو امنیت، روحي حالت او اقتصاد، استعمارګرو داسې په مهارت ورخراب کړی او په خلکو کې یې خودي او عزت النفس دومره کمزوره کړیدی چې بیله بهرنیانو نور ژوند ورته یوه فاجعه ښکاري. ددوی په منځکې یې دومره موهومه بدبیني پیدا کړې او دومره یې دخلکو

www.hewad.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصیت ور ذلیل کړیدی چې اکثره تعلیمافته یې وایې که بهرنیان ووزي موږ به سره وخورو او دومره یې اقتصاد ورفلج کړی او پرخارج متکي کړیدی چې وایې که بهرنیان نه وي څه به خورو؟ پدې ډول دوی بهرنیان خپل حافظ وناصر او رزاق ګڼي. په همدغه سیاست بهرنیانو په سوو کاله دوی غلامان ساتلي او ثروتونه یې ورلوټ کړیدي.

استعمارګران پوهیږي چې په یوه ورسته پاته هیواد کې خلک ترهرڅه دمخه واقتصادي مرستوته اړ دي. نوځکه دوی ظاهراً له یوې خوا ډیرې مرستې مستعمره هیواد ته استوي چې خلک ورته خوشبین سي او پخپله خاوره کې داستعمارګر حضور ومني؛ اوله بلې خوا ځرنګه چې ددوی اصلي هدف دمستعمره هیواد ابادول ندي نو همدا استول سوې مرستې دخپلو متخصصینو دمعاش او په نورو نومونو بیرته ځینې وړي. البته ددغو مرستو څخه یولږ باید دخپل حضور دتوجیه کولو او دخلکو د خولو دخوږولو لپاره هم ولګوي. د کنیډین پریس په حواله (۲۸مئی۲۰۰۹ )افغانستان کې په سلو کې اتیابهرنۍ مرستې دبهرنیوقرارداديانو له لارې بېرته مرسته کوونکوهیوادونوته ځي پاته شل په سلو کې د اداري فساد ښکار دي او افغان ولس ته ډیر کم شی رسیږي. استعمارګر هغه قصاب ته ورته دی چې دتازه وښو دسته ئې په لاس کې نیولې او پسه ته ئې ښوروي ترڅو په کراره یې دحلالولو ترځایه بوزي. نوموړی پوهیږي چې پسه دده سره پخپله خوښه قصابخانې ته نه ځي نو ځکه واښه ورته ښکاره کوي او احیاناً څه فرصت هم ورکوي چې خوله ورواچوي او څه خوند یې ترخوله سي خو په هیڅ وجه واښه ددې لپاره قصاب په لاس کې ندي نیولي چې وږی پسه یې وخوري او په موړ سي. حتی قصاب دومره په زړه سخت دی چې پسه مسلخ ته دده سره بېله مقاومته ولاړ هم سي هغه په لاس کې نیولي واښه دغه وږي پسه ته نه ورکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکه په همهغه وښو نور پسونه مسلخ ته رسوي. پدې ډول د وړو او ساده پسو توزنه هيله هغوی د هوښيار قصاب سره د مرګ ځای ته بېله مقاومته بيائي.

## اتم سؤال داکټروافغانانو دا وو چې ايا د خارجيانو حضور په افغانستان کې افغانانو ته ګټور دی؟

د بون قرارداد او د ملګرو ملتو د مؤسسې امنيت شورى په افغانستان کې بهرنۍ مداخلې او لاسوهنې ته قانوني بڼه ورکړه او د افغانستان را تلونکې ئې چې څرنګه ګاونډيانو ئې او لويو طاقتونو غوښتل ترسيم کړه. د نړۍ ۳۷ هيوادونو ته يې د ايساف ترنامه لاندې حق ورکړ چې د افغانستان سرنوشت دې د قوې د استعمال په شمول د دوی په لاس کې وي. کوم حکومت چې د بون د کنفرانس په نتيجه کې د افغانانو لپاره جوړ سو په حقيقت کې د ملګرو ملتو د مؤسسې د پخوانۍ فيصلې مطابق او د هغه مؤسسې د سرمنشي د پخواني خاص استازي (الأخضر إبراهيمي) په قول د ۲+۲ حکومت وو. دا حکومت بايد د افغانستان د ۲ ګاونډيو او ۲ لويو طاقتونو (امريکا او روس) د ګټو خوندي کوونکی وي. وروسته پردغه فارمولا هندوستان هم ورزيات سو يعنې ۲+۲+۱. دلته د افغانانو ګټو ته د اوليت حق ورنکړه سو بلکه د افغانستان حکومت بايد د افغانانو تر ګټو د نورو ګټې په افغانستان کې وړاندې وګڼي. نو ځکه تقريبا د هر وزارت يا ولايت مقام د افغانستان ترسرحداتو هاخوا يو ملاتړی لري. د ثقه معلوماتو له مخې د ولايت له مقام څخه وزارت ته ديو والي د تبديليدو د موافقې پرسر دوې مياشتې امريکايانو د ملل متحد پواسطه د افغانستان د يو ګاونډي هيواد

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره خبرې وکړې څو هغه هيواد دځينو شرايطو په اينښوولو سره د نوموړي کس دتبديلۍ سره موافقه وکړه. حامد کرزي دجرمني دشپيګل مجلې سره په ۲ مئ ۲۰۰۸ م اعتراف وکړ چې نوموړی دخارجي مرستندويانو بې اجازې ددولت دعالي رتبه مامورينو تقرر او يا عزل نسي کولای. دچاچې عزل او تقرر دبل په لاس وي، کار به هم دهغو په اشاره او مرام کوي. دلته ملي شخصيت، ملي ګټې او د وطن صادقانه خدمت مطرح ندی. ماته يو سناتور او دمشرانو په جرګه کې ديوې جرګګۍ مشر وويل (۱۵ مئ ۲۰۰۹ ) چې موږ (دشورې يو هيئت ) و کرزي ته ورغلو او ځينې مشکلات مو ورسره مطرح کړل. هغه راته وويل چې موږ کوم صلاحيت نلرو ؛ کار د نورو په لاس کې دی. مخ يې عبدالرحيم وردک (دفاع وزير) ته واړاوه چې ته څه صلاحيت لرې؟ ته خو هسې دامريکايانو يو شتېپنۍ يې، چې چيرې دوی روان وي ته ورپسې يې. بيا يې ماليه وزير (داکترانوارالحق أحدی) مخاطب کړ چې ووايه ته څه صلاحيت لرې؟ هغه ورته وويل چې بلې، مشکلات سته. کرزي، ضرار احمد مقبل (داخله وزير) ته په اشاره وويل چې دی خو پر هيڅ حساب دی.

نړيوالي ټولنې ايران ته جنوب غربي ولايتونه ورکړيدي چې اباد يې کړي. دکندهار- چمن ترمنځ د اورګاډي دپټلۍ غځولو کار پاکستان ته ورکول سويدی. ترکيې ته په شمال کې عمراني چارې محول سويدي. تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان ته په افغانستان کې دهغو سره وګاونډيو ولاياتو ته بريښنا ورکول او دکليو دپراختيا کارونه ورکول سويدي. هندوستان ته د افغانستان په ډيرو برخو کې لکه سلما پروژه، د ايران او دلارام ترمنځ سړک جوړول، دکابل-خوست سړک، دکنړونو انکشاف او نور دپاکستان سرحداتو ته څرمه د فعاليت موقع ورکول سويده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان په حساس جغرافيائي موقعيت ځان پوهول پکار دي چې له بده مرغه ډېرو دغه حساسيت ندی درک کړی او دا هيواد يې د بالوکاله (په نمايندګۍ) جنګ ډګر ګرځوليدی. څرنګه چې د افغانستان ګاونډيان پخپلو منځو کې رقابتونه حتی دښمنۍ لري نو د نړيوالې ټولنې دا پاليسي چې زموږ هر ګاونډي ته يې د افغانستان د ابادۍ په ظاهري پلمه يوه برخه يا سکتور سپارلې ددې پرځای چې سيمه ايزه همکاري او تعاون رامنځته کړي پدې هيواد کې يې لانجې او تاوتريخوالی پيدا کړيدی چې قربانيان يې افغانان دي او تاو به يې خپله دوی ته هم رسيږي. راسئ د موضوع د روښانولو لپاره د مثال په ډول په افغانستان کې د هند او پاکستان رقابت ته وګورو. په افغانستان کې د هند د يوه پخواني سفير بهادرکومار په قول هندوستان د شوروي د تجاوز په وختکې د کابل د رژيم ملګرې وو او د افغانستان په داخلي جنګونو کې يې د شمال ائتلاف ملاتړ کاوه (او وروسته يې د طالبانو مخالفت پدې کاوه چې اکثريت يې پښتانه وه، اسلامي نظام يې غوښت او دا باور وو چې پاکستان يې ترشا وو). د بهادرکومار په وينا هند اوس د کابل د حکومت سره نظامي مرستې کوي؛ فوج ته چې اويا په سلو کې افسران يې تاجيک دي تعليم و تربيه او وسائل ورکوي او د شمال ائتلاف سره اوس هم ډيرې نژدې اړيکې لري؛ په جلال اباد، کندهار، هرات او مزارشريف کې يې قونصلګرۍ پرانيستې دي؛ د زرنج - دلارام سړک جوړوي؛ د پارلمان تعمير ابادوي؛ له پلخمري ترکابله د بريښنا مزي تيروي؛ په کابل کې د حرارتي بريښنا يوه دستګاه نصبوي؛ پر هريرود د سلما بند جوړوي؛ يوولس ولاياتو ته د تلفون مزي غځوي؛ کابل ته يې الوتکې او په سوو بسونه ورکړيدي؛ دولتي مامورين تربيه کوي؛ تراوسه يې ۳۰۰۰ افغانانو ته مسلکي روزنه ورکړيده؛ په سووو سکالرشپونه يې افغان ځوانانو ته ورکړيدي؛ روغتونونو سره طبي مرستې کوي؛ يونيم مليون ماشومانو ته بسکوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوي؛ په کنړونو کې پراختیایي پروژې جوړوي؛ (دکابل-خوست سړک جوړوي او کیدای سي چې د کندهار- سپین بولدک سرک هم ورکول سي). نوموړی دپلومات وايي چې داوخت په افغانستان کې شاوخوا ۴۰۰۰ هندیان په مختلفو پروژو کې کار کوي او هندي نشرات، کلتور او د بالیوډ فلمونو خو په افغانانو کې ډیر نفوذ کړیدی. هند تر امریکا، برتانیې، جاپان او جرمني وروسته تر ټولو لوی مرسته کوونکی او ډیر مؤثر هیواد دی. نوموړی وايي هند دافغانستان سرحد ته نژدې په تاجکستان کې یو هوائي ډګر جوړ کړیدی چې دافغانستان لپاره کارځيني اخلي.» د بي بي سي په وینا هند دا ټول کارونه په افغانستان کې دپاکستان د اثر دکمولو لپاره کوي.

له بلې خوا، افغانستان د پاکستان د ثبات، ملي حاکمیت او ارضي تمامیت لپاره حیاتي ارزش لري. نو ځکه هغه هیواد د افغانستان بهرنۍ پالیسۍ ته په ډیر اهمیت او دقت ګوري. پاکستان په افغانستان کې د هند داسي حضور هیڅکله نسي زغملای چې دده امنیتي ګټې تهدید کړي. هغه په افغانستان کې دهند دنفوذ دخنثی کولو لپاره هرڅه کوي. افغانستان باید پخپله خاوره کې دخپلو ګاونډیانو دکړو سخت مراقب وي؛ هسې نه چې داهیواد دمرستی ترعنوان لاندی لومړی ددوی دسیاسي کشمکش میدان او وروسته دبالوکاله جنګ ډګر وګرځي او افغانان په وژنو او کړاونو واړوي. امریکا او غرب د افغانستان او مرکزي اسیا منابعو ته د رسیدو او پر ایران د فشار لپاره پاکستان ته په جیوپولیټک لحاظ ترهندوستان ډیر اړ دی. پاکستان به د غرب لدغه مجبوریته دهند او په کابل کې دهند دطرفدار حکومت دکمزورولو لپاره استفاده کوي او هغوته به په دننه افغانستان کې ماته ورکوي چې دا هم د افغانانو په مرګونو او کړاونو کیږي. پاکستان فکر کوي چې دکابل موجوده حکومت هندوستان ته موقع ورکړیده چې د پاکستان پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـرحداتو خپـل داسـتخباراتو اداري فعـالې کـړي او لـه هغـه ځايـه پاکسـتان وځـاري. همـداراز پاکسـتان پـدې عقيـده دی او ځـوواره يـې شـکايتونه هـم کړيـدي چـې دافغانسـتان دخـاورې پـه اسـتفاده سـره هندوسـتان د ايـران پـه همکـارۍ د سـپين بولـدک –دلارام او زرنـج پـه مثلـث کـې د پاکسـتان پـه خـلاف بلوڅانو ته نظامي تربيه ورکوي او پاکستان ته يې د تخريب لپاره ليږي.

ترکيـه او ازبکسـتان دافغانسـتان پـه شـمال کـې رشـيد دوسـتم او نـور ترکڅږـي تقويـه کـوي او دهغـو سـره دمرسـتې ترنامـه لانـدې پـه سـيمه کـې دخپلـو سـتراتيژکو ګټـو لپـاره کـار کـوي. روسـيه، تاجکسـتان او ايـران يـې مخالفـت کـوي او مـخ ئـې نيسـي چـې پـدې ډول دافغانسـتان شـمال هـم دګاونـډيانو رقابـت ځـوروي. اکبربـای چـې پخـوا درشـيد دوسـتم معـاون وو دپيـام افغـان سـره پـه يـوه مرکـه کـې (۲۸ جـولای ۲۰۰۸) وويـل چـې ترکيـه پـه افغانسـتان کـې ډيـره فعالـه ده او درشـيد دوسـتم هراړخيـزه مرسـته کـوي. ده وويـل چـې زه پخـوا درشـيد دوسـتم مرسـتيال وم او ترکيـې پـه نهـه مياشـتو کې زمـوږ دشـورى دتقـويې لپـاره يـووار درې نـيم لکـه ډالـره او بيـا درې لکـه ډالـره راکـړل. حامـد کرزي پـه ۲ مـئ ۲۰۰۸ م کـې دشـپيګل المـانی مجلـې تـه ويلـي وه چـې مـا خپـل پـه حکومـت کـې يـو لوړپـوړی چـاروال (رشيد دوسـتم) لـه دنـدې ګوښـه کـاوه خـو يـو بهرنـی هيـواد (ترکيـه) چې په افغانستان کې فوجونه لري پر ودربد او ايسته مې نکړای سوای.

زمـوږ نـور ګاونـډيان هـم پخپلـو منځـو کې سـم نـدي او ددوی حـرص او منافقـت پـه افغانسـتان کـې سياسـي، امنيتـي او نـور ډول ډول لانجـې راپـيدا کړيـدي. ددوی هغـه اتفـاق چـې د طالبـانو د راپرزولـو او د بـون د کنفـرانس پـه وختکـې وو اوس نسـته. اوس همهغـه د پـرون ملګـري يودبـل وينـو تـوئيـدو تـه ناسـت دي. د امريکـا ددفـاع وزيـر (رابـرټ ګيـټس) پـه ۱۷ اپريـل ۲۰۰۹ کـی د اې ايـف پـي پـه حوالـه دايـران هغـه وړانـديز رد کـړ چـې وائـي ايـران حاضـر دی دافغانسـتان

(c) ketabton.com: The Digital Library



پولیس تربیه کړي. هغه وویل ایران دې اول مخالفینو ته دوسلو لیږل بند کړي. اوس دامریکا په پخوانیو ملګرو او ستراتیجیکو انډیوالانو (ناټو او غربي هیوادو) کې هم دافغانستان په باب اتفاق ندی پاته او د بخارست په سرمشریزه کې له ټولې غربي نړۍ څخه په ډیر تکلیف ۸۰۰ عسکر د افغانستان د جنګ لپاره ورټول سول. بل کال به دغومره عسکر هم نه پیدا کیږي او امریکا به مجبوره وي خپل عسکر زیات کړي او پدې ډول به کرار کرار دا جګړه د امریکایانو په جګړه بدلیږي. همدا اوس، په افغانستان کې دملګرو ملتو دمؤسسې خاص استازی (کای ایدې) وایي چې اروپایانو په افغانستان کې خپل مسؤلیتونه هیر کړي او باریې پر امریکا اچولی دی.

لکه په اتیایمه لسیزه کې چې غربیانو افغانستان ته د روسانو لپاره دیو دام په سترګه کتل اوس روسانو او ملګرو یې افغانستان د امریکایانو لپاره دام ګرځولیدی. دامریکایانو وینې به تویوي، ځینې به چکچکې ورته کوي او نور ددوی دانډیوالانو په شمول به په بیتفاوتۍ ورته ګوري. څرنګه چې افغان فوج د جنګ ایدیالوجي او ملي خصوصیت نلري امریکایان به مجبور وي د جنګ ډیر بار پخپله واخلي او د توپکیانو، د بشري حقوقو د پایمالونکو او قاچاقبرانو ملګرتیا ته دوام ورکړي، دفاع یې وکړي او پرقدرت یې وساتي او پدې ډول دخپلو معنوي ارزښتونو پایمالولو، شرم او رسوائی ته ادامه ورکړي. افغان ولس به نورهم ناراضه او د مقاومت ملګری سي. جنګ به نور خونړی سي اود ناټو غړي هیوادونه به جنګ یوازې امریکا ته ورپریږدي او پدې ډول به دناټو سازمان دړې وړې سي چې اثر به یې پر غربي نړۍ سخت ناګواره وي.

یو پخوانی روسی افسر (کرنیل اولیګ کلکوف) چې په افغانستان کې دوه واره جنګیدلی او اوس په ماسکو کې د تاریخ استاد دی وائي: "امریکایانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـه بـه پـه افغانسـتان کـې دفـوج ډيـرول څـه ګټـه ونـه رسـوي. د افغانسـتان مسـئله نظـامي حـل نلـري؛ دا يـو سـراب دی. هيڅـوک پـه افغانسـتان کـې سياسـي بريـا لـه نظـامي لارې نسـي ترلاسـه کـولای؛ صـفا وايـم چـې دوی روان دي او زمـوږ غلطـي تکـراروي." يـولی وارنتسـوف (پـه کابـل کـي دروسـيې پخـوانی سـفير) وايـي پـر افغانسـتان د روسـيې حملـه يـوه لويـه غلطـي وه؛ مـوږ د ډپلوماسـۍ لـه لارې خپلـو موخوتـه رسـيدای سـوای خـو ومـونکړه. پـه ماسـکو کـې دبرتانيـا پخـوانی سـفير (سـر رودريـک بريتويـټ) وايـي چـې پـه افغانسـتان کـې د امريکـا پـه مشری دناټو مداخله به موږته همداسې تباه کوونکی وی لکه روسانو ته.

ډېرعربـان او حتـی محافظـه کـار دولتونـه يـې پـه افغانسـتان کـې ددولـت مخـالف قوتونـه (طالبـان، حـزب اسـلامی، ...) تقويـه کـوي. هغـه پـدې نـه چـې خـوښ يـې دي بلکـه پـدې چـې لـه بريـالۍ امريکـا څخـه ويريـږي. هغـوی پـه ډاګـه وائـي چـې کـه امريکـا پـه افغانسـتان او عـراق کـې کاميابـه سـوه پـه مـوږ پسـې راځـي او دا ويـره دوی تـه دامريکـائي مقامـاتو (بـوش او رمزفيلـډ) لـه بيابيـا اظهـاراتو راپـيدا سـويده. ځينـې عربـان وائـي چـې پـه افغانسـتان کـې اوسـنی کـړکيچ امريکايـانو د خپلـو سـتراتيجکو ګټـو د تـأمين پـه منظـور راپيـدا کړيـدی او د خپـل حضـور د توجيـه لپـاره نـه غـواړي هلتـه امـن او ارامـي راسـي. دوی ادعـا کـوي چـې کـه څـوک پرامريکايـانو ټـک هـم ونکـړي بيـا هـم دوی بـه افغانـان تحريکـوي او جنګ تـه بـه ئـې مجبـوروي. دوی وائـي چـې امريکـا بايـد لـه افغانسـتانه ووزي. پـدې ډول د عربـانو هغـه اتفـاق چـې د غربيـانو سـره يـې د بـون د کنفـرانس پـه وختکـې درلـود اوس نلري.

امريکـا، نـاټو او ډېـر افغانـان ايـران پـه مـداخلاتو تـورن کـوي. دکابـل پـه اخبـارونو او دغربـي نـړۍ پـه مطبوعـاتو کـې بيـا بيـا نشـر سـويدي چـې ايـران پـه افغانسـتان کـې دافغـان دولـت مخـالفينو تـه وسـلې او پيسـې ورکـوي. دشـمال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ائـتلاف ملاتـړ خـو ئـې علنـي او پخـوانی دی چـې دهغـو لـه لارې امریکایـان او افغـان دولـت ترفشـار لانـدې راولـي. پـه ۲۷ جـولای ۲۰۰۸ م کـې روئټـر لـه کابلـه ولیکـل چـې ترورسـتان لـه عربـي نـړۍ، خصوصاً عـراق څخـه د ایـران لـه لارې افغانسـتان او پاکسـتان تـه ځـي او هلتـه افغـاني او میشـته بهرنـي عسـکر وژنـي. ایـران اوس د ترورسـتانو د تـګ او راتـګ مطمـئن دهلیـز دی. د اسـې خبرونـه دي چې روسیه هم د تاجکستان له لارې افغانستان ته وسله او پیسه لېږي.

د نـاټو او ایسـاف خودسـرو عملیـاتو د کابـل د کمـزوره دولـت اسـتقرار او مشـروعیت تـه لویـه صـدمه رسـولېده. پرعـام ولـس، لارویـانو، ودونـو او جنـازو بمبـارې، د خلکـو وکوروتـه پـه زور ننوتـل، د خلکـو بیعزتـي او بـې عفتـي کـول او خلـک د محکمـې لـه حکمـه پرتـه نیـول او بندیانول افغانـان ډیـر خوابـدي کړیـدي. داډول خپلسـریو د منتخـب جمهـور رئـیس، منتخـب پارلمـان، منتخبـو ولایتـي شـورګـانو او نـورو دموکراتیکـو او بشـري حقوقـو ارګـانونو موقـف ډیـر کمزوره کړیدی. کـرزي څو واره د عـام ولـس د فشـار پـه نتیجه کـې ژړلیـدي چـې د بیګنـاه خلکـو دبمبـاریو بندیـده زمـا پـه وس نـدي پـوره. دلتـه د کـرزي دغـه اعتـراف د هیـواد ملـي حاکمیـت او د دولـت مشـروعیت ترجـدي سـؤال لانـدې راولـي. کرارکـرار داجنـګ اوس د تروریـزم سـره د مقـابلې پرځـای د افغـان ولـس خصوصـاً د پښـتون قـوم سـره جنـګ دی چـې د وخـت پـه تیریـدو بـه نـورو خـارجي سـرتیرو تـه ضـرورت وي. پـه یـاد ولـرئ چـې د سـره فـوج ۱۲۰۰۰۰ عسـکرو چـې هرشپـږ میاشتې بدلېدل او تـازه دم کیـدل د لـس کالـه مسلسـل شدید جنګ سـره سـره ددې وس ونـه درلـود چـې د افغانـانو مقاومـت مـات کـړي. افغانسـتان تـه د نـورو امریکـائي عسـکرو لیـږل مشـکل نسـي حلولای بلکـه نـور ئـې هـم خرابـوي او پـیچلی کـوي او پـه سـیمه کـې هغـه قوتونـه چـې ددوی وینـو تـوئېدو تـه ناسـت دي تشـویقوي چـې مخـالفین نـورهم تقویـه کـړي. د افغانسـتان د اوږدمهـالي امنیـت

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره نظامي قوت باید د یوې پراخې ستراتیجۍ په چوکاټ کې (امنیت د سوکالۍ له لارې) استعمال سوی وای چې ونسو. غرب افغانستان ته له لومړي سره اوږد مهاله ستراتیجي نه درلوده او اوس پسله اته کاله حتی پلان نلري چې څنګه ووزي.

د عامو خلکو وژلو، قهر او دولت ته ورځ په ورځ زیاتیدونکې بدبیني د ناټو او امریکائي قوماندانانو ترمنځ د نظر توپیر راپیدا کړیدی کوم چې له لومړي سره په افغانستان کې د جنګ پر ستراتیژۍ یو نه وه. د ناټو ځینې غړي وائي چې د بې پروائی او عدم دقت په نتیجه کې په بمباریو د عام وګړو وژل به امریکا او متحدینو ته افغانان بدبین کړي. د امریکا او برتانیا ترمنځ په هیلمند کې وروستۍ نانډرې د جنګي ستراتیژۍ پرسر ددوی ترمنځ اختلاف ښئي. پدې ډول د ناټو د غړو هیوادو ترمنځ چې په افغانستان کې جنګیږي کومه ښکاره او واضحه ګډه تګلاره نسته. که امریکایان په عراق کې فوج کم او افغانستان ته یې واستوي حالات به نور هم خراب سي او د ناټو غړو ترمنځ به اختلافات نور هم ډیر کړي. ناټو د شوروي اتحاد پخلاف جوړه سوې وه نه د افغانستان غوندې یو کوچني هیواد د ټکولو لپاره. لتونیا، چک، لتوانیا، استونیا، پولینډ او هالینډ په افغانستان کې څه ګټې لري چې خپل زامن مړه کړي؟ هغوی د امریکا د خوښۍ لپاره ځانونه وژني خو دا قرباني تر ډیره نسي ورکولای. بله مهمه خبره داده چې په غرب کې ډیر چاروا کي، افغانان او د هغوی خصوصیات نه پېژني. افغانستان امریکایانو ته تر عراق ډیر خطرناک دی. په عراق کې مخالفین د امریکایانو خلاف مخامخ نه جنګیږي بلکه بمان ورته ایږدي خو په افغانستان کې په سوو مخالفین مخامخ پر امریکایانو ورځي، سیمې ځینې نیسي او پر یوشمیر سیمو همدا اوس طالبان عملاً حکومت کوي. که جنګ اوږد سي او طالبانو ته سمه وسله په لاس ورسي بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



به ناتو ته مشکله سي چې جنګ يوسي. د افغانستان په ليرې او نژدې ګاونډيانو کې داسې هيوادونه سته چې د غه جنګ اوږدول غواړي چې امريکايان پکښې راګير وي او ډيره وينه يې توی سي. په کابل کې د برتانيا سفير ښاغلی شيررد کوپرکولز و بي بي سي ته په جون ۲۰۰۷ م کي ويلي وه چې برتانيا غواړي ۳۰ کاله په افغانستان کې پاته سي داځکه دا هيواد زموږ د خارجي سياست په سر کې دی. خو جرمني، ايتاليا او هسپانيا د ښاغلي کولز سره موافق ندي او فکر نکوي چې برتانيا ۳۰ کاله په افغانستان کې جنګ مختته وړای سي. د انګلستان صدراعظم ګورډن براؤن د غه موده لس کاله ته راښيته کړه.

لکه چې وويل سوه، زموږ ګاونډيان او لوی طاقتونه په نړيواله او سيمه ايزه ډګرونو کې رقابت او حتی دښمني لري. او دا رقيبان او دښمنان اوس په افغانستان کې فعال حضور لري او عملاً په فعاليت لګيا دي. کوم يو چې يې يو قدم اخلي هغه بل باندې شکمن دی دوه قدمه اخلي. يو وائي چه هغه بل مختته سو زه پاته سوم. داسې رقابتونه به هغه وخت ښه وای چې افغانستان يو ملي او پرخپلو پښو ولاړ دولت درلودای. مګر اوس دا رقابتونه دافغانانو په ډير ضرر تماميږي داځکه همدا هيوادونه خپلې دښمنۍ بالوکاله (دافغانانو پواسطه) په افغانستان کې مختته بيائي او قرباني يې افغانان دي. ددوی حضور د دې پرځای چې افغانانو ته ګټه ورسوي ضرر يې رسوليدی او د دې جګړه ځپلي هيواد استقرار يې ورخراب کړيدی. همدا ګاونډيان اوس دامريکا داشغال په پلمه په افغانستان کې يو مرکزي قوي حکومت نه غواړي بلکه يو کمزوره او تل پر نورو تکيه هيواد يې خوښ دی چې دوی ته محتاج وي، ددوی مرعوب وي او ځوک حساب ورسره ونکړای سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سربیره پر پورتنیو ضررونو چې دبهرنیو فوجونو حضور ئې افغانستان ته رسوي خارجیان دافغانستان داقتصاد او کلتور په ضرر هم دي. افغانستان پخوا پخپل ځان نسبتاً بسیا یو زراعتي هیواد وو. اوس ئې زراعت فلج او یو تاریاکي هیواد دی چې د نړۍ ۹۳ په سلو کې مخدره مواد تولید او صادروي. هغه هیلمند چې پخوا د غنمو او پنبې ګودام وو نن دخارجیانو دفعال حضور له برکته ددنیا دمخدره موادو پایتخت دی. همداراز، خارجیانو دافغانستان تاریخي اثار هم لوټ کړل. دناروې افتنپوستن په ۱۸ جون ۲۰۰۸م ولیکل چې دناروې عسکرو دافغانستان د ۴۰۰۰ کالو زاړه تاریخي اثار غلا کړیدي او له افغانستانه یې ایستلي دي. ناروې دافغان موزیم په بیا ودانولو کې مرسته کړیده. همدا کوی همدا. دافسوس خبره ده هغه عسکر او بهرنیان چې افغانستان ته دمرستې، صداقت او بیا ودانولو په نوم راځي غلاوې کوي او تاریخي شتمنۍ او فرهنګي خزانې لوټوي.

واشنګټن پست پخپل ۲۸ جولای ۲۰۰۸ مه ګڼه کې لیکي چې:افغانستان کې هرڅه بهرني قراردادیانو ته ورکول سویدي. دامریکا دنړیوال انکشاف اداره قضا او عدلیه هم بهرني قراردادیانو ته ورکوي چې دامریکا او ناټو دفوجیانو سره په مشوره ستره محکمه او عدلي نظام اصلاح کړي. دوی به افغان قاضیانو ته دقضا چل ورزده کوي چې دچا په باب څنګه قضاوت وکړي او کوم مجرم ته څومره او څنګه سزاء ورکړي. دوی به قاضیانو ته ورزده کړي چې دخلکو څه حقوق دي او دښځو سره په قضا کې څه معامله وکړي. دافغانستان قضا تراواسه اسلامي تشخص درلود او هرچا ورته احترام کاوه. قاضي به پرتورن شل کاله قید او یا داعدام حکم راوایست، محکوم به تسلیم او حکم به تطبیق سو. خو چا قاضي ته بد نه ویل او نه یې تهدیداوه. موږ نه وه اوربدلي چې یو قاضي پدې سبب چا مړ کړی وي چې مجرم ته یې د مرګ سزا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اورولـې وه. بلکـه خلکـو بـه ویـل چـې کـوم لاس قاضـي پـرې کـړي درد نکـوي. هغـې قضـا تـه بـه څـه تقـدس پاتـه سـي کومـه چـې دامریکایـانو او نـورو غیرمسـلمانو لخـوا تنظـیم او رهنمـائي کیـږي او پـه سـیمه کـې د نـورو د سـتراتیژکو ګټـو پـه خـدمت کـې وي؟ دافغانسـتان پـه قضـائي نظـام کـې دا لاسـوهنه بـه دا مهمـه او محترمـه اداره د نـورو سـکتورو پشـان د لـوی فتـور، سپکاوي او بحران سره مخ کړي.

زمـوږ دماشـومانو لپـاره لـه لـومړي تـر دولسـم ټـولګي پـورې تعلیمـي نصـاب اوس پـه ایـران کـې جوړیـږي. ددې معنـی داده چـې مـوږ پخپـل هیـواد کـې د تعلیمـي نصـاب دجوړولـو تـوان نـه درلـود او یـا غـواړو زمـوږ راتلـونکی نسـل داسـې مهربـان جـوړ سـي چـې نـور ترخپلـو ورتـه محتـرم او دنـورو ګټـې ترخپلـو ورتـه مقـدمې وي. پـدې ډول امریکـا او دکابـل حکومـت افغانـان پـه لـوی لاس هڅـوي چـې هغـه کتابونـه وسـوځوي چـې پـردې یـې ددوی د نـوي نسـل دتخـدیر او تضـلیل لپـاره جـوړ او چـاپوي او هغـو مکتبونوتـه اوروراچـوی چـې پـه هغـه کـې ددوی راتلونکي نسل ته دتغدیر او تذلیل درس او روزنه ورکول کیږي.

اخلاقـي فسـاد او ټـولنیز انحطـاط خـو د اشـغال هغـه سـوغاتونه دي چـې ډیـر خلـک ورتـه متوجـه نـدي. مـذهبي انحـراف، شـرابخوري او نـور منشـیات، فحاشـي، پردوتـه جاسوسـي او خـدمت، غـدر، فریـب، وطنفروشـي، رشـوت، ملـي خیانـت، د شخصـیت تـذلیل او قتلـول، قومبـازي او بیګانـه پرسـتي هغـه افتونه دي چې خراب اثرات به یې تر ډیره زموږ شریف ولس ځوروي.

ترڅـو پـه افغانسـتان کـې یـو ملـي حکومـت چـې داکثریـت مـورد اعتمـاد وي منځتـه نـه وي راغلـی او ترڅـو چـې افغانسـتان اشـغال او بهرنـۍ مسـلحې

(c) ketabton.com: The Digital Library



قابضې قواوې پکښې وي ترهغو به د خارجيانو حضور افغانستان ته دګټې پرځای مضر وي.

## نهم سؤال دا وو چې په امريکا کې به د راتلونکي نومبر د انتخاباتو په نتيجه کې نوی جمهور رئيس په سپينه ماڼۍ کې کښيني. هغه بايد د افغانستان په باب څه وکړي؟

جواب: د امريکا نوی جمهور رئيس هرڅوک چې وي، که مکين وی که اوباما ، زما پيشبيني داده چې افغانستان ته به ډېر عسکر استوي؛ جنګ به پراخوی او جنګ به تود وي. هغه به په عراق کې خپل عسکر کموي او افغانستان ته به ئې استوي. امريکايان فکر کوي چې عراق دعرب لوی قوم يوه برخه ده او داجنګ دکومو اهدافو لپاره چې پيل سوی وو نسي وړای. دوی فکر کوي چې عربي نړۍ کولای سي ډير کلونه سړي او پيسې دعراق جنګ ته دامريکا پرضد واستوي. امريکا بايد اوس خپل اهداف يوازې دتيلو وړلو ته محدود کړي او دهغه لپاره يوازې څلويښت يا پنځوس زره عسکر کافي دي. امريکايان فکر کوي چې دعراق برخلاف په افغانستان کې کاميابي ورته اسانه ده. له يوې خوا ددې لپاره چې له عراقه وتل څوک په ماته تلقي نکړي نو امريکايان به خپل ځانته د اوږو دپرزې دا يښوولو په منظور پر افغانستان عسکري فشار ډېروي. او له بلې خوا فکر کوي چې په افغانستان کې يوازې ددوی پخلاف پښتانه جنګيږي او دا يو کوچنی قوم دی چې تر سرحداتو هاخوا څوک خواخوږی نلري؛ څه پښتانه چې د ډيورنډ خط

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـا خوا دي هغـه هـم بايـد پـه جنـګ کـی راګیـر او بیـا یـې شـاو خوا وربنـد کـړه سـي چـې مرسـته ورونـه رسـیږي. پـدې ډول بـه مقاومـت ختـم او پـه سـیمه کـې بـه د خپـل مرام مطابق منګولې ټینګې کړي.

خـو، دوی لـه تاریخـه نـاخبره او افغانسـتان یـو اسـانه هـدف ګڼـي. د افغانسـتان سـره د سـرحد دهـا خوا د پښـتنو خوا خـوږي یـو طبیعـي موضـوع ده او ددې مـخ د دنیـا هـیڅ یـو طاقـت نسـي نیـولای. نـه یـوازې د پاکسـتان حکومـت د دغـو پښـتنو تـګ وراتـګ نسـي منـع کـولای بلکـه انګریزانـو اوتـر راوروسـته روسـانو پخپـل وختکـې پخپـل ټـول قـوت داکـار ونکـړای سـوای. امریکایـان بـه ترڅـو دا نـه ګټـونکي جنګ ته چې تردوی پخوا نور هم ناکام سویوه ادامه ورکوي.

کلـه چـې افغانسـتان تـه ډېـر عسـکر واسـتول سـي، د امریکـا میـډیا (رادیـو، تلویزیـون، اخبـار، مجلـه) بـه هـم پـه افغانسـتان کـې فعالیـت ډېـر کـړي. پـه افغانسـتان کـې د امریکایـانو پـراخ حضـور بـه د افغانسـتان لیـرې او نـژدې ګاونـډیان ووېـروي او وهڅـوي چـې مخـالفینو تـه نـوره پرمختللـې وسـله او مـالي ملاتـړ ورکـړي. دا بـه جنـګ ډېـر تـود کـړي او د بهرنیـو عسـکرو تلفـات بـه نـور هـم ډېـر سـي. د تلفـاتو دډېـرېدو پـه صـورتکې بـه د نـاټو غـړي هیوادونـه خپـل عسـکر کـم او یـا وباسـي او د جنـګ بـار بـه پـه افغانسـتان کـې یـوازې د امریکـا پـراوږو پاتـه سـي. د امریکایـانو تلفـات بـه نـور هـم ډېـر سـي او میـډیا بـه ئې پـه امریکـا کـې پـه ښـه تفصـیل خپـروي. دا حـال بـه دوه درې کالـه دوام وکـړي او بیـا بـه لکـه د ویتنـام د وختـو پشـان د سـپیني مـاڼۍ پـه مخکـې خلـک مظـاهرې کـوي چـې لـه افغانسـتانه دې زمـوږ عسـکر راوو‌زي. پـه ویټنـام کـې امریکـا ماتـه نسـوه بلکـه د خپلـو خلکـو فشـار راوایسـته داځکـه خلکـو د سـپیني مـاڼۍ پـه مخکـې نـارې وهلـې چـې زمـوږ زامـن ولـې پـه ویټنـام کـې د جنګسـالارانو د برسـر اقتدار سـاتلو لپـاره مـري؟ زمـوږ سـړي ولـې پرویټنـام د جنایتکـارانو د مسـلط سـاتلو لپـاره وینـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تویوي؟ زموږ وروڼه ولې په سایګون کې د قاچاقبرانو د ګټو قرباني کیږي؟ ما امریکایانو او افغانانو ته په امریکا کې په ډیر وضاحت وویل چې زه تاسو ته پښبیني کوم چې درې کاله وروسته به د امریکا ولس د سپینې ماڼۍ په مخکې همدا سې ناري وهل پیل کړي چې زموږ زامن ولې په افغانستان کې د فلانې قاچاقبر وزیر د برسرا اقتدار ساتلو لپاره مري؟ زموږ سړیان ولې په کابل کې د رشوتخورو او طفیلیانو د چاغېدو لپاره قربانیږي؟ زموږ وروڼه ولې پر خلکو د جنګسالارانو د تپلو لپاره خپلې وینې تویوي؟ موږ څه حق لرو چې پر زور پدلیو افغانانو د بشر د حقوقو د ښمنان مسلط و ساتو؟ موږ نه غواړو د کابل فاسد حکومت دژوري پشان زموږ په وینو وپائي. ..... دا میډیا ، د امظاهرې او دا فشار به د امریکا حکومت مجبور کړي چې خپل فوجونه له افغانستانه په تېښ سر وباسي. پدې ډول زه د امریکا راتلونکې په افغانستان کې د ویتنام د جنګ د وخت سره پرتله کوم. ما امریکایانو ته دا خبره د خپلې تجربې او تاریخ څخه په درس په پوره وضاحت کړېده چې که تاسې په افغانستان کې پر نظامي حل اصرار کوی نو زه په پوره ډاډ درته وایم چې ستاسې سرنوشت د روسانو دی. روسان په یولک وشل زره فوج خپل مطلب ته ونه رسېدل، تاسې هم نسئ رسېدای. خو دا هم درته وایم چې په افغانستان کې د ناټو ماته وتاسې، د ناټو غړو هیوادونو ، افغانانو او د سیمې خلکو ته ښې پایلې نلري. (د ناټو د ماتې عواقب مې په تفصیل ورته تشریح کړیدي چې دلته یې د ذکر مجال نسته ). ما ورته وویل چې د مخه تردې چې امریکا د دغه شوم سرنوشت سره مخ سي د امریکا نوی جمهور رئیس هرڅوک چې وي باید د افغانستان په باب د امریکا پالیسي بدله کړي او سیاسي حل ته پر نظامي حل ترجیح ورکړي. پدې کې د ټولو خیر دی. د امریکا نوی جمهور رئیس باید د هغه فارمول له مخې او یا هغه ته ورته کوم چې ستاسې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړانـدې مـې ایښـی دی عمـل وکـړي او لـه افغانسـتانه د خپلـو فوجونـو د ایسـتلو مهالوېش اعلان کړي.

## لسم سؤال دا وو چې په افغانستان کې په راتلونکي کال کې د جمهوري ریاست لپاره انتخابات دي، ستاسې په نظر څوک به موزون سړی وي؟

کـه د افغانسـتان پـه بـاب د امریکـا او نـاټو پالیسـي همداسـې وي لکـه اوس چـې ده او بدلـه نسـي نـو اول ممکـن دامنیتـي شـرایطو دخرابـۍ پـه وجـه انتخابـات ونسـي او کـه وسـي نـو هرڅـوک چـې د نویـو انتخابـاتو پـه نتیجـه کـې مشـر سـي کامیـاب بـه نـه وي. دافغانسـتان دولتـي دسـتګاه اوس یـوې فاسـدې معـدې تـه ورتـه ده ترڅـو اساسـي عـلاج یـې ونسـي هـره سـالمه غـذا چـې ورسـي فاسدیـږي. البتـه څـه سلیقـئي تغییـر بـه دهـر نـوي سـړي سره راسـي خـو هغسـې بـه نـه وي چـې خلـک ئـې طمـع لـري. زه دسـړي لپـاره نظـام نـه غـواړم بلکـه یـو سـم نظـام بایـد جـوړ سـي او بیـا دهغـه لپـاره پـه سـړي پسـې وکتـل سـي. یعنـې نظـام د سـړي لپـاره نـه وي بلکـه سـړی دنظـام لپـاره وي. نـو ځکـه زه اوس پـر سـړي هـیڅ فکـر نکـوم بلکـه دا فکـر کـوم چـې څنګـه دا نظـام پـه یـو ښـه نظـام بـدل سـي څـو وکـولای سـي صـالح خلک راجلب کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخیر سؤال د هرچا دا وو چې څه باید وسي چې افغانستان د روانې فاجعې څخه خلاص سي ؟

دغه سؤال ته ما په پخواني کتاب کې د اوسني نظام دبدیل ترعنوان لاندي جواب ورکړی وو. خو پدې کتاب کې مې دپای خبرې او د افغانستان دبحران سیاسي حل ترعنوانونو لاندې جواب او تشریحات ورکړیدي او په پای کې مې د بحران دحل فارمول وړاندې کړیدی کوم چې دډیرو هلوځلو په نتیجه کی رامنځته سویدی. په تیر کتاب کې مې هم داخبره کړې وه او اوس هم پرځای ده چې هرڅوک د کابل پرحکومت او امریکا انتقادونه کوي چې افغانستان یې تباهۍ ته روان کړی دی خو دچا سره پوره نسخه نسته چې څه باید وسي چې له دغه تباهۍ څخه راوګرځي. شکایتونه ډیر دي خو دحل لار نامعلومه. هرڅوک دا سؤال کوي چې که اشغال رفع سي نو پرځای به یې کوم نظام وي چې هم په هیواد کې امن راولي، افغانان په ډاډه وي (بیا د ۱۹۹۲م کورني جنګونه تکرار نسي)، هم د سیمې هیوادونه ورڅخه مطمئن وي او هم نړیوال قانع وي چې افغانستان د نړیوالې ټولنې یو فعال او ګټور غړی دی. دلته دغسې سؤالونو او تشویشونو ته جواب ورکول سوی دی. تراوسه دافغانستان دبحران دحل په منظور یو جامع فارمول او نسبتاً کامله طرحه لکه دلته چې وړاندې سویده نده وړاندې سوی. زه دا فارمول په هیڅ وجه خپل مولود نه بولم بلکه دا ددوستانو او دټولو هغو کسانو دهمکارۍ، پیرزوینې او ګډ کار نتیجه ده چې دافغانستان په خاطر یې خپل فکر او اخلاص زما او ملګرو سره شریک کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پای خبري

په ۲۰۰۱ کې د طالبانو ترسقوط وروسته ډېرو افغانانو د خپل تاریخ پخلاف نړیوال فوج ته ښه راغلی وواېه څو د هغو زورواکانو له ظلمه یې وساتي کوم چې د امریکا په مرسته بیا قدرت ته رسیدلي وه. د استاد رباني د وخت دداخلي جنګونو او بشري ناورین ترخه یادونه دهرچا سره تازه وه. همداراز، دافغانانو هیله وه چې نړیواله ټولنه به د خپلو وعدو مطابق دیو سم حکومت جوړېدو ته موقع ورکړي او د وران سوي افغانستان په بیاودانولو کې به فعال سهم واخلي. هیره دې نه وي بوش دافغانستان لپاره د مارشال پلان پشان دبیاودانولو ژمنه کړیوه او دانګلیستان صدراعظم خو په تکرار ویل چې موږ به افغانستان ابادوو؛ بیا به یې نه پریږدو لکه پخوا چې څو واره نړیوالې ټولنې خوشې کړی وو (جان کیمپنر، ص ۱۴۲).

خو په تیرو تقریباً اتو کلونو کې دغه وعدې ترسره نسوې او په ملکي او نظامي ساحو کې دملي او بین المللي بیسابقه توجه او ملاتړ سره سره ډیر لږ کار وسو. اوس افغانانو خپلې هیلې تقریباً له لاسه ورکړیدي. نړیوال هم په افغانستان کې روښانه آینده ځانته نه ګوري. حتی د امریکا جمهور رئیس (بارک اوباما) اعتراف کوې چې امریکا په افغانستان کې کامیابه نده. همداراز، د انګلیستان لارډ پاډي اشډن وائي: "په افغانستان کې حالات ډیر خطرناک دي. زما په فکر افغانستان یو ناکام دولت دی. ناټو ډیره نژدې ده چې د افغانستان کنترول له لاسه ورکړي." د ناټو پخوانی قوماندان، د پي ار تي مؤسس او د امریکا د اتلانتک کونسل مشر جنرال جیمز جونز اخطار ورکوي چې "ناټو په افغانستان کې ګټونکې نده." داروپائي پارلمان دبهرنیو اړیکو څانګه په اپریل ۲۰۰۸ کې راپور ورکړ چې "دیاغیانو دفعالیت دوام او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دافغـان حکومـت کمزوري پـه افغانسـتان کـې د غـرب او اروپـا ماتـه یقینـي کـوي. دامریکـا دجمهـور رئـیس مرسـتیال (جـو بایـډن) د امریکـا کـانګریس تـه وویـل چـې د افغانسـتان اقتصـادي، امنیتـي او ټـولنیز شـرائط ویرونکـي دي او ددې ملـت جغرافیـه، خلـک او تـاریخ زمـوږ پـه خـلاف کـار کـوي. کانګرسمین جیم مکګـورن وویـل دمخـه تـردې چـې زه افغانسـتان تـه دنـورو عسـکرو د اسـتولو ملاتـړ وکـړم غـواړم یـوه ستراتیجي ووینم چې پـه هغـه کـې زمـوږ راوتـل هـم شـامل وي. د امریکـا د کـانګریس یـو بـل غـړي (جـان تیـری) وویـل مـوږ چـې دخلکـو کوچنیـان ورمـړه کـړو او جنازې تـه یـې ګـورو، پلـرو تـه یـې څـه وایـو چـې مـوږ دڅـه لپـاره افغانسـتان تـه راغلـي یـو؟ دامریکایـانو د **۵** مـئ **۲۰۰۹** پـه بمباریو کـې چـې دفـراه ولایـت پـه بـالابلوک کـې ئـې **۱۴۰** ملکـي خلـک چـې **۹۳** یـې کوچنیـان، **۲۵** ښـځې او **۲۲** نـور یـې زاړه او ځوانـان سـړي وه ووژل، اډمیـرل مایـک مـولن (د امریکـا دټولـو افواجـو مشـر) پـر موضـوع دتبصـری پـه وختکـې وویـل "دملکـي خلکـو وژل مـوږ پـه افغانسـتان کـې نسـي بریـالي کـولای. هـر واري چـې مـوږ ملکـي خلـک وژنـو پـه حقیقـت کـې مـوږ خپلـې سـتراتیجي تـه ضـرر رسـوو." د امریکـا دبهرنیـو چـارو دپخـوانۍ وزیـری (کونـد الیزه رایـس) مشـاور ډیـوډ کیلکـولن پـدې نـژدې وختـوکې د امریکـا سـنا پـه افغانسـتان کـې دجنـګ د پراخیـدو څخـه وویـرول. هغـه وویـل: مـوږ پـه ویتنـام کـې څـه وکـړل؟ جنـګ مـو پـراخ کـړ، مـوږ دهغـو مشـر راوغورځـاوه او مشـکل مـو پخپـل لاس کـې واخیسـت چـې حـل یـې کـړو خـو حـل مـو نکـړای سـوای. پـه سیمه کـې دامریکـا دقـواؤ سـتر قومانـدان (جنـرال ډیـوډ پتـرئیس) وائـي چـې افغانسـتان د امپراتوریـو پـه هـدیره شـهرت لـري؛ مـوږ دغـه تـاریخي واقعیـت لـه پامـه نسـو غورځـولای. افغانسـتان او پاکسـتان تـه د امریکـا دجمهـور رئـیس خـاص اسـتازی (ریچـارډ هـولبروک) پـه مونشـن کـې دنړیـوال امنیـت کنفـرانس تـه وویـل: دا بـه یـوه اوږده او سـخته مبـارزه وي؛ ترعـراق ډیـره سـخته. کابـل کـې د روسـیې سـفیر (ضـمیر کابلوف) وائـي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکا او ناټو هغه غلطۍ تکراروي کومې چې موږ په افغانستان کې کړې وې.

ډیر خیړونکي د افغان حکومت حالت هغه سخت ناروغ ته ورته بولي چې د شدید مراقبت په خونه کې په مصنوعي تنفس ژوندی دی. چې کله هم دغه مصنوعي تنفس (خارجي فوجونه) او په کال کې د زرو ملیونو ډالرو پیچکارۍ ځیني لیرې سي ناروغ سمدستي مري. ما خارجیانو ته ویلي دي چې دا شارون به تر کله په مصنوعي تنفس ساتئ؟ دا بیا پرېښو نه دریږي، خوشې دئ او ځان دواړه په تکلیف کوی. په کابل کې د ۲۰۰۸ ثور د اتمې دجشن واقعه ئې ښکاره مثال دی چې د مخالفینو څو فیرونو د اردو جنرالان وزغلول او رئیس جمهور او وزیران ئې پرمیدان د ښمن ته پرېښوول. خو د دې ټولو مشکلاتو سره سره موږ پدې باور یو چې د کړکیچ د حل لار اوس هم سته پدې شرط چې نړیواله ټولنه ئې وغواړي او پر سمه لار دیو لوی ګام د اخیستلو اراده او جرئت وکړي.

د افسوس خبره ده چې ناټو او نړیوالې ټولنې په ټولو ونکړای سوای په افغانستان کې امنیت راولي بلکه پخپله د امنیت د اخلال سبب سوي دي. دوی، اوس د تروریستانو په بهانه د ولس سره جنګیږي او چې څوک د ولس سره جنګیږي ماته یې یقیني ده. د کابل حکومت له کابله بهر پر اطرافو ډیر لږ کنترول لري؛ لوی ښارونه اکثره و حکومت ته د نیمه وفاداره زورواکانو په لاس کې دي. پداسې حال کې چې کلي او درې د حکومت له کنترول بهر دي، د هیواد جنوبي، ختیزې او لویدیزې برخې اکثره بالفعل د طالبانو په لاس کې دي چې د ناټو سره په جنګ دي او د هیواد شمال د زورواکانو په پنجو کې دی. طالبانو اوس شمال ته خپل واک غځولی دی او پر کابل ئې هم فشار ډیر کړیدی. ناټو باید په شمال کې هم د طالبانو د مقابلې لپاره فوج واستوي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددغـه کـار لپـاره نـور عسـکر بايـد افغانسـتان تـه راولـي. کلـه چـې دامريکايـانو دلوجيسـتيکی مـوادو دانتقـال کاروانونـه د پيښـور پرځـای د روسـيې لـه لاری دافغانسـتان شـمال تـه لار پيـدا کـړي، ددغـه سـيمو جنګسـالاران او غلـه بـه د ولجې لپـاره پردغـو کـاروانو حملې پيـل کـړي؛ کرارکـرار بـه طالبانو تـه پـه شـمال کې دفعاليت موقع نوره هم مساعده سـي.

امنيـت دکابـل پـه ښـارکې چيـرې چـې نړيوالـه ټولنـه او نـاټو کـافي حضـور لـري ورځ پـه ورځ خرابيـږي؟ دعـراق پشـان اوس نـه يـوازې د سـړک دغـاړي بمـان او اسـانه اهـداف ويشـتل ډيرسـويدي بلکـه پـه رڼـا ورځ بانکونـه وهـل کيـږي، دارائـي چـور او سـوداګر تښـتول کيـږي. هيڅ يـو لـوړ رتبـه مـامور د کابـل پـه ښـار کې بيلـه مرمـی ضد مـوټر چې ښيښـې ئې هم بايد تـورې او باډيګـاردان ورپسـې وي نسـي ګرځيـدای. کـرزی سـره لـدې چـې دخلکـو منتخـب مشـر ځانتـه وائـي پخپلـو خلکـو اعتمـاد نسـي کـولای او ځـان پـه خاصـو امريکـائي باډيګـارډانو سـاتي. خـو ددومـره احتيـاط سـره بيـاهم څـو واره لـه مرګـوني ګـوزاره خـلاص سويدی. دا ټول په هيواد کې دکمزوره امنيت مثالونه دي.

د کابـل حکومـت نـه يـوازې مسـلحو مخـالفينو فلـج کړيـدی بلکـه ډيرهغـو حکومتونـو هـم فلـج کړيـدی چـې د کـرزي د حکومـت پـه داخـل کـې جـوړ دي. دجمهـور رئـيس لـومړی مرسـتيال او ځينـې وزيـران ښـکاره د کـرزي پـه مخالفـه جبهـه کـې ولاړ دي. دوهـم مرسـتيال ئـې پـه دايکنـدي او باميـان کـې خپلـه خاصـه اجنـدا مختـه بيـائي. دبلـخ والـي عطـاء محمـد نـور پـه بلـخ کـې، د فـوج لـوی درسـتيز رشـيد دوسـتم پـه شـبرغان او فاريـاب کـې، پـه هـرات کـې ځانتـه اداره ده؛ د کـرزي ورونـه د خارجيـانو پـه قـول پـه کنـدهار او کابـل کـې ټـول خپلـې شخصـي اداري چلـوي چـې د مرکـزي حکومـت مشـروعيت او مؤثريـت ئـې شـديداً متضـرر کړيـدی. د نـاټو سرمنشـی (جـاپ ديهـوپ شـيفر) وائـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



(واشنګټن پست، ۱۸جنوري ۲۰۰۹ ) "په افغانستان کي اصلي ستونزه طالبان ندي بلکه خراب حکومت دی. موږ کافي وينه او پيسه هلته مصرف کړه چې له فساده خلاص او باکفايته اداره منځته راسي خو چندان نتيجه يې ورنکړه."

افغانستان به ناټو او امريکايانو ته تر عراق ډېر خطرناک ثابت سي. په افغانستان کې د عراق پشان د شيعه و سنّي او نور قومي حاد اختلافات نسته چې هغه ته لمن ووهل سي. که څه هم په بون او ترهغه وروسته ډير کوښښ وسو چې افغانستان پرقومي، سمتي، ژبني، نژادي او مذهبي بنيادونو لکه عراق وويشي خو مطلوبه نتيجه يې ورنکړه. لکه دروسانو په وختکې دلته هم دڅو خرڅ سوو کسانو پوسيله ډير تلاش وسو چې اقليتونه د پښتنو پخلاف راوپاروي او ورسره ويې جنګوي خو دافغانستان شريفو او نجيبو قومونو دا ستعمار داتوطئه تراوسه کاميابۍ ته نده پرې ايښې او په هيڅ ځای کې دقومونو ترمنځ جګړه نسته. د وخت په تيرېدو سره به داشغال پرضد مقاومت پدې قادر سي چې ټول ولس د خارجيانو پخلاف متحد، راپورته او منسجم کړي. علاوتاً، په عراق کې هيڅوک د امريکايانو پخلاف مخامخ نه جنګيږي بلکه ډير تلفات د سړک دغاړې بمان او انفجارات کوي. پداسې حال کې چې په افغانستان کې په سوو طالبان مخامخ د ناټو دعسکرو سره جنګيږي. په عراق کې هيڅ سيمه په زور جنګياليو نده نيولې او خپل حکومت يې ندی پر کړي خو په افغانستان کې همدا اوس ډيرې سيمې د طالبانو په لاس کې دي او عملاً حکم پر چلوي. که جنګ اوږد سي مخالفين به نوره او ښه وسله پيدا کړي چې د ناټو لپاره به جدي خطر وي. اوباما د افغانستان لپاره دجنګ دپايته رسيدو نوې ستراتيجي نلري او د بوش پر لار ځي. خو ددې لپاره چې دخلکو (دخپل حزب په شمول) له انتقاده ځان خلاص کړي، داسې ښئي چې پر زړو لارو ندی روان. د امريکا ددفاع

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزارت چې دافغانستان دجنګ ستراتیجي یې دبوش په وختکې جوړه کړېده توقع لري چې د اوباما لخوا د اشخاصو په تغییر سره به ددوی دغه روانه ستراتیجي تطبیق سي نو ځکه د اوباما سره سر ښوروي. خو په حقیقت کې دوی ټول ځان دتباهۍ کندې ته بیايي. پدې ترتیب لکه افغانستان چې نورو اشغالګرانو ونه خوړلای سوای امریکا به یې هم ونه خوړلای سي. تاریخ ښوولې ده چې دا مهمه نده چې استعمارګر افغانستان ته څنګه ننوزي بلکه دا مهمه ده چې څنګه ځینې وزي.

خو په افغانستان او نړیواله ټولنه کې یو شمیر پالیسي جوړونکي خوشبینه او پدې عقیده دي چې په افغانستان کې د تیرو ۸ کلو په موده کې ډیر پرمختګ سوی او ژر به موجود مقاومت مات او دا هیواد به یو دموکراتیک اباد مملکت سي. مګر دنړیوالي ټولنې یو شمیر ډیر مهم څیړونکي بیا پدغه استدلال قانع ندي او وائي چې دکابل حکومت او نړیواله ټولنه دهغو وعدو په سرته رسولو کې پاته راغلیدي کوم چې دافغان ولس سره ئې کړېوې. دوی وايي چې دکابل حکومت او ناټو په افغانستان کې همدا اوس ناکامه ده؛ که نه، نو د ناکامۍ به څه معیار وي؟ کله چې دناټو هیوادو ولسونه ویني چې ددوی زامن وژل کیږي او دتندي په خولو ګټلې پیسې یې په افغانستان کې خوشې ځي، دوی دخپلو حکومتونو څخه سؤال کوي چې ددوی دناکامۍ کوم معیارونه دي چې په افغانستان کې اوس نسته؟ او که معیار نه وي بیا خو یې مشران سرګیچه دي او دوطن بیچاره زامن او پیسې دخپلو موهومو بلند پروازیو لپاره په هدر قرباني کوي. دوی وائي زموږ مشران هغه سوختي قماربازانو ته ورته دي چې دګټلو په امید خپل ځان له حلالو خلاصوي. دافغان عسکرو او پولیسو حال تردغه هم بدتر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریمه ډله څیړونکي استدلال کوي چې بدون شک په افغانستان کې څه کار سويدي خو قانع کوونکي او مشوق ندي. دوی وائي چې که موجوده وضع دوام وکړي نو په افغانستان کې دنړیوالې ټولنې ماته یقیني ده. ژر باید یو کار وسي چې دغه دماتې خواته روان جریان و مثبتې خواته واړوي. دا ډله څیړونکي مأیوس ندي او هیله لري چې نړیواله ټولنه د مخالفینو او هم دهیواد په داخل او خارج کې دهغو کسانو سره چې دکابل دحکومت سره نه جنګیږي خو په اوسنۍ وضع هم راضي ندي دمفاهمې ور پرانیزي. همدا راز، باایمان او وطندوسته افغانان باید دخپلو وطنوالو په وړاندې نور بیتفاوته پاته نسي او یوازې په شکایت دزړه سوده ونکړي بلکه عملاً دوطن دازادۍ او دخپلو خلکو دتباهۍ دمخنیوي په خاطر پر یوه پلتفورم راټول او وطنوالو او نړیوالوته دمشکل دحل بدیل وړاندې او دټولو لپاره دهیلو یوه مرجع سي. افغانان تردرې لسیزو زیات کافي وځورول سول او دځینو داخلي او خارجي حلقو دمفاداتو لپاره ددې مظلوم ملت نور زورول دتحمل وړ ندي. ددې تراژیدۍ دوام که په هرسیاسي، مذهبي، قومي یا نړیوال ملحوظ وي یو ډیرغیرانساني عمل او لویه نامردي ده. د سیمې او نړیوالو طاقتونو مشروع ګټې باید دافغانانو دګټو سره هماهنګې سي. اوس هم موږ فرصت لرو چې یوه همږغې او منسجمه ستراتیژي چې په عمل کې ښه نتیجه ورکړي طرحه کړو چې دهغه په برکت افغانان وتوانیږي چې یو مستقر، فعال، دګاونډیانو دوست او دنړیوالې ټولنې قابل اعتماد انډیوال دولت جوړ کړي.

دافغانستان ددولت دمخالفینو سره دملل متحد یا ناټو مخامخ خبرې د عدم اعتماد او ځینو نورو ملحوظاتو په وجه ښائي مطلوبه نتیجه ورنکړي. خو هغه یوه او ازمویلي افغانان ښائي له بحران څخه د افغانستان دراوتلو لارې چارې پیدا کړي کوم چې دامریکا دنظامي کمپین او په کابل کې دهغو

www.hewad.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دملګرو او دمسلحو مخالفینو دکړیو غړي نه دي بلکه تل ئې دوطن او اسلام دګټو دفاع کړې او دټولو اړخونو دسالمو عناصرو سره يې ښه روابط ساتلي دي. څرنګه چې د افغانستان موجوده بحران نړیوالو مداخلو خلق کړیدی نو دعملي قدم پحيث اول نړیواله ټولنه وظیفه لري چې پدې لارکې يو مثبت قدم واخلي. دوهم او حتی اول دافغانانو وظیفه ده چې دخپل نجات لپاره سره راټول او دخپلو وطنوالو او نړیوالې ټولنې سره دبحران دحل په لارکې مرسته وکړي. موږ ټول باید په افغانانو کې يو داسې شخص یا ډله ولټوو چې پورتنې خصوصیات ولري، افغانان ئې په بد نوم ونه پیژني، دطالبانو، مجاهدینو او نورو وطندوستانو سره ئې اړیکې بدې نه وي، د سیمې هیوادونه ترې ونه ویریږي او نړیواله ټولنه ورسره کار وکړایسي او ورڅخه وغوښتل سي چې دموجوده بحران د حل په لار کې يو مثبت کردار اداء کړي.

څرنګه چې دافغانانو موجوده کړاؤنه تر ډېره حده دبهرنیو قوتونو دمداخلو نتیجه ده نو دا دنړیوالې ټولنې فرض دي چې ددغه کړاؤنو په ختمولو کې مرسته وکړي. نړیوالې مرستې باید دیوې معینې مرسته کوونکې ادارې لخوا تنظیم سي او هرهیواد لکه اوس اجازه ونلري چې هرچیرې او هرڅومره چې ئې خوښه وي پیسې مصرف کړي. مرسته سوې پیسې باید ددولت د پنځه کلن پلان په چوکات کې دافغانستان د بیارغونې لپاره ولګول سي. دا پلان باید مارشال پلان ته ورته وي دکوم دعملي کیدو چې ښاغلو بوش او بلیر وعدې کړیدي. د لومړي پنځه کلن پلان په تطبیق سره به افغان دولت تر ډېره حده دخپلو خلکو او نړیوالو هغه باور ترلاسه کړي چې داهیواد سمې خواته روان دی، امن او عدالت به تأمین سي، اقتصاد به وده وکړي او نړیوال رقابتي بازار ته به لار پرانیزي. دا وخت به افغانستان د نړیوالې ټولنې يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثبت غړی وي او د سیمې په استقرار او د مخدره موادو د تولید او قاچاق په مخنیوي کې به معتنابه کردار ادا کړای سي.

## دافغانستان د بحران سیاسي حل

زما یقین دی لکه پخوا چې انګریزي استعمار او ورپسې روسي ښکیلاک کامیاب نسو، داسې به امریکا هم نه بریالی کیږي. همدااوس دامریکا جمهور رئیس وایي چې موږ په افغانستان کې نسو کامیابیدای او د ناټو مشر وایي چې جنګ دحل لار نده. سؤال دادی چې که جنګ د حل لار نده او امریکا به حتماً وځي نو بیا به څه کیږي او پرځای به یې څه ډول حکومت وي؟ موږ ډیر ځله جنګ په ډیرو قربانیو ګټلی دی خو دا ګټه مو بیا خپله نده سمباله کړې؛ او دغه سبب دی چې لږ وډیر هر ځلو ښت کاله پرموږ بیا یو تباه کوونکی جنګ تحمیل سویدی. موږ اکثره پدې نه یو توانیدلی چې یو مخلص او ولس ته وفادار قیادت ولرو؛ خپلی ګټې تعریف کړو؛ د ګاونډیانو ګټې او په سیمه کې د لویو طاقتونو ګټې وپیژنو او بیا د ګاونډیانو او په سیمه کې د لویو قدرتونو مصالح دخپلو ګټو سره موازي او هم اهنګ کړو؛ یا لږترلږه یې دخپلو ګټو سره له تصادمه وساتو. زموږ ددغو کمزوریو نتیجه ده چې له یو مصیبته لا خلاص نه یو پر بل اوړو. راسئ دخدای (ج) لپاره پر ځان، خپل راتلونکي نسل او وطن زړه وسوځوو او سره کښینو چې څنګه کولای سو ددغسې غمجن تاریخ د تکرار مخ ونیسو؟ راسئ په سړه سینه سوچ وکړو چې مطمئن سیاسي حل او باثباته مستقل دولت به کوم وي؟

یو کال دمخه (مئ ۲۰۰۸) کله چې زه د امریکا په سفر وم او راته معلومه سوه چې هرڅوک دامریکا جمهور رئیس سي هغه به افغانستان ته ډیر عسکر استوي، جنګ به پراخوي او تودوي (داځکه دا دامریکا ددولت پالیسي وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه د کوم حزب) نو مې سوچ وکړ چې څه باید وسي. دا جریان مې په تیر کتاب (دافغانستان د کړکیچ د حل لار) کې مفصل لیکلی دی. هغه وخت ما تصور کاوه چې غالباً به بارک اوباما بریالی کیږي داځکه چې د بوش او دده د حزب څخه امریکایان ډیر په تنګ سوی وه. ما ویل چې که اوباما بریالی سي معنی یې داده چې څلور کاله نور پر افغانانو تراوس شدید جنګ تحمیل دی. دا تصور مې هم کاوه چې اوباما به غالباً دوهمه دوره هم بریالی کیږي داځکه چې دامریکا سیاسي تاریخ او عنعنه داسې ده چې یو جمهور رئیس ډیر لږ پښو پاته نه وي بلکه دوره بیا انتخابیږي. بوش لاهم دوهمه دوره بریالی سو پداسې حال کې چې اوباما خو تر بوش ډیر تعلیمیافته او فعال سړی دی چې غالباً به دوهمه دوره هم جمهور رئیس سي. ددې خبرې دا معنی چې اته کاله نور به زموږ د خلکو قتل عام دوام لري. اته کاله وروسته چې کله دامریکا د جمهوري ریاست نوی کاندید شعار ورکړي چې که ماته رایه راکړئ زه به له افغانستانه فوج وباسم او په دغه شعار کامیاب سي. هغه هم سمدستي فوج نسي راایستلای بلکه کال دوه به اخلي. پدې حساب لس کاله نور پراخ او شدید جنګ زموږ پر مظلوم ولس تپلی دی او دټولې پرمختللي نړۍ وسلې به زموږ د منافقو او نامردو ګاونډیانو په همکارۍ پر موږ استعمالیږي. ما داهم معلومه کړه چې امریکا به کوښښ کوي چې پرطالبانو قاطع عسکري ضربات او ښه یې زمول کړي او بیا یې پخپلو شرایطو مذاکراتو ته وروغواړي. په شروطو کې به یو داوي چې موږ د معتدل طالب سره خبرې کوو او دافراطي طالبانو او تروریستانو سره نه؛ موږ د هغه چا سره خبرې کوو چې جنګ ردوي، په افغانستان کې زموږ روان دد موکراسۍ جریان مني او دالقاعده سره خپل تړاو شکوي. پدې ډول امریکا غواړي دخپلو مسلحو مخالفینو په منځکې تفرقه واچوي او دپخواني استعماري فارمول په اساس یې اول بیل کړي او بیا یې ایل کړي. ماته امریکایانو داخبره هم کړیده چې دوی د طالبانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـره مشــکل نلــري، ددوی مشــکل د القاعــده ســره دی؛ کــه طالبــان دالقاعــده ځخـه جـلا سـي نـو امریکایـان حاضـر دي خبـرې ورسـره وکـړي. ماورتـه وویـل یـو وخـت تاسـې کوښښ کـاوه چـې دا دواړه سـره یوځـای وي او اوس یـې سـره جـلا کـوئ. ددنیـا کارونـه داسـې نـدي چـې هروخـت دچـا زړه وغـواړي هغـه بـه کـولای سـي. اوس پـه افغانسـتان کـې نړیـوال جنـګ دی. تاسـې سـره اتـه دیـرش هیوادونـه نظـامي مرسـته کـوي او یـو شـمیر نـور مـو ملاتـړي دي. داسـې طالبـان هـم طبعـا نړیـوال مرسـتندویان لـري. تاسـې چـې ددنیـا یـو لـوی قـوت یاسـت بیـاهم پـدې جنـګ کـې لتویـا ، لتوانیـا او جورجیـا غونـدې کمـزوره هیوادونوتـه ځـان اړ بـولئ نـو طالبـان چـې کمـزوري دي ولـې بـه دنـورو مرسـته ردوی. ترڅـو اوسـنی جنګـي حالـت پـه افغانسـتان کـې نـه وی خـتم سـوی داسـې غوښـتنې عملـي نـدي بلکـه ښـائي طالبـان یـې پخپـل خـلاف دیـو دسیسـې پحیـث تلقـي کـړي. راسـئ ! اول اوسنی جنګـي حالـت پـه افغانسـتان کـې پایتـه ورسـوو؛ دا نـور مشـکلات پخپلـه کرار کـرار حـــلیږي.

داخبـره هـم مـا تکـراراً لـه بهرنیـانو اوریـدلې ده چـې دافغانسـتان پـه اسـتقرار او بیـا ودانولـوکې بایـد ګاونـډیانو تـه لـوی کـردار ورکـول سـي چـې دا دملګروملتـو دمؤسسـې پخـوانی موقـف هـم دی. پداسـې حـال کـې چـې افغانـان همدغـه نړیـوال ظلـم تبـاه کړیـدي چـې سرنوشـت یـې ګاونـډیانو او لویـو طاقتوتـه حوالـه سـویدی او خپلـه افغانـان چـا نـدي پـرې ایښـي چـې خپـل سرنوشـت پخپلـه وټـاکي. دغـه نړیـوال ظلـم دی چـې تـل ګاونـډیان اول دمرسـتې پـه نـوم راځـي بیـا دافغانسـتان پـه خـاوره کـې تردغـه نامـه لانـدي مضـر رقابتونـه کـوي، ورپسـې یـې دغـه رقابتونـه پـه سـیمه ایـزې دښـمنۍ اوړي او پـه بالوکالـه جنـګ بـدلیږي. دوی دافغانـانو سـره دمرسـتې ترنـوم لانـدې پـه افغانـانو کـې پخپلـو ملګـرو خپلـه نـامرده اجنډا مختـه بیائي او دخپلو افغانانو وروڼو سره ئې جنګوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې پرځای چې افغانستان تل دخپل جغرافیائي موقعیت قرباني وي، که فرصت ورکړه سي یقیناً به دا هیواد سیمې ته دثبات یو مهم عنصر وګرځي. داځکه افغانستان نه یوازې د اوبو ښې زیرمې او ډیر ګټور معدنونه لري چې د سیمې دهیوادو په هوسایني او پرمختګ کې ورڅخه کار اخیستل کیدای سي بلکه دا هیواد د مرکزي اسیا ، جنوبي اسیا ، چین، او خلیج ترمنځ د راکړې ورکړې مهم پل کیدای سي. یو ارام افغانستان د سیمې دثبات لپاره ډیر ګټور دی. تراوسه هروخت چې په افغانستان کې نا ارامي پیدا سوې یا چا پیدا کړېده نو ګاونډیانو او حتی نړیوالو ددغه اور څخه د ځان ساتلو لپاره په پلمه افغانستان ته ور دانګلیدي. خو څرنګه چې دوی پخپل منځکې جوړ ندي نو کله چې هغه اور څه قابو سویدی دوی هلته بیا دخپلمنځي رقابتونو اوربل کړیدی او پدې ډول یې افغانان په یو بل مدهش اور اړولي دي چې دهغه اور تاو هم همدغو اوربلوونکو ته رسیدلیدی. او بیا همدوی حیران وي چې خپل بل کړی اور څنګه مړ کړي. دا ورانونکی بحران هرڅو لسیزي وروسته بیا بیا راپیدا او تکراریږي، افغانان پکې سوځي او سیمه ناقراره کوي. زه توقع نلرم چې پرافغانانو دې د چا زړه وسوځي او پردې مظلوم او زوریدلي ولس دې څه رحم وسي. داځکه تراوسه داډول انساني ضمیر په چا کې پیدا نسو. خو وایم چې افغانستان د سیمې یوه مهمه برخه او د نړیوال کلي یو مهم کور دی چې نا ارامي یې هروخت ټول نا ارامه کړیدي. راسئ ټول لږ په سړه سینه غور وکړو چې زموږ ټولو خیر په څه کې دی او څنګه دبحرانونو دا شیطاني دائره ماتولای سو او ددې په عوض کې چې ناقرار افغانستان د سیمې او نړیوالو د ناقرارۍ سبب سي او یا ګاونډیان او نړیوال په افغانستان کې د عدم استقرار سبب سي، افغانستان د سیمې په ثبات او سوکالۍ کې مهم رول ولوبوي. هغه هیواد چې د سیمې او نړۍ د نا ارامۍ او عدم استقرار سبب کیدای سي دثبات او پرمختګ سبب کیدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې هم سي. افغانستان، د دیورند د خط هاخوا په قبائلي سیمو، د هندوستان په کشمیر او د مرکزي اسیا او ایران په ثبات کې مهم رول ادا کولای سي.

د غرب او زموږ د ګاونډیانو د عزائمو په نظر کې نیولو سره ما کال د مخه دا سوچ وکړ چې د جنګ په اوسني معادله او معضله کې افغانان چیرې دي؟ ایا موږ د کور مالکان هم یو څوک یو؟ ایا موږ هم په دغه معادله کې ځای لرو او په تعدیل او حل کې یې کوم کردار اداء کولای سو؟ هغه افغانان چې ځانو ته روشنفکر او سیاستپوه وائي چیرې دي چې وائي بیله موږ د افغانستان مشکل نه حلیږي؛ زموږ څخه چا پوښتنه نده کړې که نه او س به پر هیواد دا مصیبت نه وای. هغه کسان چې ځانو ته مغز متفکر او د ټولنې پیروی (کریم) وائي چیرې دي؟ فیصله مې وکړه چې ارام به نه کښینم، په دنیا به ګرځم او د هرهغه چا کور ته به ننواتې ورځم چې د وطن د خیر دفکر توقع ځینې کیږي. هغه ته به خپل د امریکا سفر، له سفره زما برداشت او د افغانستان حالات تشریح کوم او بیا به ورڅخه د وطن د نجات په منظور د بحران د سیاسي حل نسخه غواړم.

په واشنګتن کې مې خلک ولیدل، بیا مې لاس انجلس، سانفرانسسکو، شیکاګو، میشیګن، فلاډلفیا، نیویارک او ویرجینیا کې افغانان ولیدل او په کچکول کې مې څه راټول کړل. بیا مې هم هرچا ته خپل ادرس، تلفون او ایمیل ورکړ چې په مورد کې راسره په تماس کې سي او خپل نظریات را واستوي. کور کې مې کچکول خالي کړ او د اوارې د اروپا په سفر ووتم. په ناروې، سویډن، ډنمارک، جرمني، هالینډ، بلجیم، فرانسه او انګلیستان کې مې ډیر کسان ولیدل. د خپلې ورکې د موندلو په تلاښ کې چې چیرې چا یو پوه او د وطن په درد دردمن افغان یا ډله راښوولیده ورغلی یم. د اروپا د سفر کچکول مې هم کور کې خالي کړ او بیا د افغانستان او پاکستان په سفر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووتم. لو مړې پېښور ته ولاړم. هلته مې افغان مهاجرين او دجهادي تنظيمونو مهم کسان چې کابل ته نه وه تللي وليدل؛ کافي خبرې مې ورسره وکړې.

دتورخم له لارې افغانستان ته واوښتم. دجلال اباد پر لار يو شمير علماء کرام دقاري اسرار الله همېم په مشرۍ راته ولاړ وه او زه يې په بهسودو کې دهمېم صاحب مدرسې ته بوتلم. هلته مې واورېدل. که څه هم دننګرهار والي (ګل اغا شېرزي) مېلمه کړم او ډېر اخلاص او اصرار يې وکړ چې په دولتي ميلمستون کې واوسم خو ما قبوله نکړه او په مدرسه کې پاته سوم. ګل اغا شېرزي زما تحريک يو عاجل ضرورت وګاڼه او دهرراز مرستې وعده يې وکړه. په جلال اباد کې مې دپوهنتون د استادانو، ليکوالانو، علماؤ، پوهانو او قومي مشرانو سره وکتل. هغوی ته مې وويل چې په ورکه پسې ګرځم او ستاسو ټولو څخه مرسته غواړم. مرسته زما سره وکړئ، مرسته دځانو سره وکړئ او مرسته دخپلو مظلومو خلکو او وطن سره وکړئ. ما ويل چې دافغانستان دبحران دسياسي حل لپاره اول فکر او فارمول جوړول په کار دي؛ عملي کول او ملګري پيدا کول وروسته خبره ده. اول فارمول بايد جوړ سي چې څه بايد وسي؛ داشخاصو خبره وروسته ده. موږ اول نظام بايد جوړ کړو او بيا دهغه لپاره سړي وګورو. نبايد دسړو لپاره چوکۍ وتراشل سي. وروسته حاجي عبد القيوم مومند (مشهور په منګل حاجي) په ګرداب کې ميلمستيا کړې وه چې په هغه کې دمومندو دقام يو شمير مشرانو ګډون کړی وو. دهغو سره مې په پښتني جرګه کې دخپلې ورکې موضوع مطرح کړه. خبرې ګټورې وې. وروسته دهمدې قومي مشرانو په بدرګه کابل ته ولاړم او هلته په نوې کارته کې دهغوی په ځای کې ديره سوم. کابل کې مې جمهور رئيس (حامد کرزی)، يو شمير وزيران، واليان، د شورې وکيلان، دپوهنتون استادان، ليکوالان، پوهان، قومي مخور، دجهاد رهبران، دحزب اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او طالبانو پخواني مشران وليدل او مفصل مجلسونه مې ورسره وکړه. وروسته کندهار ته ولاړم او هلته مې ځينې مهم کسان وليدل. بيا کوئټې ته ولاړم او افغان مهاجرين مې وليدل. ټولو ته مې همدا سؤال مطرح کړ چې د افغانستان دبحران حل په څه کې دی؟ هرچا ويل جنګ يې د حل لار نده. امريکايان په جنګ ميدان نسي وړای. ددوی ډيريو ويل چې مخالفين هم مزاحمت کولای سي خو دګاونډيانو او نړيوالو څخه ارام حکومت نسي کولای. ما په هرځای کې هريوه ته همدا خبره کړيده چې که جنګ بحران نسي حلولای نو دمسئلې سياسي حل به کوم وي؟هغه به کوم حل وي چې پر لاندې بينادونو ولاړ او دغه يې اساسي نکات وي:

١. افغانستان اوس اشغال دی او دا اشغال څرنګه ژرترژره رفع کيدای سي؟

٢. په افغانستان کې څه ډول يو حکومت بايد راسي چې اکثريت يې خپل وګڼي او ملاتړ يې وکړي خو کوم کسان او لړکي چې يې خپل نه ګڼي دومره ځان محروم احساس نکړي چې ټوپک پسې راواخلي. په امريکا ، انګليستان، فرانسه او نورو پرمختللو هيوادو کې هغه ډله چې په انتخاباتو کې بريالۍ کيږي حکومت جوړوي او مخالفينو ته په حکومت کې ځای نه ورکوي خو هغوی توپک نه پسې وراخلي بلکه موقع ورکوي چې کار وکړي. دافغانستان موجوده نظام ځکه ناکام دی چې ددولت منصبونه داهليت، لياقت، مؤثريت، احتساب او شفافيت پربنياد ندي توزيع سوي بلکه داستعماري ګټو په حکم پر قوم، ژبه، نژاد او دتوپک پرشمير او پردوته دخدمت په اندازه ويشل سويدي. سربيره پردې، دتيرو ديرشو کلو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



موده کې د زمامدارانو قوت د خلکو په توهين، ازارولو، شړلو، وژلو او بمبارولو کې استعمال سويدی چې بده نتيجه ئې ټول وينو. ديوه داسې نظام راتلو ته بايد کار وسي چې د اسلافو دغه پاليسي بدله کړي؛ کار واهل ته وسپاري او ځان ولس ته ورسوي؛ راتلونکی افغان دولت بايد ولس ته د هغوی د مستقبل يو روښانه تصور او هغه ته د رسيدو واضح کړنلاره ورکړي او د ځان سره يې په خوشحالۍ او اميد ديو هوسا او پرمختللي افغانستان لپاره ملګري کړي.

۳. موږ په داسې يو سيمه کې پراته يو چې ګاونډيان مو حريص، منافق، د اسلام ترنامه لاندې نامسلمان او نامرد دي. خو د بد ګاونډي سره به هم څوک د ګذارې لار مومي. د ډپلوماسۍ اهميت په همدغه کې او مهارت يې همدلته دی. څنګه کيدای سي چې زموږ په هيواد کې د ګاونډيانو مضر رقابت او بالوکاله جنګ په همکارۍ بدل سي؟ او يا لږترلږه په ټکر کې نه وي. که د کوم ګاونډي سره دوستانه اړيکې نسو ټينګولای نو کم تر کمه عادي روابط خو ورسره ولرو؟ له شره يې څنګه ځان ساتلای سو؟

۴. موږ پداسې حال کې چې د چا غلامي نه منو، د نړيوال کلي يوه برخه او د مسؤليت په احساس سره د نړيوالې ټولنې يو باوري انډيوال يو. افغانستان د دوستانه اړيکو په درلودلو سره د نړيوالې ټولنې يو فعال غړی او بزنس پارټنر دی. هغه به څنګه دولت وي چې وخپل ولس ته مخلص او د هيواد لوړې ګټې تعريف کړي؟ او څنګه کولای سي چې په سيمه کې د ګاونډيو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دنړۍ د لويو طاقتونو مشروع ګټې تشخيص او د افغانستان دګټو سره يې همږغي کړي؟ موږ څنګه ګاونډيان او نړيوال مطمئنولای سو چې دچا امن او ترقی ته تهديد نه يو خو په موږ کې دنورو مداخله هم قطعاً نسو زغملای او عواقب به يې دوی ته وخيم وي.

افغانستان ډير مهم ستراتيژک موقعيت لري چې د مرکزي اسيا، جنوبي اسيا، چين، ايران او خليج په منځکې پروت دی. افغانستان که مستقر وي د سيمې په ثبات او ازدهار کې لوی مثبت رول لوبولای سي. او دا هيواد هغه وخت مستقر کيدای سي چې بيطرف وي. افغانستان هغه وخت افغانانو او نوروته د سر درد سويدی چې بيطرفي يې خرابه سويده. په ۱۹مه پيړۍ کې برتانويانو، په شلمه پيړۍ کې روسانو، ورسته دافغانستان ګاونډيانو او د ۲۱ مې پيړۍ په سرکې د امريکا مداخلو افغانستان او سيمه دبحران سره مخ کړه. حتی غيردولتي او انفرادي مداخلاتو او مليشوته پناه ورکولو هم افغانستان او سيمه بحراني کړه. دافغانستان بقاء په بيطرفۍ کښې ده چې دګاونډيانو سره ښه روابط ولري او د نړيوالې ټولنې اندېيوال وي.

افغانستان او پاکستان ته دسفر په جريان کې مې ددولت دمسلحو مخالفينو مهم مشران چې پټ وه هم وليدل. هغوی ته مې وويل چې جنګ وسيله ده او هدف ندی. جنګونه بالاخره په مذاکراتو او سياسي حل ختميږي. ديوې داسې مخلصې سياسي هستې اهم ضرورت دی چې دغه لوري ته کار وکړي. هغوی ته مې واضح وويل چې زموږ دسياسي حل تلاښ بايد په هيڅ وجه د روان

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظامي مقاومت د کمزورولو په منظور نه وي بلکه ديوه داسې سياسي جبهې جوړول وي چې د اشغال ورځې ورلنډې کړي؛ هيواد او اشغالګر ټول له موجوده مصيبته خلاص کړي. دلته بايد هغه کسان او عناصر د وطن د نجات لپاره منسجم سي کوم چې اوس لکه څنګه چې لازمه ده فعال ندي. هرچاته بايد روښانه وي چې زموږ تحريک د مسلح مقاومت برخه نده خو په مقابل کې يې هم نه يو ولاړ. غازيانو ته مې دا هم ورياده کړه چې د جهاد په دوران کې موږ ترتاسې ډير ولسي ملاتړ درلود ، ګاونډي هيوادونه زموږ ملګري وه کوم چې اوس ستاسې پخلاف دامريکا ملګري دي، اسلامي دنيا زموږ سره وه او په هرجومات کې پنځه وخته دعاء راته کيده (تاسې ته اوس په کعبه مبارکه کې هم دعاء نه کيږي)؛ غربي نړۍ هم زموږ ترشا ولاړه وه کوم چې اوس ټول تاسې سره په جنګ دي. ددې ټولو امتيازاتو سره چې دروس پخلاف زموږ جهاد درلودل بيا هم چې کله وخت راورسيد زموږ دوستان او دښمنان سره کښينستل او د جهاد دبري مخ يې ونيو. کيداى سي يوه مرحله راسي چې ستاسې اوسني ملاتړي او دښمنان دواړه ستاسې په غياب کې سره کښيني او تاسې ته ووايي چې وظيفه مو خلاصه سوه؛ تاسې لرګی واست او زموږ ديګ دربانديې پوخ سو. زما يقين دى ستاسې څخه به ددې ډيرو قربانيو منته هم ستاسې اوسني دوستان ونکړي او ممکن په ګډه داسې ناروا ټاپه دربانديې ولګوي چې کلونه يې بيا په پاکيدو حيران ياست. ددغسې يو حالت په فکر کې بايد ياست او ديو معقول سياسي حل طرحه بايد تل درسره وی.

د سفر په اخيره کې په اسلام اباد کې وم او له هغه ځايه د کراچی پرلار لندن ته تلم. اسلام اباد کې د پاکستاني مقاماتو سره خبرو کولو ته تيار نه وم داځکه زما ورکه لا نه وه پيدا او ما هغوته دويلو منسجم څه نه درلوده. يوازې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پالیسي مطالعاتو انستیتوت ته زما دافغان کوربه په اصرار ورغلم. هغو ته مې وویل چې پاکستان یوه ډیره خطرناکه بازي روانه کړیده؛ نه معلومیږي چې څومره به دوام وکړي او نتیجه به یې څه وي. تاسې له یوې خوا دامریکا ملګري یاست خو له بلې خوا دامریکا دمسلحو مخالفینو سره هم مرسته کوئ. دمخالفینو یو شمیر مشران په پاکستان کې ګرځي خو دګوانتانامو، بګرام او کندهار زندانونه هم تاسې په دوی ډک کړیدي او له قفسه یې دتقاضا په وختکې خریدار ته په لاس ورکوئ. دابه ترکله ادامه پیدا کوي؟ ستاسې دهمدغه دوه مخې پالیسۍ په وجه امریکا درڅخه راضي نده او وائي کافي همکاري نه کوئ، دکابل دولت خو په جار سردرڅخه ټکوي، طالبان هم ناراضه دي او دافغانستان ملت هم شاکي دی. دابه ترکله؟ دجهاد په وختکې هم تاسې تر نورو هیوادو ډیره قرباني ورکړه؛ په سختو شرائطو کې مو دجهاد ملاتړ وکړ او ملیونو افغان مهاجرینو ته مو په نره پناه ورکړه. خو دجهاد په نتیجه کې نه تاسې او نه افغان مجاهدینو ستاسې دناسمې پالیسۍ په سبب دخپلو قربانیو ثمره ولیده. داولې؟ په سیمه کې داسې هیوادونه سته چې ستاسې په نسبت یې نه دجهاد ملاتړ کاوه او نه اوس ستاسې پشان دامریکا ملګري دي خو ترتاسې اوس هم امریکاته محترم او ستاسې په نسبت په سیمه کې په ګټه او په قضایاؤ کې ترتاسې په مراتبو ډیر مطرح دي. داولې؟ تاسې باید پردغه موضوع جدي غور وکړئ. لکه افغانان چې تاسې ته اړ دي داسې تاسې هم دوی ته اړ یاست. راسئ په افغانستان کې دګاونډیانو مضر رقابت او بالوکاله جنګ په تعمیري سلوک بدل کړو چې دټولو په ګټه دی. که افغانستان دسیمې دنا ارامۍ سبب کیدای سې د ثبات وسیله ئې هم کیدای سي. خصوصاً دپاکستان دثبات لپاره افغانستان ډیر مهم کردار اداء کولای سي. راسئ ! دتخریب پرځای دمسئلې پر تعمیري اړخونو فکر وکړو. افغانانو ته موقع ورکړئ چې په سیمه کې خپل موقعیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشغال او د سیمې په ثبات او پرمختګ کې تعمیري کردار اداء کړي. دانستیتوت کسانو ډیر غوښتل چې زه د پاکستاني مقاماتو سره وګورم خو زه تیار نه وم او کور ته راغلم.

دافغانستان او پاکستان د سفرکچکول مې هم کورته راوړ او د هغه نورو کچکولونو سره مې یوځای کړ. پدې ډول مې دځلورو نکاتو پر بناء و افغانستان ته د یو جامع سیاسي حل دپیدا کیدو په لټه تر دیرش زره کیلومتره ډیر سفروکړ، دډیرو افغانانو دروازو ته ودریدم او ټولو ته مې کچکول ونیو چې(ددلبرو صدقې لره ئې غواړم –هسې نه چې په دنیا پسې دلګیر یم). ګل بې خاره نه وي. د سفر په جریان کې مې دیوشمیر کسانو څخه ناخوالې هم اوریدلې دي خو زه دخپلې ورکې ملنګ وم او ملنګ که پخپل کور کې هرڅوک وی، چې کچکول یې په ځنګ کړ بیا غرور نلري دهرچا دروازې ته په طمع دریږي. څوک یې په کچکول کې څه وراچوي، څوک جواب ورکوي، څوک طعنه او لغاز ورته وائي او ځینې وخت یې حتی ماشومان او لاوبالـه کسان ازاروي هم. زما (دقوم دملنګ) همدا حال وو. دډیرو هغو کسانو څخه ناهیله ولاړم چې هیله تري کیده مګر هغو بیا څه راکړل چې چا په شمیر کې نه راوستل.

ټوله شپه څراغ په لاس کې ګرځیدمه کور په کور
چې پیدا کړمه دې ښار کې کوم یو کور دی کوم یو ګور

چې معلوم کړم چا بل کړي دي تورتم کې څراغونه
څوک دمرګ په خوب ویده دي شاته کړي یې غمونه

هدیره راته ښکاره سوه ټوله ښار له بده بخته
هغه کور چې چا باله به هغه ګور وو لادوخته

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې بیـــدار وو هغه غـــل وو، یا نشـــه تللی له ځانه
له کـــــورو همدوی راوتي، ناارامـــه، پریشانه
یـــو ناڅـــا په مـــــې نظـــر سو پر کړکۍ دیوه کور

.................................................................................................

پـه کچکولـونـو کـې راټـول سـوي معلومـات مـې تنظیم کـړل او د یـو وړانـدیز خاکـه مـې ورڅخـه ترتیـب کـړه. دا پـه حقیقـت کـې زمـوږ د خلکـو داکثریـت نظـر دی. طرحـه دهیڅـا موقـف سـل پـه سـلو کـې نـه تمثیلـوي خـو دهرچـا څـه پکښـې سـته او پـه لـږ ګذشـت اویـا فشـار دتوافـق سـبب کیـدای سـي؛ کـار ورتـه پـه کـار دی خـو جدي کار.

د سفرونو پـه نتیجـه کـې مـې دورکـې د پیـدا کیـدو ترڅنـګ ځینـې نـورې ګټـې هـم وکـړې او هغـه دا اول مـې خلـک او ملګـري وپیژنـدل او بـل مـې د خپـل ولـس پـر شـرافت، عالیجنـابی او درونـد توب نـورهم یقیـن پـوخ سـو. بیشـکه، دا عظـیم قـوم دهـر چوپـړ مسـتحق دی. کـه څـوک یـو قـدم ددوی پـر لـور صـادقانه واخلـي دوی څـو قدمـه ورتـه لبیـک وائـي. دوی همدا اسـې د انځـر ګلانـو تـه سـترګی پـه لاره دي. پـه سـفر کـې مـې دتعلیمیافتـه طبقـې څخـه ګیلـه وسـوه چـې لـه ولسـه ډیرغـواړي او لـږ ورکـوي. چـې څـومره بـه ډیـر تعلیمیافتـه وو هغـومره بـه یـې تقاضا ډیره او دخدمت عرضه به یې کمه وه.

پـه پـای کـې دادی ستاسـو محترمـو مـخ تـه دخپلـو سـفرونو او هلوځلـو نځـوړ (د افغانسـتان دبحـران د سیاسـي حـل د وړانـدیز خاکـه) ایـږدم. پـه غـور یـې ولـولئ او دلاندې نکاتو په مورد کې لطفاً خپل نظر راکړئ؛ دځواب مو منتظر یم.

- دغه وړاندیز (فارمول) اصلاح کړئ څو نهائي شکل واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دغــه وړانـدیز څنګـه عملي کیـدای سـي؟ عملـي لار بـه یـې کومـه وي؟. (ترهرڅـه اول فکـر جوړول پکـار دي. چـې فکـر جـوړ سـو بیـا پـه عمـل کـې دهغــه د پیــاده کولــو ضــرورت دی. پــه رود چــې څــوک ګــډ یږي ګــودر بــه ګـوري. اوس چـې فکـر جـوړ او فـارمول پیـدا سـو ؛ سـوچ پـه کـار دی چـې څنګه عملي سي).
- ستاسـو پــه فکـر پردغــه لار څـوک تـلای سـي؟ نومـان یـې کـوم دي؟.(کلـه چـې فکـر جوړ او دریـاب تـه د ورګډیـدو ګـودر معلـوم سـو نـو بیـا همفکـره ملګـري پیـدا کـول پـه کـار دي چـې دنجـات سـاحل تـه دا کښـتۍ پـه ګـډه پورې باسي؛ دا دیوه سړی کار ندی بلکه ډله ایز تکل غواړي).

درناوي

دکتور فاروق أعظم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

# د افغانستان د بحران سیاسي حل

۱۰ فبروري ۲۰۰۹

د افغانستان د اساسي قانون د ۲۴ مادې د حکم په اساس دې د راتلونکو انتخاباتو پر ځای لویه جرګه په لاندې ډول راوبلل سي:

## الف. د افغانانو د خپلمنځي خبرو پیل:

۱. د باور فضاء رامنځته کول: د دایمي سولې په منظور د خبرو تر پیل د مخه د متخاصمو ډلو ترمنځ د باور د فضاء رامنځته کیده ضرور دي؛ په نشراتو کې دې یو د بل خلاف مضر تبلیغات بندول او په عوض کې د پخلاینې خبرې کول.

۲. د متخاصمو ډلو ترمنځ دې د تفاهم په منظور بیطرفه او د خیر خلک وګرځي.

www.hewad.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. دحسن نيت د ښوولو لپاره د يو شمير بنديانو خوشې کول.

۴. يوپربل دتورونو اخيستل او پر سرونو د جايزو لغو کول.

۵. د اوربند اعلان. د اوربند ثارنه يو ګډ کميسون کوي او دواړه خواوې کميسون ته د دندې د اجراء لپاره سرې او لازم امکانات برابروي.

## ب. لويه جرګه:

- د افغانانو، ګاونډيانو او نړيوالو سره تر تفاهم وروروسته، اسلامي کنفرانس ديوې بين الافغاني جرګګۍ له جوړيدو سره مرسته کوي چې د لويې جرګې دجوړيدو او رابللو لپاره کړنلاره جوړه کړي.

- لويه جرګه دافغاني ټولو متخاصمو، مطرح، معتنابه ډلو او پوهو شخصيتونو له منځ څخه داسلامي کنفرانس په مرسته رابلل کيږي. د لوئې جرګې په درشل کې ټول سياسي بنديان خوشې کيږي. اوربند دوام لري او وسله والو مخالفينو ته په سياسي پروسه کې دځای ورکولو له لارې جګړه عملاً ختميږي.

- د سولې ابتکار ته د لارې د هواريدو په منظور لويه جرګه په اوسني اساسي قانون کې لازم تعديلات راولي او د افغانانو ترمنځ د يو آزاد، آرام او پرمختلونکي افغانستان لپاره په يوه روښانه فضاء کې مستقيمې او غير مشروطې خبرې پيلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- لویه جرګه د خپلمنځي تفاهم په نتیجه کې د هیواد لپاره قیادت تثبیتوي او یو بیطرف شخص د حکومت په جوړولو چې ټولو جنګي خواوو ته قابل قبول وي مکلفوي. د دولت موجوده رئیس خپله چوکۍ او صلاحیتونه د لوئې جرګې په مخکې ورد غه منتخب شخص ته سپاري او هغه پخپل وار و اسلام، هیواد او اساسي قانون ته د تعهد او وفادارۍ لوړه کوي.

- د لوئې جرګې د غړو لخوا د دولت و نوي مشر ته په اسلامي طریقه تر بیعت ورسته لویه جرګه رخصتیږي او پرخپل ځای د هر ولایت څخه دري تنه نمایندګان پریږدي (دیني عالم، قومي مشر او د عصري علومو تعلیم یافته) چې د ولسي جرګې وظیفه اجراء کړي. د دولت نوی رئیس خپله کابینه د غه ممثلی ولسي جرګې ته د اعتماد د رائې د اخیستو لپاره معرفي کوي.

## ج. حکومت:

- انتقالي حکومت ملي وحدت ته متعهد او د ناپییلو او مسلکی کارپوهانو څخه جوړ دی.

- انتقالي دوره دري کاله ده.

- انتقالي حکومت ائتلافي ندی؛ مشر او د حکومت غړي یې د کوم هیواد یا افغاني ډلې نمایندګي نکوي خو د چاسره د ښمني هم نلري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددولت واک دچا یا ډلې یا کوم هیواد پرضد نه استعمالیږي بلکه دافغانستان دعلیا ګټو په خدمت کې دي.

- دافغانستان دولت تعهد کوي چې د نورو هیوادو په داخلي چارو کې مداخله نکوي او اجازه نه ورکوي چې خاوره یې د نورو پرضد استعمال سي. او کوښښ کوي د سیمې او نړۍ په ثبات او پرمختګ کې لازم مثبت رول ولوبوي.
- د افغانستان ګاونډیان ددغه هیواد په داخلي چارو کې د عدم مداخلت تعهد کوي او د م. م. د امنیت شوری ددوی دغه تعهد تضمینوي او پرهغه هیواد تعذیرات لګوي چې په راتلونکې کې د افغانستان په چارو کې مداخله کوي.
- افغانستان دیو ازاد هیواد په توګه دنړیوالې ټولنې یو فعال غړی دی. د ملګرو ملتو مؤسسه انتقالي دولت په رسمیت پیژني او د هغه ملاتړ کوي.
- انتقالي حکومت د هیواد د استقرار او پرمختګ لپاره پنځه کلن انکشافي پلان جوړوي او نړیواله ټولنه تعهد کوي چې افغانستان ته خپلې اقتصادي مرستې جاري ساتي.
- خارجي پوځونه د یوکال په موده کې له افغانستانه وځي. ناټو د افغانستان فوج ته هغه مځکني او هوائي حربي وسایل پریږدي چې دداخلي امن لپاره ضرور دي. دناټو دفوجونو ځای اسلامي فوج نیسي چې په هغه کې ګاونډیان او هغه هیوادونه شامل ندي چې اوس په افغانستان کې فوج لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په ایران او پاکستان کې ټول مهاجرین د دوو کالو په موده کې د م. م. د مؤسسې په مرسته افغانستان ته ستنیږي او داخلي بیځایه سوې کورنۍ ځای پرځای کیږي.

- انتقالي دولت ټوله غیرمجازه وسله له افغانانو ټولوي او بهرني مسلح افراد او ګروپونه له افغانستانه رخصتوي. که څوک پاتیږي د دولت او نړیوالو مقرراتو مطابق د مهاجر په ډول معامله ورسره کیږي.

- افغانستان یو اسلامي هیواد او د اسلامي امت یوه برخه ده. د اسلامي کنفرانس په مرسته د اسلامي نړۍ د معتبرو علماؤ یوه ډله د افغاني علماؤ سره انتقالي حکومت ته په ځینو مهمو اسلامي مسائلو کې مشوره ورکوي لکه د ښځو تعلیم، کار او حجاب ئې، د عصري علومو زده کړه، د عصري الاتو لکه د رادیو، تلویزیون، ... استعمال او داسې نور مسائل. چاته باید اجازه ورنکول سي چې د پیشرفت په نوم د اسلام حنیف دین تخریب کړي او یائې د ټولنې د پرمختګ په لار کې خنډ کړي.

- انتقالي حکومت د خپلې دورې په دریم کال کې چې خارجي قواوې وتلې، وسلې ټولې سوې او اکثره مهاجر او بیځایه سوې کورنۍ پرځای سوې وي اساسي قانون تدوین او د لوئې جرګې په تصویب یې رسوي.

- انتقالي حکومت په اخیرو شپږو میاشتو کې د اساسي قانون مطابق د اسلامي کنفرانس او ملګرو ملتو په مرسته د دولت د مشر او شورى

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره انتخابات کوي او د خپلې دورې په پای کې واک ونوي منتخب مشر ته سپاري.

- د انتقالي دورې رئیس او وزیران په راتلونکې لومړنۍ دوره کې د دولت د ریاست او یا وزارت دنده نسي ترسره کولای.

ومن الله توفیق

================

www.hewad.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**